# د وزیرستان ژاغ

## د سویلي وزیرستان د شاعرانو ګډ اواز

ترتیب او ټولونه : نورعالم ماسید

کال ۲۰۲۶م

Ketabton.com

سویلي وزیرستان ، لدها (کلی ، ګاډاوی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د وزیرستان هغو زړور شاعرانو ته...
چې د بارودو په لوګیو کې یې هم د شعر مشعل مړ کېدو ته پرې نه ښود،
او د خپلې خاورې درد یې د قلم په ژبه تر نړۍ ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

وزیرستان زموږ د هغه غرو وطن دی چې د تورو او مېړانې تر څنګ پکې د مینې او شاعرۍ نغمې هم ډېرې دي. د دې خاورې په هر کلي او هره دره کې داسې شاعران شته چې د خپل زړه حال په ډېر خوندور انداز کې بیانوي.

ما وغوښتل چې د وزیرستان د ټولو شاعرانو یو یو غزل راټول کړم، تر څو دا خواره واره غږونه د "وزیرستان غږ" تر نوم لاندې په یو کتاب کې یو ځای شي. دا کتاب یوازې د پاڼو ټولګه نه ده، بلکې دا زموږ د خاورې د روح او زموږ د پښتونولي یو انځور دی.

دا غزلونه ما یو یو له فېسبوک نه راټول کړي دي، ځکه زموږ ډېرو ملګرو خپل شعرونه هلته خوندي کړي وو. ما وویل داسې نه چې دا ښکلي کلامونه د وخت په تېرېدو ورک شي، نو ځکه مې په یو ځای کې راټول کړل چې زموږ راتلونکي نسلونه پرې خبر شي. پدې کتاب کې مې کوشش کړی چې هم د وزیرستان په خپله خوږه لهجه کې لیکلي شعرونه راوړم او هم هغه چې په عامه معیاري پښتو لیکل شوي دي، ترڅو زموږ د سیمې د ژبې رنګ او خوند هم خوندي پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د هغو ټولو شاعرانو قدرداني ده چې د خپلې خاورې، میړانې او غیرت په ژبه یې خپل زړونه سپین کړي دي. "وزیرستان غږ" زموږ د ټولو د زړه اواز دی. په دې کې مینه، درد، پښتونولي او د ښه ژوند هیلې راغونډې شوې دي. دا د هغو غیرتي شاعرانو غږ دی چې په سختو وختونو کې یې هم خپل قلم او ادب نه دی پرېښی.
زه د خپلو ټولو شاعرانو او لیکوالو ملګرو مننه کوم چې د خپلې خاورې د نوم روښانولو لپاره خواري کوي. دا کتاب د هغو ټولو زړونو ته ډالۍ دی چې د خپلې خاورې مینه پکې ژوندۍ ده.

ستاسوورور،

نورعالم ماسید
سرپرستِ اعلی
پشتو ادَبي ټولنه (خپله ژبه)
ډېره اسماعیل خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پروفسر اکبر نایاب

# واورین شالونه

واورین شالونه
چې په اسمان د تورو وریځو لښکر
د دنګو غرونو د سرونو له شا
په مکیزونو قدمونه اخلي
او د روښانه نمر د سپینو شعلو
لاره کې ودرېږي دېوال پورته کړي
ماشومان یؤ بل باندې زېري کوي
چې تر ماښامه به د دې وریځو نه
سپین سپین مهین مهین او نرم نرم
د داودي ګلونو پشم کېږي
تورسرې پاځي وارخطا غوندې شي
چې هله زر کوئ لرګي سنبال کړئ
د مال لپاره د تازه "خېړیو"...
څو "وځکي" په منډه منډه راوړي
د الګړ په غاړه له بهانده "کورېز" نه
د جینکو د لوپټو اورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان ته ورسي شفق تريٍ جوړ شي
سړي د "تبر" پهٔ قوي ضربونو
د "ايژيکې" دړې ټوټې ټوټې کړي

د لوړ "پيرغر" لهٔ لوري ورو ورو وربځې
د "درې" غرونه پهٔ ايسار کې واخلي
بر د لواړهٔ نه تر رزمکه پورې
د نښترونو د نغمو پهٔ شور کې
سيلۍ خبر د سپينو واورو راوړي

چې د ماښام سيورې را وګرزيږي
نو د پيرغر پهٔ پلنه وچه سينه
د داودي ګلونو کر شروع شي

د غرونو مينځ کې د هر کور لهٔ چته
د انګيټو ! لهٔ لوؤ ډک پائپونه...
داسې تورتم جوړ کړي د تورو لوګو
لکه پهٔ مېنځ کې د تورخم د غرونو
چرته ريل ګاړی پهٔ سفر روان وي

چې د سهار رڼا وزر خوارهٔ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لرو کلو نه اواز د آذان
د خاموشۍ ټول ایسارونه مات کړي
په تورو غرونو کښې شي بیا په څپو
د ژوند ! د ښکلي ژوند بهاندې هیلې

زهٔ د "ټیکونې" سر تهٔ وخېژمه
د نمر او وریځې پټ پټوني لوبه
د لرې لرې تماشه کؤمه
د غرونو یوه نهٔ ختمېدونکې کړۍ
لهٔ دنګ پیر غر تر "اینګماله" پورې
د لوړ "قطمې" نه تر "شواله" پورې
د ټولو غرونو پهٔ مغرور سرونو
وي غوړېدلي سپین واورین شالونه

زهٔ د شعور لهٔ دایرې بهر شم
او د تېر وخت د ښکلاګانو انځور
زما پهٔ ذهن خپل وزر خوارهٔ کړي
واورین شالونو کښې رانغښتي غرونه
د دنګ پیرغر نهٔ ګېر چاپیر تاوېږي
لکه ملبوس سپین لوپټو کښې جونه!
د وړوکي اختر رسمونه لمانځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادګیرنه!**

**څېړی......شاه بلوط**

**وځکي......د لرګو یو غټ پنډوکې چې ښځې یې د ځناورو د خوراک یا د سوزولو دپارهٔ راوړي......**

**تبر.....کلهاړه**

**ایژیکې.....د نښتر د ونې غوړ لرګې د د اور د بلولو دپاره استعمالیږي....**

**پیرغر......پرېغال غر**

**دره.....د پیرغر نه تر مکین پورې د غرونو پهٔ.مینځ کې اباده علاقه دره نومیږي**

**لواړهٔ....د شوال یوه حصه**

**رزمک....د ځای نوم دې**

**لوؤ...لوي.....د انګیټې پهٔ پائپونو کښې د لوګي تورکي**

**تورخم....د ځای نوم**

**ټېکونه....زمونږ د کلي پهٔ شا د یوهٔ غرهٔ نوم**

**قطمعه....د مکین پهٔ سیمه کې یو لوړ غر**

**اینګمال.....د رزمک سره نزدې ځای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختر خان صیب

### براچیژي که نه

وزیــــرســتــانه چیـــرې میـــژ دیــــرته یودیژي که نه
میـــژ خـو باهـــار یـــي چـــې لمـــن دې ابودیژي که نه

دیشمان دې تو په رانګې بژه شه لکه تـه یـې بژه کړې
آ دې لـدهے پـه شنـــې پنګـــې بـــندې واریژي که نه

آ ګنـډې سپـرګې شنـه شمـــدي او غنمـکاک وو وچ وي
په تورې غـرې کشې تور بلبل ویـس هـن ژاغیـژي که نه

شپیشـتین، شـورۀ، او شـنکۍ بدر تـه سـالوم مـــې یایه
پـه کاروانـــې مانځـــه مـــوړینـــه ویـــس بادلـیژي که نه

پرېغال مې سنـګرې دای اشنا یایه وېر جار مې کـې ټول
په تانکې ســار یـې ویـس سـاړې سیلۍ چالـیژي که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیــژ وېر بـاداله کـه مکین تـــه لـــژ يې چـــاپی هـن کـه
بیا میژ وېریود که داسې ورې ورې چې بېراچیـژي کـه نـه

چې کله لــــوړ شـې و کــــړمه تـه بـیا ژاغ وېـــر وکـه
و سپــینکي مخ تـه يـې بیا کسه چې بادلـیژي کـه نـه

میــژه اختــر غدې خـو پـه تـو بندې مائن يـــې اشـــنا
کـــه کلـه دیـــراغلۀ پـــه يـــو بـــل وو جاریژي کـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انور مروت

## نوې پیمانه

د هغوخلقـــو بـــه هرســـاعت مـــخ تـــور وي
پـــهٔ ظـــاهره چـــې وي نـــور د ننـــه نـــور وي

ایجـــاد شـــوې اوس څـــهٔ نـــوې پیمانـــه ده
ایماندار بـــه پـــهٔ زنـــدان او یـــا پـــهٔ ګـــور وي

بـــې غیرتـــومزې وکـــړې پـــهٔ هیـــواد کښـــې
غیرتـــي د پـــاره خپلـــه خونـــه اور وي

دا ســـړے بـــه ســـر د لانـــدې راپرېـــوزي
داچـــې هرســـاعت دبـــل پهٔاوږوســـور وي

د بیزوپهٔشـــان چـــې هـــرډول تـــه ګـــډېږي
داســـې خلـــق نـــهٔ بهـــر ،او نـــهٔ د کـــور وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــهٔ هــر چــا بــه د یــارئ اعتمــاد نــهٔ کــړې
اکثــــر ویــــنم د لســــتونې پــــټ منګــــور وي

د،انــــور، پــــهٔ شــــعر هغــــه ځــــوک پــــوهیږي
چــــــې نــــــهٔکوڼ وي نهٔپهٔدواړوســــــــترګوکوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امین جان امین وزیر

## نور وو څوک وي

څوک چې تو پسې رنځیر دای پیژانې یې
چې ووخته دې ځون پهٔ ویر دای پیژانې یې

نور وو څوک وي خو پشتین وو وي چې پروت دای
دا چې ټول پهٔ وینې سیر دای پیژانې یې

شنهٔ چمن کې جوړ دې سرې وینې ګلینه
پشتونخواه دو که کشمیر دائی پیژانې یې

چې پهٔ ژوند یې شه خبره پهٔ خولهٔ نشته
مو دې یغې نه جوړ پیر دای پیژانې یې

دغ سړي نه لکه ګل زیاي ژوندای ورک دای
دا پهٔ سترګې چې بشیر دای پیژانې یې

د چې کشلې مسلمون پشتونهٔ ویژ نې
دا دې کیمې خولې تکبیر دای پیژانې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خیــریات پــــهٔ بــونه ورهٔ تــه دې ویلـــوړ دائی
دا روغـــــلائی کیـــــم فقــــــیر دای پیـــژانې یې

دا چــې رانګ یې دای وو وشتــای خــو ورک نــهٔ دای
تـــــو چــــــې رو وهٔ آ زنځـــــــیر دای پیـــژانې یې

چــــې روپــام یې شـــهٔ هــمزولیې تــه یې ویــل چــې
دا ســــــــړای امیـــن وزیـــــــــر دای پیـــژانې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمد شاه افکار

# لېوانتوب

تـه یـې څـه کـې، مـو دې تـو پـه پښـې کشـې پرېیـاش
ایـــره زړه مـــي دي هـــاوو پـــه پښـــې کشـــې پرېیـــاش

لېوانتـــوب بـــې انتهـــا دي تـــو پـــه عشـــق کشـــې
دا ارمـــون مـــي دې داوو پـــه پښـــې کشـــې پرېیـــاش

میـــږه ایشـــکي پـــه الفـــاظ کړلـــي بـــادالې
نـــور هنـــر ووم دي دنیـــو پـــه پښـــې کشـــې پرېیـــاش

یـــو دې تـــو نـــوم مـــې رو وړاې دای پـــه ســـار شـــې
ټـول مـذهب مـې دي ملـو پـه پښـې کشـې پرېیـاش

دی اظهـــار هـــار یـــو انـــداز خـــالکې بـــادنوم دای
دارد مـــې ځکـــه دې خانـــدو پـــه پښـــې کشـــې پرېیـــاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــو چـــې چیغـــه دې هـــو وکړلـــه مالانګـــه
ووړکیـې هـوش بیـا سـتي دې مـو پـه پشـې کشـې پرېیـاش

ډېـر مغـرور وه پـه غـزل، چـې خولـه مـې وبـر کـړه
افکـار درسـت دیـوان دې مـو پـه پشـې کشـې پرېیـاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسرار خان وزیر

## وخوږهٔ

زړه مــــې پــــه يــــوروني بنــــدې وخــــوږهٔ
ځــون مــــې پــــه لېــــووني بنــــدې وخــــوږهٔ

ځکــه يــــې دې ميــــږ دې غــــرې نشــــتر يــــوړل
شــاۍ يــــې پــــه مشــــروني بنــــدې وخــــوږهٔ

مــړ يــې کــــهٔ دې وخــــت ســــرکار تــکــړه ســــړای
لاش يــــې پــــه مرغــــوني بنــــدې وخــــوږهٔ

چــــا پــــه خپــــل وطــــن ســــريــنه وشــــاندل
چــــا پــــه ظالــــموني بنــــدې وخــــوږهٔ

وريــــږې يــــې پــــه خــــور غريبــــون وخــــواړې
لــــم يــــې پــــه خــــانوني بنــــدې وخــــوږهٔ

يــــوره اســــرارخان خــــو پــــه تــــو سَــــر تيــــر وهٔ
تــــو پــــه رقيبــــوني بنــــدې وخــــوږهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اعجاز قاصد

### مات لوظ

پـهٔ مـا بـیا شـولو سبـا پـهٔ دروازه کښې
خـبر راکـړلو رڼـا پـهٔ دروازه کښې

زنځـیر وتـکوي مـات لـوظ رایـاد کـړي
رقـابـت کـوي هـوا پـهٔ دروازه کښې

د مجـنون جـوړې لا سـر مات شـوای نـهٔ دای
بیـا ولاړ دای د لیـلا پـهٔ دروازه کښې

سـتـړای سـتـړای راغلـم کـور تـه او تـهٔ نـهٔ وې
مـورې راغـلله ژړا پـهٔ دروازه کښې

ژونـده مـار دای ژونـده تـا نـه بغـاوت کـړي
راتـه پـروت دای ژونـده ستـا پـهٔ دروازه کښې

وخـته! دا دې کـوم ملنـګ راڅـخه جـوړ کـړو
وخـته! خـېر غـواړم د چـا پـهٔ دروازه کښې

منتـظر بـه ستـا پـهٔ هیـله قاصـد ناسـت ؤم
رانـه تـللې بـه وي سـاه! پـهٔ دروازه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اریانه ماسید

### بوڼهٔ

تــــور وژده بــــــوڼهٔ وي پـــې رانځيــــر يــې کـــړهٔ
ســــترګې وې کـــه څـــهٔ وي پـــې رانځـــير يــې کـــړهٔ

بيـا وو داســـې ځيــر ځيــر چـــاته نـــــهٔ کــــسه
دا مــې چـــې پـــهٔ زړهٔ وي پـــې رانځـــير يـــې کـــړهٔ

خـــدايه يــــو بــــوڼهٔ يـــې سيـخ ويــــلوړ نـــه وهٔ
تـــول کــــوژهٔ ووژهٔ وي پـــې رانځـــير يـــې کـــړهٔ

ګــل لــــکه چــــې ډيــــره تنـــــده و وايـــــې
داس نمــــونــه مـــــړهٔ وي پـــې رانځـــير يـــې کـــړهٔ

سپيـنې چـــوړې نـــــهٔ وې او خنـــــجر نـــــهٔ وي
بس خـــو چې هـــر څـهٔ وي پـــې رانځـــير يـــې کـــړهٔ

زهٔ آريــــانه ويـــــس ليـــا پـــالا سيـخ نـــــهٔ يـــهٔ
يــــوه ريـځ ولمـــــونهٔ وي پـــې رانځـــير يـــې کـــړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوېس قربان

## دا خو ته يې

د تـــا تـــور پـــه تنـــدي ځلانـــد لکـــه خـــال وړم
ځکـــه ځنـــو کښـــې تنـــدی پـــټ او سمبـــال وړم

دا خـو تـــه يـې چـې مـې وژنـــې پـــه يـــوه غشـــي
ګنـــي زه پـــــه سيـــنه تـــــورې لکـــــه ډال وړم

د آشـــنا بېـــرته راتـــلـک چــــې کـــوم طـــــمه
ګـــويا بېـــرته لـــه مجـيب ځخـــه بنـــګال وړم

هيڅ امېـــد مـــې د بـــاران، پـــه للـــمه نـــه شـــي
لـــه خـــوار درمنـــد بوجـــۍ تشې کال پـــه کـال وړم

د پـــرېغل ســـوري کـــــول يـــې را پـــه ســـر دي
ځکـــه متـــې د فـــــرهاد غونـــــدې کنـــګال وړم

پـــه دې خـــوار قسمت مـــې داســـې چـارې وشـــوې
کاميـــــابي تـــــه چـــــې رســـــېږمه زوال وړم

ســـتا پـــه مينـــه کـــړمه ويـــاړ او شـــرم نـــه کـــړم
"قـــربان" شـــوی تـــندی ځکـــه ګـــور تـــه ويـال وړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اياز وزير دوسلي

## ماتوم

صـــرف دا نـــه ده چـــې مثـــال خبـــره نـــه مـــاتوم
مـرګ تـه راضـي يـم خـو فـل حـال خبـره نـه مـاتوم

ســـتا د ســـحر خبـــره ماتـــه شـــي ماښـــام لا نـــه وي
زه خـــو دي يـــاره پـــوره کـــال خبـــره نـــه مـــاتوم

نـه کـــنه زه پـه ښـــار کښـــې اخـــوا ديخـــوا نـه ګورمـه
ځکـــه چـــې زه د کلیـــوال خبـــره نـــه ماتـــوم

وعـــده خـــلاف نـــه يـــم فقـــط د ملاقـــات تـــږی وم
مـــخ دي درپـــټ کـــړو پـــه دســـمال خبـــره نـــه مـــاتوم

زمـــا د کـــور تلکـــي دي وي خـــو تـــاوان نـــه ورکـــوم
منګـــی تـــرې اخـــلم د کـــولال خبـــره نـــه ماتـــوم

لــه مــا قسـم واخلـه خـو ســتا لــه قولـه يـره راځـي
زه ايـــاز جـان بـه پـه هـــر حـــال خبره نـــه ماتـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارشدالله عاجز

# زه وو مړ وه

تـــه وو کـــې ډېـــر آرمـــونینه زه وو مـــړ وه
کـــې وو هـــر واخـــت فـــریودینه زه وو مـــړ وه

بیـا مـې ژوړه سـتی دې ړانـــګ قبـر پــه خلــې
تــش مـــې کســــه تصـــویرینه زه وو مـــړ وه

پــه ژوانــدینــیې خـــو دې شــه رو ســره نــه کــړل
بیـــا وو غـــوړې زیـــوراتینه زه وو مـــړ وه

ارمـــون جــان وو دیـــرنه مــړ شـــهٔ بیـــا وو ژوړې
رو دې نـــــه کـــــړل دیـــــدانینه زه وو مـــړ وه

زه ارشـــد خـــو ډېـــر عاجـــز غـــوندې انســـان یـــه
تــو مــې غــوړې پــوس پــه غـــرینه زه وو مـــړ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امیر زاده شابی خېل

# مازیګر وو

څـه یـخه شـان هـوا وه د غـرهٔ سـر وو مازدیـګر وو
را خـتی زمونږ خـوا تـه زېـړی نمـر وړ مازدیـګر وو

تېـرشوی هغـه وخـت مـې همېشه زړه تا قیـام کـړې
شـنې ونـې وې وېلـې وې او ګـودر وو مازدیـګر وو

روانه شـوې آرمـان مـې شـوې پـه شا دې راکتل تلې
بیلـتون دې پمـا ؤړ غـوندې محشـر وو مازدیـګر وو

د لـرې دې کـتمه پـه کنـدهٔ فنـا کېـد لې
زمـا آرمـان مـړېده سـبا آختـر وه مازدیـګر وو

څـه خـوند یـې کـړو چې تـه ورغـاړېوتې ده وېـل نـه
آمـیر شـابي خـېل تـا نـه مـراور وو مازدیـګر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آمان مانتوئی وال

### پهٔ تو قاسام دای

تیـــــره تـــــام وي پـــــه وزرې
ډېـــــرې خـــــؤلې ډېـــــرې خبـــــرې

څـــــهٔ پیـــــره شـــــوې پیـــــره خـــــدای دای
څـــــهٔ شـــــوې تـــــهٔ ،څـــــهٔ دې شـــــوې غـــــؤرې

خپـــــل اختـــــیور پـــــه تـــــو قـــــاسام دای
پـــــه سیـــــرې او پـــــه سنـــــدرې

څـــــو پېـــــیې وو رنـــــې ایشـــــکې
کـــــه ټکـــــرای دې مـــــخ نـــــه لـــــرې

بـــې اختـــیوره ایشـــکې تـــل خـــورې
ســـــــــــرزورې دې زوراورې

نـــن ســـابـــو پـــاریـــن دې یـــؤ کـا
کانـــی لـــوېـــژې پـــه کمـــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه خاندو په خؤلهٔ دې کونډې
څهٔ وي ژوند دې میسو پرې

دې وروغه په پال وو درېمي
کام چې غوړې کو دې سترې

لاؤ غېبال شي په لشکرې
میدون وي دې سترګاورې

میژ په واخت پسې کوژهٔ یي
واخت نیکار دې بختاورې

ورهٔ په ورهٔ سره میشتهٔ یي
غرینه غرینه سره لرې

دا دې میژ نوزکې هیلې
دا دې ژوند لوړې ژاورې

لژ وو مخشې ځنې تیر شي
باس کې دا برې ګوارګورې

دا میرچې میرچې واختینه
دا ګېوږیار کېوږیار تېرې

تور خاچن نیاتینه
خوله خبرې ملغالرې

دې امان دې ژوند خبرې
مستې پېغلې مراورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایاز درویش

## تۀ رونغلې

ډېر پـه نیــــوز مــــې جــوړ ریمـــــول وۀ تـــه رونغلـې
یــــو ســاعـــت روبنـــــدې کـــول وۀ تــه رو نغلـې

دې عیـــد رېـځ وه خـواشـــولې وې تامـــوشــــې وې
مـــو پــه زنیې ایــش شیــــن خــــول وۀ تــه رونغلـې

ســـرۀ ګلیـــــنه مـــې پــــه تــور وربـل کشــې لاک وې
دې خــــړمیــني خـــــوژ مــاحـــول وۀ تــه رونغلـې

رقیـــبون غمـــــازون تــــــول رونــــــه چاپېــــر وې
مــو پـه ســـــار دې غــــام کچـــــکول وۀ تــه رونغلـې

مـــو چــې کیــم زړګـای پــــه مینـــــه و دېـرکـــــړای
دېــــرتـــه ایــش مــې ډېـر سامبـــول وۀ تـــه رونغلـې

چې خبــار شــوۀ چــې دې میـــنې یــور دې بــل دای
هغـــه واخت مـــــې چــې کیــــم وول وۀ تـــه رونغلـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــو دې تـو پـــه میــــنه هــر یـو شـای قــربان کـۀ
نـه پـه څـــون وۀ نــــه پـه مـــول وۀ تـه رونغلې

زه دې تـــونه چـــې جــــدا شـۀ بیــا د مـړ شـــۀ
کـــړای خـــدای تـه مـې دا ســـوول وۀ تـه رونغلې

ویـس ایـــاز درویش پـــه کیمـې ستـــرګې ژوړې
تش پـه مانـــځ کشـې یـــو دېــوول وۀ تـه رونغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آخمد سپنکۍ وال

## لېواني یایي سندرې

مست شـوي دي دې حـسن لېـــــواني ویـایي سـندرې
شېــرین وزیــــــرستان کشې پسرلي ویـایي سـندرې

رودریمـه دې ګـودر پــه غــــوړه جـــوړې لمدورې دي
تمبـــل ژاغـــوي پیغـــلې پـه مَنګـــي ویـایي سـندرې

تیـتون شـنه شول جـانانه سپوندې هـن ګلیـــنه وکــړل
پـه غرینه شــــــې ګل شوي دي شمـدي ویـایي سـندرې

رودریمه یوره خــــــواند کـو دې کَمـر پــه غوړه جـامې
رنګـین شــــول دې واطـن موزدیګـاري ویـایي سـندرې

قیصې دې نفرت ختمې کړلې هـر سـړي په منځ کـشې
په یــو ځـوی روڼـول شـــوي خپل پرادي ویـایي سـندرې

اخمـده وېـرته غـوژ شه ځـهٔ خـواژې یـي ویـایي
دې تانګـــې مېـلې سار بنـدې شپونکي ویایي سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امجد طوفان محسود

### نظر ساتمه

ځان په اسمان کښې لکه لمر ساتمه
تولې دنیا باندې نظر ساتمه

خدایه دولت راکړې خو داسې دولت
چې نور ماړه کړم ځان نهر ساتمه

یمه بې ماله بې محله بادشاه
چې ستا دمینې تاج په سر ساتمه

چې لښ ده بل ده زړه په درد پوهیږم
ځکه خپل ذړه پرهر پرهر ساتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتل وزیر

### د ګوړې زهر

د چـــا د پـــاره چـــې مـــا غـــم کـــړای دای
هغـــه زمـــا نـــه نفـــــرت سـم کـــړای دای

څـــوک چـــې زمـــا د شخصـــیت دښـــمن دای
لکـــه د غـــر مـــې وارتـــه زغـم کـــړای دای

زمـــا د ښـــو تمـــه د نـــه کـــــوی اوس
چـــا چـــې توهیـــن زمـــا د چـم کـــړای دای

زه دې د ګـــــوړې زهـــــر ښـــه پیـــژانم
زمـــا پـــه نســـــل دې ستـم کـــړای دای

کاش چـــې خـــیالات او احســـاسات ښـــکلی وای
دغـــه ارمـــان مـــې دم پـــه دم کـــړای دای

ستـــا بـې ننـــګی بـــه تـول جـــهان تـــه ښـــایم
اتـــل وزیـــــر دارتـــــه قســم کـــړای دای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمد خاورې جان

### دا ملو دای

روښـــه ورک مـــې دې لیـــدلي خـــوب تعبیـــر دای
رو پـــه غـــوړه وخـــت دې ایســـپني زنځیـــر دای

دا مالــــــک دای دا ملــــــو دای دا فقیــــــر دای
دا دنیـــــو دو خدایــــه رت مــــې زړه تاغیــــر دای

ژواندیـــن څـــه دای پـــه دنیـــو دې زاري غـــوړاپ دای
زنـــداګي هـــن پـــه سکـــارواتې پـــوس بایيـــر دای

میـږ پـه شـته واطـن کشـې ځکـه پـه نشـت شـمیر یـو
چـې پـه هـار چـا دې خپـل نـاس نفـس توخیـر دای

تربرنـــــــي دو بـــــــادبختي دو بادنیـــــــاتي دو
دا ماجـــــار دای دا ماســـــید دا وزیـــــر دای

پـــه دا تـــور غرینـــه کشـــې تـــورې بالـــوګرځي
هـــار ساړای ځنـــې لاګیـــا دې ځـــون پـــه ویـــردای

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــا چــې خــداي کــو ګلــه پپــزي ام ســـاره پــرې کــړې
نـــا پـــه خـــداي دا وې چـــې دا ســـاړای دې پیـــردای

شـوپیـــــری لــــژ یــــې دي حــــال پښـــتنه وکـــه
چـا خـو وپل چي خـاورې جان یور دې رانخیر دای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارماني ماسید

# زړینه موت شول

څه په امید امید مې لوی لوی امیدینه موت شول
په داغه لیارکې خو دې ډېرې خلکې زړینه موت شول

دې یوې واړې غلطی دا نتیجه ؤ واتله
ځومره په نه کیسه دې میژ پوخه لاوظینه موت شول

داغه رشتیا دو چې دنیو خو پسې ړانګه نه شوه
خو نا په دغ ساړی پیرا کلی قومینه موت شول

چې میژ توس نهٔ شوي سره سوړ تاوون دې ځکه وشهٔ
چې دې دریم ساړي دې لوسه اې میژ ورینه موت شول

ویس آرماني ماسید دې ځکه غلای ګرځي
دې سوي زړه یې سوي آرمونینه موت شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام خیسوروال

## سندره

مکـــــــــرینه کوي ، پــهٔ سپـــین ټکـــري کـــو
لیــا میــــــــنه کوي ، لیــا هـــس مســــتي کـــو

مکـــــــــرینه کوي، داري پـــــهٔ ورهٔ کشــــــې
ټکـــرای چـــې ونځـي ، پـهٔ سپــینه خـــولهٔ کشـــې
چـــې څــــهٔ وو یـې وي ، روتـــــه پـــهٔ زړهٔ کشـــې

دې لـــرې ځـــوی نه ، مــــې زر سهـــــي کـــو
لیــا میــــــــنه کوي ، لیــا هـــس مســــتي کـــو

مکـــــــــرینه کوي ، جـــــومه یـــې تـــوره
واړه لایـــــــلو دو ، ډیـــــــــره مغـــــروره
خـــــــبرې نکـــو ، دو سپــــــینه حـــــوره

پـــهٔ نـــهٔ خـــــبره ، یـــــــې رو بــــادي کـــو
لیــا میــــــــنه کوي ، لیــا هـــس مســــتي کـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکـــــــــرینه کوي ، پـــهٔ ســـار لنـــــګی کـــو
چـــي ســـــترګي تـــورې ، کلـــــــــه نـــــــاری کـــو
زړګـــای وو مـــې تانګ ، دې زنـــــــــــدګی کـــو

دې مـــو غـــونديې وو ، ډيـــــر لېـــــــــواني کـــو
ليـــا ميـــــــنه کـــوي ، لـــا هـــس مســـــتي کـــــو

اســــــلام خيسوروال ، پـــهٔ زړهٔ رانځـــــــير دای
دې ســتـړي ژونــد نــه ، ستـــي رتې تاغيـــــــر دای
ملنــګ ســـــړای دای ، پيـــــر دای فقيـــــــر دای

دې ځکــــه داســــــې ، ســـويې شـــــاعري کـــو
ليـــا ميـــــــنه کوي ، ليـــا هـــس مســــتي کـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمدامانزائی

### د نیکه شمله

د ازلـــــه دومـــــره نـــــه وم بېغرتـــــه
د حیـــا ســـتر مـــې تـــا مـــات کـــوو شـــهرته

ځمـه ښـار تـه ځـان تـه لنـګ او پتلـون اخلـم اخلـم
د نیکـــه شـــمله مـــې ټیټـــه ســـر پـــه ښـــکته

اې بـــې شـــرمه بدنصـــیبه بـــد قســـمته
اې پښـــتونه ټیـــک ټـــوکره بـــې عزتـــه

---

زه د کـــوره د شـــعور تـــلاش کـــې اوځـــم
بـــل مشـــال دې تـــر مکتـــب راپســـې واخلـــه

بدرګـــه شـــه زمـــا وروره تـــر منزلـــه
ستـــر ګامونـــــه دا ادب راپســـې واخلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابشار مسید

### زونیې

لکــه چــې زونیې کــوي شــور دې بــل وطنــه روشــي
داســې یــودینه دې لاشــتاى زړه تــه دې ننــه روشــي

چې دې شارجې اودې عجمان په منځ شي زړه ته روشـې
په شتـېرنګ نوست وه پــه سیرات مې بابېژنه روشـي

داســې وو نــه وشــي چــې زه کلي تــه بــیا راؤون وه
داسې وو نه وشــي چې مخ تــه مــې مائینه روشـي

دې مـو دې زړه دې درد خــبرې تـه یـې فکــر نـه وي
خلق غــزل کسي پــه واه واه پــه مننــه روشـي

دځنــې خلـک زړه تــه نیـغ ننــوزي وو ابــشاره
د ځــنې ځنــې ګوزاره کــو پــه پشــتنه روشـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الطاف حسن ملکشاې

# ځون ته غلاې

وۀ ځـون تـه غـلاې لکـه تـوره شـپه ځـووني تېـراوۀ
کـاپېر غامینـه دې پـه مـوت زړه ګوشـاکي تېـراوۀ

غـړي مـې مـړۀ صـیرات مېـژي شـې روخـه وګـاړدیژي
چـې دې ارمـون پانـډه دې تـو پـه وتـاکي تېـراوۀ

رشـتیا چـې نـه پیـژي سـترګې دې غـامې دې لوسـه
ګانـډیېر دا وي بـاس خـو واختینـه لیـا ژوانـدي تېـراوۀ

دې ژمـې شـپه وووره سـوړه او تاراکـاې لماشـوم
دي انګیتـۍ پـه غـوړه نوسـت شـپې دې مـارګې تېـراوۀ

سـتړاې سـتېمان دې بیلتونـۀ بـود مـې پـه زړه څیـړیـژي
زړه مـې خـوژیژي ډېـر داردینـه دې خوانـدي تېـراوۀ

هیلـې پـه موتـه سـتن ګانـډۀ الطـاف حسـین لګیـا یـه
پـه یـوه ارمـون پسـې دې بـل ارمـون سـکازي تېـراوۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انور علي انور

# ګرځوله

یو وخت وو چې په جېب کښې مې قلاره ګرځوله
بې‌انصافه وومه نو ځکه مې هنداره ګرځوله

یو ته وې چې د مینې نه منکر وې او کافر وې
یو زه وومه چې مینه مې بسیاره ګرځوله

هغه هم پښتنه وه په بام پاس به یې سلګۍ کړې
ما هم خالي جولۍ په دغه لاره ګرځوله

ډېر ښه مې پېژندلو په کړه وړه یې ښه خبر ووم
نو توره مې تېره ځکه تیاره ګرځوله

په دې آخري وخت کښې یې ټپې د مینې ویلې
انور په کښې لمن ځکه داغداره ګرځوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بوستان وزیری

# عبث ژوند

نه د لر او نه د برشوو
منځ کې پاتې یو حیرانه

عبث ژوند راباندې تیرشو
هم مو خونه شوله ورانه

ای زمونږ بدبخت قسمته
په خپل کور کې پریشانه

کله کله خو داس وایم
ځان ته اور ورکړه بوستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بوستان وزیری

## ګل خانان

ګـــــل خانـــــان هرځـــــای پراتـــــه یـــــو
ګـــــل خانـــــان ټـــــول پښـــــتانه یـــــو

رد بـــــد مـــــه وایـــــئ یوبـــــل تـــــه
ځکـــــه ټـــــول ړانـــــده ،کاڼـــــه یـــــو

کـــــه پـــــه لـــــر او کـــــه پـــــه بـــــر یـــــو
پـــــه خپـــــل کـــــور کـــــې میلمانـــــه یـــــو

دتعلـــــیم څخـــــه پـــــه تیښـــــته
ځکـــــه جـــــوړ ځانتـــــه فتنـــــه یـــــو

خپـــــل ورور چیـــــرې زغمـــــی نـــــه شـــــو
خـــــو دښـــــمن تـــــه پـــــه ســـــجده یـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دلوړې نه مړه کیږو
خو، پرادو ته خزانه یو

وطن زمونږ په سراباد دی
خپل پراته په ویرانه یو

وزیریه! ډیر افسوس دی
هسې جوړه افسانه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدرخېل مجاهد

# یو څو خلک

غیرت پښتو کې په یو رنګ دي بس یو څو خلک دي
ولاړ چې تل د قام په ننګ دي بس یو څو خلک دي

په افرادي قوت خو مونږه پښتنهٔ ښه ډېر یو
په پښتنه مینه چې رنګ دي بس یو څو خلک دي

تشه په خوله مسلماني ده کردار هیڅ نه لري
چې دخپل نفس سره په جنګ دي بس یو څو خلک دي

مېرنی ورور په شان سلوک زما پښتون سره تل
حق ته مې حق نه ویي ګونګ دي بس یو څو خلک دي

زه نه پوهیږم چې د خلک مینه څه ته وایي
چې در بدر ګرځي ملنګ دي بس یو څو خلک دي

چې په سیرت او صورت دواړو باندې ښکلي ښکاري
لکه په شان د تور لونګ دي بس یو څو خلک دي

د ښکلو مینه هر څوک غواړي بهادرخیل یې غواړم
څوک چې مئین په غنمرنګ دي بس یو څوخلک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بهرام وزیرستاني

## خفه مه شئ

چې د ذات لــه جـــزیرې نـــه مـــې فـــرار کـــړي
څـوک دې مـا هـم د خپـل ځـان سره پـه لار کـــړي

چـې یـې واړه تهمتــــــونه پــه ځــان بـــار کـــړم
کــه د میـــنې پـــه داغـــــونو مې داغـــدار کـــړي

لا مـــې خـــلاص کـــــړي د یـــادونو لــه عـــذابه
لا د خپـــل خـــــوبونو خپـــله ما مخـــتار کـــړي

زر رخصت راکـــړئ خـــــفه مـه شـــئ یـــارانو
تنهایـــــــي راتـــه پـه لار کښـــې انتـــظار کـــړي

مـاشـومتـوب تـــه مـــې ډیـــر زړهٔ شـــوے بهـــرامه
څــوک دې لـږ غــوندې وختـــونه را ایســـار کـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلال خون خېل

## دې مو غریبه یوره

دا په میــــــژ څنګـرې بـې شـامره ریځې شپې روغلې
په مخ مې ځکـــه دې تـاودې ایشکـــې چـاپې روغلې

دې مـو غـــــــریبه یـــوره زه دې پېځـــیدله پـــه زړه
تـه چې خالي لوس دې بـازوره ســترګې سـرې روغلې

ملنـګه بیـا دې زړه ته څـه ویــلوړ دي څــه شــوي دي
کـه په ځـــــــنډنې میلـــــــې پـوري داروزې روغلې

نن دې ځـــوونی دې ژړئیګــورې جامې غــوړې رونـه
انډخـور مــړ شــوائ دائ اشنا په مړې ایرې روغلې

دې خـدائ په کـړې امـــــر صبر کـوي څه وو کـوي
چـاته وروئیځ او چـاته غبارګــــــې جنــــوزې روغلې

ویـس دې ځـون غـم داسې الک غـوندې لیـده شـي روتـه
یـوره پـه سـر مـې چـې دې کلي قـوم قیـصې روغلې

پـه صـــدقه وو دې خپـل سر ټکرائ شـانده دې خیـــره
خـــون خیلـــه دو ورې که روغ تـه دې مـــیرچې روغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېت الله بېت

# زندګي تېره کړه

مـا هېڅ ونــکړل ما پــهٔ منـدېه زنـــدګـی تېـره کـړه
مـا پـهٔ پـــردو غـمـــونـو غـونـدېه زنـــدګـی تېـره کـړه

ما الـزامـونه پهٔ ځان یـوړل مـا ډېـــر خـــهٔ و زغمـل
خو پـهٔ ښکاره مې ویالـه ټـنـدېه زنـــدګـی تېـره کـړه

پـهٔ دې ســړي د چـا نـظر نـهٔ وهٔ چــې بـد دې وکـړل
ځـکه خـــو دې ســړي بـــر بنـــدېه زنـــدګـی تېـره کـړه

ډېـر لـهٔ مـودو نـه یـو زلمـې ورک دی لـــهٔ دې کلـی نـه
دلـتـه یـوې پېـغلې لـکه کـــونـدېه زنـــدګـی تېـره کـړه

بیتّ د هغـــې زنــدګـۍ فـکر کـــړم چـې خـنګه بـــه وی
خـــومـرا بې خـونـــده مو د لـنـــدېه زنـــدګـی تېـره کـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله جان ملنګ

# تور لونګ

تیـــن لـــه زمـــکـې زرغـونیـــږي بنـګ د زمـــکـې
زرغـونیـــږي هـــــم دا تـــــور لـونـګ د زمـــکـې

څـــه تنـــکۍ تنـــکۍ ځـــوانۍ اوخـــوري بـې دریـغـه
زوروو دای زوروو قلـــــــــــــنګ د زمـــکـــې

خـامـوشـي یـــې هســـې مـــا ګنـــه انســـانـــه
ډیـــر وحشـــت لـــري وحشـــت غـورزنـګ د زمـــکـې

د هغـــو مـــــزل بـــــه څنـګـه پـــه رحـــت وي
چـې منـــــزل یـــې وي ژور ګـــــړنـګ د زمکـې

زه د هـغـې ورځـــې غـــم خـــوړلـې نیـم یـــم
چـې ولاړ مــــې وي دیـــوال تـــرڅـــنګ د زمـکـې

یـــو ځـــل اوکـــره ګلان بـــیا یـــې خـــوی ګـوره
هسـې مـا وایـــه چـې خـــــړ دای رنـــګ د زمکـې

د سـمـــاء ربـــــه ولاړ کـچـکـول پـــــه غـــــاړه
غـــواړي خیـــر ستـــا د رحـمت ملنـــګ د زمـکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بهرام وزیر

# خیال وساتئ

که څوک مو سیال نه وي دَ ځان سره یې سیال وساتئ
مات زړونه جوړ کړئ او دَ روغو زړونو خیال وساتئ

دغه جنګونه نفرتونه تري نه اوباسئ نور
خپل زړونه پاک دَ ماشومانو په مثال وساتئ

هر یو انسان ته مینه ولرئ دَ زړه په کور کښې
هر یو انسان په ځان کښې دغه یو کمال وساتئ

دَ نفرتونو شپې رڼا کړئ سپین سحر به را شي
هر څوک په خلې کښې آذانونه دَ بلال وساتئ

که هره ورځ نه وي دَ غم او دَ ښادۍ په موقه
دَ خپلو خلکو یاد په زړه کښې کال په کال وساتئ

دَ غټـــې وسپنې ټوپک په اوګه مه ګرځوئ
دَ یو چا اوښکو ته په جیب کښې یو رومال وساتئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان ته مه ګـورئ دَ پلار نیکـه عـزت تـه ګـورئ
پښتاني پیغلې په سـرونو بانـدې شـال وسـاتئ

که خپـل ګناه کوئ خو بل ته یې ستاینه مـا کـړئ
غلط فکـــرونه دَ خپل ځان سره سـنبال وسـاتئ

بـهرام وزیر وایم خپل ژوند په داسـې چـل وژغـورئ
دَ بل تیاره ژوند تـه پـه لارو کښـــې مشـال وسـاتئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بــدروال محسود

# خپله لهجه

تــرخې تــــرخې ابــــبۀ مې بيـــا په زړۀ رو وؤ وشتې
دې څــور څـــوش لشکـــرې مــې په ورۀ رو وؤ وشتې

دې بادې ديکانځاۍ دې ژنيــه شۀ وکـړل چــې باند کۀ
دا شکـر داې ! چــې تــه زېــتې پــــه شۀ رو وؤ وشتې

جـذبه دې دې وطـن خـدمت ته کيـم ځائکې نـه رو وړه
دې ميـــژ ډالـــــه تـــــه داســې زر په ځۀ رو وؤ وشتې

پېـريـونې په هـاوؤ کړې که تـه خــــپل دامـره تکړه يې
ده ځـــرنـــګه دې کـــــــوټ پـــه دېـــوؤلۀ رو وؤ وشتې

وزر اؤ پــه آووز شـــې دې قــــــدرت ناخشـــې جــــاواتې
د زونځـــــې دې کــــوبل نـــه پـــه پرېغــــله رو وؤ وشتې

دې تـــو په ديـد مې سترګې نظيـــر شۀ شې بـــدرواله
دې پـــــورې نـــه مــې وليــدې! په مــــړه رو وؤ وشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرېشان محسود

# د یوې پېغلې سندره

والـــــوتم پـــهٔ خیـــال کښــــې د سیلـــــۍ شـــــومه
بـــاد شـــــومه، بـــــاران شـــــومه بړلـــــۍ شـــــومه

خیـــال راتـــــه دستـــــا د سپـــــرلو راغللـــــو
څــــانګه شـــــومه، ګل شـــــومه غوټـــــۍ شـــــومه

وخــــوړو تیــــندک مـــــې ژوانــــــدانهٔ ســــــره
ویښـــــه شـــــوم، بیـــــداره ګــړنـــدۍ شـــــومه

شـــور مـــې چـــې د خپـــــلو بنـــګړو واوریـــدو
ســـاز شـــومه او ســـوز شـــومه شپېلـــۍ شـــومه

دا چـــې زهٔ د غـــــــرونو غـــــــرڅنـــــۍ شـــــومه
تـــاپســـې پـــــرېشـــــانه! لیـــــونـــــۍ شـــــومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تسلیم نور ماسید

# خپله لهجه

بېخي مې دې زړګي پهٔ بوغ دې شنهٔ آسمون ژالئ دو
بې شمیره بې ایسوبه پې ټیپئ دالئ دالئ دو

دې غم سپېرهٔ بودېنه دي پهٔ ټول سیرات مې لاګئ
پهٔ هر آندام دې غام پرخه نارې نارې لالئ دو

که څومره زور زهٔ وېر که ډېر مشکل دي دیدانینه
خواندي په دېوالې یې روخه داسې شن خولئ دو

دې سترګې نه لاشکار رامه کاژه شوله دې ایشکې
تنکي تنکي منډون پې خوري شپونکئ مې لیوانئ دو

واخ رټ مې ژاړوی ستي تسلیم نور ماسید پاګل شوهٔ
آفسوس آ یو تصویر دای چې پې جوړه ګلالئ دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنها مسید شمن خېل

## ګونانګورې سترګې

نصیب مې نه شوه دې تـو میـنه او ځووني په ژواندین
تنهـا دې پـریشـوه و ژاړو تـه ارمـوني پـه ژوانـدین

مـوته روګـرونه وې خپـل ځـون نـه نازولـیې میـنې
مـو دیـر کـړه مینـه ته دې ویـنې قـرباني په ژوانـدین

غامې دې خلوس کړۀ دې سیرات بل دې همزولیې نوستي
هجـر دې کـړلۀ ډیـر بې حـده تاووني په ژوانـدون

کاش چې مې نـه لیدای اوال پـه ګـونانګورې سترګې
نـن وه مې ویلـې تیراولـه پـرېشاني پـه ژوانـدین

دې چا وه زړه روبندې سویځي ځوک مې خوندي په حال
ډیـر خـوګـمون روبنـدې کو دې لیواني پـه ژوانـدین

مـو شمن خیل تنها دې خـواند نـه ډاک خوبیـنه لیدل
تـو دې غامې په جیل شې بند کـړلۀ عمـري په ژوندین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ثناء الدین جرس

### الزام دی

دلتــــه نـــــه کېـــږي ناکـــــام دے محبـــــت
دلتــــــه سراســـــــر الـــــــزام دے محبـــــــت

دلتـــه دوه زړونـــه يـــو ځـــای اوســـېدی نـــه شـــي
دلتـــــه هـــــر ســــاعت انجـــــام دے محبـــــت

دلتــــه خلــــق نفرتونــــه بلهــــا ســــاتي
دلتـــــه ډک د زهــــــرو جـــــام دے محبـــــت

تـــه کـــه هـــر څـــو د نفـــرت پـــه نظـــر ګـــورې
زمــــا زړه کــــــې ســــــرعام دے محبـــــت

ثنـــاء الـــدين جرســـه چـــا چـــا تـــه بـــه وايـــې
پـــه نظـــر کـــې يـــې نيـــلام دے محـــــبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جاني مسعود

# غرنۍ لهجه

څوک وو وُودهٔ وي دي فـــــاني ژوند پـه سُوړهٔ خوبینـه
دې چــــا دې ستـــــرګې نه وو تللي وي څُوژهٔ خوبینـه

څوک ؤو په زور زور پېوي دې ایشکې ډاکې ستـــــرګې
خو کـــــــــړای وو نشي پـه سوړهٔ لومدهٔ بونهٔ خوبینـه

دې میژ په خووره کشې میشتې ستي خپلــه لیار لنډوې
دې غـورمهٔ زئیـــړه پــــرې نـه کـو ولمــــونهٔ خوبینـه

خود ؤی په غرینـه شې تـور خـولي لیؤون رامې موتـاوي
چې ســـــاړې سیورې ته بې غامـه کـو شـپونهٔ خوبینـه

تېر خو دي تېـر ایندیاسې نور هن وېر تـه خبـر نشـته دای
که چیــــرې پرې نژدي بـې غـــــاوره پشـتونهٔ خوبینـه

"جــــاني" دې هر یوه مېسوپر پـه زړګـي دا آرمـون دای
چې مېژه کـــــــړي وای په ژونــد یو ورې شهٔ خوبینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جمال وزیر

# خالي لاس

د جنـــتونو ســـرچیـــني تــــه خالي لاس ولاړ یم
زمــا جنـــت زمـــا ادې تــــه خالي لاس ولاړ یم

پـــهٔ واړه خــلهٔ یــې خــومره ډېر فــرمائشـــونه وکـــړل
غـــربته! هغــې فـــرشـــتې تــــه خالي لاس ولاړ یم

د جنـــتونو پــــــهٔ لټـون لکه ســـوالګرى اخیـــر
د ګنــــاهونو کفـــــارې تــــه خالي لاس ولاړ یم

لـکه پښـتون د خپــل بابا کتــاب مــې نهٔ دى لـوستــى
نـــن ټیـــټې سترګې زمـــانې تـــه خالي لاس ولاړ یم

د خپــل زړګــي پهٔ هدیـره کښې مې ځان ښخ کــړ راغلم
جمـــاله هغـــې پښـــتنې تــــه خالي لاس ولاړ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جفنان پښتین

## سرخوږلیه

کیســـه مـــې درتـــــه وکــــړله تمـــــامه سر خوږلیه
تـــا بیـــا هغـــــه را یـــــادکــــړلو مـــاښامه سر خوږلیه

ځوانان مو شهیدان شول خوښندې مېندې موشـوې بـورې
په یـــو تښـــــر راتـــــول نهٔ شــــولې قـــامه سر خوږلیه

ړومبې صف کـې دې بیا درې مقتدیان سره پهٔ جنګ دې
لــــبړ مــــخ پســــــې راواړه وه امـــــامه سر خوږلیه

یا خکلـــیه خفـــه نشـــې دې کښې زه ملامت نـــه یم
نظـــر زمـــا در واوړیـــــدو بـــې پـــــامه سر خوږلیه

ســـاقي بـــه راتـــه ستـــا کوُل پـه هـــر ځای صفتونه
نشـــه نـــهٔ شـــوم خمـــار نهٔ شـوُمه جـامه سر خوږلیه

جفـــنان پشـــتین چې تا تـه د لفـظونو جـامې درکړې
پـه مـا بانـدې بیـا بیـا راشـه الهـــامه سر خوږلیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنون محسود

### قتلیږو

جرګه جرګه راؤځئ پښتنو له هره ښاره
چې غبږ پورته یو ځای کړو د مظلوم اولس د پاره

تر څو به په نامه د ترهګر باندې قتلیږو
تر څو به مو لمن وي ترهګر په نوم داغ داره

زمونږه خو له سترګو نه د اوښکو په ځای نم ځي
ته بیا هم ولې چُپ یې اې زما د قام واکداره

د ظلم او د جبر او ستم خو اخیر حد وي
قتلیږو هره ورځ صبه مونږ وتي یو له شماره

په مونږ باندې یو داسې اژدها مسلط شوای
ولاړ ګوته په خوله یو او څوک غبږ نه کړو له ډاره

جنونه ورکړه هر چا ته بلنه ورته وایه
شریک چې کړو یو بل غم کښې ځانونه وطنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمشد زار خان

## خیال کوه

الله چې څه درکړي پې نازېږه خیال کوه
دنیا کښې د ملنګ غونډې اوسېږه خیال کوه

دوه درې ورځې جوندون دای دا به تیر شي دا تېرېږي
جانانه هسې مه مرورېږه خیال کوه

دا خاوره د محبوب د قدم خاوره ګڼې نه دي
قدم په ورو ورو آخله او تېرېږه خیال کوه

زړګیه خلق ګوري او ښه پته ورته لګي
مړې اُښکې مې په مخ ځي و پوهېږه خیال کوه

انسان مزاج پرست دې دا موسم غونډې بدلیږي
په خیال کښې مې غوړېږه راغوړېږه خیال کوه

جمشید زار خان زړګای در پسې وخوت او ته خاندې
له سترګو نه مې زر زر فناکېږه خیال کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جانثار ماسید

## وراسبېدي

دې کلـــي چينارينـــه تـــه لامبـــې وراسبـــدې
پـــه دا خـــوؤره هـــار کـــور تـــه جـــنوزې وراسبـــدې

اشنـــا رو تاپـل شـوي جانـګ خـو داس لېبـې رو وکــړې
ګـــودر تـــه ووم دي کلـــي هديـــرې وراسبـــدې

دنيـــو وو وبلـــې نـــه وورّوي دې ستـــغ ســـتيني ســـيرې
دې ميـــږ خـــو تـــر آســمون پـــورې نـــوري وراسبـــدې

هېچـا پـه دغ واطـن کشـې پـه سـوؤړه زړه ژونـد و نـه کـه
هـــار کـونجـــي تـــه يـــې کلـــه حـادثـــې وراسبـــدې

دا کيمـــه بالـــو داتـــه شـــوه مېشتـــه دې مېـــږ بادشـــاه
چـــې ســـيوري ووم دې ډور وبـــس تـــر ځبـــرې وراسبـــدې

خـــوژ امـــن چېـــرې و نـــه لېـــده وبلـــې جانثـــار
دي شـــنې غـــرې وه سارينـــه تـــه ميـــرچې وراسبـــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حکمت یار برکي صیب

## دې څړمین واخت خابرې

چې ماتک وبوسي شنې پخې جِنجواړی هن ونخی
چې کوماندتې سپین ګل تویي شنه کوَرکوَنډې هن ونخي

چې دې سنسُبیې ګلون بلانګ شي دې وبله په غوړه
چې دې پروتیې ګلون ړانګ شي دې کامره په غوړه

دې لګاډ په غوړه چې آ تور تور انِځرون پوخه شی
چې دې خیسور آ بې دانه خوژه تیتون پوخه شی

چې وه کورې ته خیخکي روشي په مانځُلې پسې
چې په بزمون شې جینکې شوري په کانډُلې پسې

چې دې تُرکې سره ګلون بیا ماخشیلې شیري کو
چې ګانډې سپرغې شنې شي ووړکي ګړدیوې شیري کو

چې بیا په واسه کشې میناکې میناکون براوي
چې مالکون په شپیشتونه کشې بیا تامبیون لاګاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بیا دې غــره شپونه بــادلې دې واطــن وه ویایــي
چې وه رازمـــاک تــه خلــق بیا چــهوټا لنـدن وه ویـایي

چې دې وونـړه هغـه خـواژې خـواژې مېـوې پـاخې شـي
چې دې اعظـم ورســـک مانــدتې ، آلیــچې پـاخې شـي

چـــې دې وونـــړه مـانړې ماکــین تـه میرومشـاه تـه روشـي
چـې بیـا دې غـره مېـوې وه ټـاک تـه وه دیـره تـه روشـي

دې غـره شېـین چـې لېــوانی شـــي لېوانتـوب شـیري کـو
چې وه بلبــل تــه مخــه ونخطـي کاچــاتـوب شـیري کـو

چې بیـا کاټــور کـو شایطـونون ووړکـي چرګې بـامبرې
چې کو دې پــیر ډېــبې تـه مَخشــې دې مُوشـې ګوارګـوړّې

چې په مامونیــې پسې ووړکـــي وه کامــرې تـه لاک شـي
چې څوک ګوارګـوَړّې ځباوي څـوک وه تیتـې تـه لاک شـي

چــې پــه هــر ووړخ شـــې شېـروې ځُنـــګې وغـــازاوي
چــې شـاوان پــوخ شـي , مــارغاړوې ځُنـــګې وغـــازاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ووشه پسې دې کلی مول وه غرې ته وه وزي
چې په ملاخون پسې میناکې شنې پنګې ته وه وزي

چې دې واطن په تورې غرې کشې بیا پامني وشي
چې په کاندې , لورې , کامرې کشې بیا وېلنی وشي

چې ګاڼ خت ووغندي پاشتیانې وه اپبه ته دریمي
چې څوک دې لګاډ غوړه ته څي څوک و چینه ته دریمي

چې دې کاروون مانځې څېړې شنه شنه پرګي هن رو وري
چې بیا دې بدر لګاډ دې بدر زانغوزي هن رو وري

چې بیا بارړې ، شنه یووري ، شنه ناناز رانګ ولاګي
چې دې شوره هغه خوژه ، خوژه بادرانګ ولاګي

دې غره مرغې چې یویې هن وکو ، باچیون وبوسی
دې توس ورمړ چې حکمتیاره آلیګون وبوسي

بیا که په شنه آسمون ژالې وي شاژ پرېغله ته دریمي
که دې خدائ خواشه وه شېرینه شاژ ووغره ته دریمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حزب الله بهیر

### ښهٔ یمه

دومـــره جنګ زپلـې یـم لېـمهٔ مې خـراب شـوي دي
کـور کلــې کـوڅې پټـې هـــر څهٔ مـې خـراب شـوي دي

اوس هــغه پــهٔ مـا باندې مئیـنه مــاته نــهٔ ګــوري
هغـه تـاؤ برېتـونه ګــڼ وېښـــتهٔ مـې خـراب شـوي دي

زهٔ پهٔ داسـې وخت او داسې سیمه کښې رالــوئ شـومه
دومـــره مــې ژړلـې دي بـــــانهٔ مـې خـراب شـوي دي

ښـهٔ یمـه بـس ښـهٔ یمــه بېخــې جـــانانه ښــهٔ یمــه
بس یـو څـــو رګـــونه دي د زړهٔ مـې خـراب شـوي دي

مـا بهیــروزیر تـــه نصیـحت کـــول عبـــث ګـــڼم
ځــا مــړه هیـڅ نـــهٔ منـم مغـزهٔ مـې خـراب شـوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حنظله خیسوروال

## شین منافقات

د خـــــــو شیـــــــن منـــــافـــــقات دائ
دې پــــــــلونکي ډیـــــر بـــــاد عـــــادات دائ

دهٔ دې میــــــــژ حــــــــق دائ خــــــــواړلائ
هــــــــر ســــــړي تـــــه شــــهٔ جــــــوات دائ

مخــــــــومـــــــخ وو دیــــــــــرته ویــــــــایهٔ
ژاغــــــــــیدو ورستـــــــــــې شیــــــمات دائ

څــــــــنګرې شیــــــــن وزیـــــــــرســـتان وهٔ
خــــــو ویـــــس ړنـــــګ دائ حقیــــــقات دائ

تــــــو پــــــهٔ غلـــــې دوکـــــې بـــــرید وکـــــهٔ
لـــــــکه ویېـــــــــــر دې آخیــــــــرات دائ

اعـــــــتبار تـــــــه یـــــــې ځـــــــون جـــــوړ دائ
څـــــــومره کشـــــــلای پـــــــهٔ ســـــونات دائ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مو زړهٔ خو سمندر دائ
دې تو ډیر کمزورائ نیات دائ

اخترام دې مشر ورک شهٔ
نوي نسل زده خولکات دائ

مو ستي مه ستړیاوه ګله
دې مو ډیر زیوت غریبات دائ

هر سړای پټه خولهٔ نوست دائ
کاني ټول ته معلومات دائ

حنظله پهٔ زړهٔ خوژمان دائ
ضروري یې ملاقات دائ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیات محسودي

# دې وطن غرينه

تـــــور دې وطــــان غـــرينـــه دي غامينــه دي
بـــال پـــې ســـره يـــورينـــه دي غامينــه دي

وژوړهٔ پـــه تـــوكـــه پـــه ځـــُون وژوړه
كـــور پـــه كـــور ويـــرينـــه دي غامينــه دي

ژونـــد داى چـې تېـــريـــژي دنيـــو پـــوتې دو
ستـــړاى يـــــهٔ دړدينـــه دي غامينــه دي

خـدايه ګـــرون وطـان وو مـــې ابـود نـهٔ شـــي
ستـــړي ووم ستـــــې زړينـه دي غامينــه دي

بيـا دې غـام سيلـۍ روغلـــه څـــرخي كـــوي
څـــه نيبـــوګ واختينـــه دي غامينــه دي

ننـګ غېـــرت پشتـــو ووم ســـر خـــواړلاى داى
هســــــې منـــدلسينـــه دي غامينــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــــه غیـــراتــــــي دې دنیـــــــــو تلـــلـــي دي
پـــــــرې یــــــي چـــــې سرینـــه دي غامینـــــه دي

خـــــــوره دې وطـــــان هـــن پـــــې یتیمـــه شــــوه
ړنـــــــګ پـــــــــــې وطنیـنـــه دي غامینـــــه دي

څــــوک چـــې امـــن غـــوړي خـــواشولي غـــوړي
پـــــــرې یـــــي ګـــــــربنینـــه دي غمینـــــه دي

زه حیـــــــات مسیـــد بـــې ننګــــــه نــــه یــــمه
مـــــوت مـــــې غبــــارګ لوسینـــه دي غامینــــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیات زینده ور

### سرې مه اوباسئ

ازار به اوکړي له قطاره سرې مه اوباسئ
لېږ دې نشه شي له خماره سرې مه اوباسئ

ښکلو بیشکه چې نخرې کوئ نازونه کوئ
ښکلو خو داسې له اختیاره سرې مه اوباسئ

د وطن خلکو د وطن له حاله ځان خبر کړئ
د وطن خلکو له بازاره سرې مه اوباسئ

د امن خوب ویني د امن خوب یې ډېر ارمان دے
لېږ یې دمه کړئ له چیناره سرې مه اوباسئ

هغه که ځان سینګاره وي هغه بې ځایه نهٔ دے
هغه مئین دے له سینګاره سرې مه اوباسئ

د مینې هره خوشبویي دې زینده وره واخلي
د چا د زړهٔ له نوبهاره سرې مه اوباسئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حبیب الله مخلص

# نیمګړای ژوند

د ژوندون په داسې لار زمونږ مزل دای
سرمایه یې تور لحد اخېر منزل دای

وخت د چا انتظار نهٔ کوي تیریږي
که څوک ښهٔ کړي او که بد عمل یې خپل دای

نفرتونه مو کړلي ځای پر ځای دي
پهٔ دنیا کښې څومره بد زمونږ عمل دای

پښتنو چې پکښې څهٔ ګټه موندلې
هر وګړای د خپل ورور میراث ته غل دای

له مودو پس مسافر ورور کور ته ورشي
کور کښې ورور یې ببخي خوښ پهٔ نهٔ لیدل دای

یم حبیب مخلص پرېشان نیمګړي ژوند کښې
چې لیکلي مې پرېشان واړه غزل دای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمید حساس

# د ژوندون کاروان

د ژوندون دغه کاروان هسې تېرېږي
لکه باد چې د خزان هسې تېرېږي

ځنګه تېرې چې دا تېرې زمانې شوې
ورځې شپې لکه طوفان هسې تېرېږي

دا ښایسته ښکلې ځوانې چې ته پرې نازکړې
لکه ګل د ګلستان هسې تېرېږي

دا رنګونه ،محفلونه او وختونه
په شېبو لکه باران هسې تېرېږي

ته ماشوم وې بیا زلمی او بیا بوډا شوې
بس د عمر دا دوران هسې تېرېږي

څومره راغلل دې نیمګړې دنیاګۍ له
څومره لاړل په ارمان هسې تېرېږي

هر ذي روح به د مرګي پیاله ضرور څښي
نن حساس هم په جهان هسې تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حکمت یار

## راوغږېږه

زمــــا د ســــختو ورځـــو یـــاره لـــږ را وغږېـــږه
لاس کـــړه اوچـــت لـــه قنـــداهاره لـــږ را وغږېـــږه

پـهٔ مـړاوو سـترګو کښـې یـې هغـه اثـر شـته او کنـه
لږ.رانـــژدې شـــه اې رېبـــاره لـــږ را وغږېـــږه

ذهنـــي مصـــروف یمـــه ببخـــي مـــې توجـــو نـــهٔ اوړي
نـــن ســـخت بـــې صـــوره یـــم ســـتاره لـــږ را وغږېـــږه

څوک دې یادیږي چې دې سترګې شوې لـه اوښـکو ډکـې
اې پـــهٔ روغتـــون کـــې پـــروت بیمـــاره لـــږ را وغږېـــږه

د خپـــل وطـــن مـــازیګرې درتـــه یـــادیږي کنـــه
پـــهٔ پـــرادي ښـــار کښـــې دکانـــداره لـــږ را وغږېـــږهٔ

مـنم چـې سـتړې یـې سـتومان یـې خـو زمـا د پـاره
لږ.پـــهٔ خنـــده شـــه حکمـــت یـــاره لـــږ را وغږېـــږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حبيب ماسيد

### غرېږم

لېوني په شان د ځان سره غرېږم
کله کله د ګرېوان سره غرېږم

اوښکې توې مې شي د سترګو نه په ځمکه
زه چې کله د آسمان سره غرېږم

حق وئيل زما هنر تجربه نه ده
څه چې وايم د ايمان سره غرېږم

زه انسان يم ګناهونه رانه شوي
په کوم مخ به د سبحان سره غرېږم

زه حبيب به د منصور غوندې په دار شم
په هر ځي د حق بيان سره غرېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حافظ میرزین الله احساس

## ګور ګورې

شو وخت د پسرلي کېږي مزلي خوندوري
ګور ګورې به راوړو که مو مونډلي خوندوري

رنګینې ځکه ښکاري دا د دنګو غرو لمنې
چې ګرځي پکې زرکې او بلبلې خوندوري

شپونکیه د وطن ډېره موده زمانه ورکه
ځو نن کړه زمزمه راته بدلې خوندوري

بندار د شاعرانو جوړوي کله نه کله
چې یو بل سره اوراوو غزلې خوندوري

ارمان نور د احساس په دې دنیا جانانه نشته
چې خوب یې کړې وې ستا په ځنګلې خوندوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خان عالم بدروال

## خــــــــبڼې دو

تــــه ګــــــرام نـــــه یـــــي مهنـــــګايي دو
نـــــن ســـــابو لشــــــکي نـــــېشــــــتي دو

ملکــــــــــون ســـــــره پــــــــــې رټ دي
دې یتــــــــــیم ژنکـــــــــــي خــــــبڼي دو

نـــــه تربیـــــــر شـــــته داي نـــــه تـــــره شــــته
بس ملـــــــــګریه ځــــــــــون ځـــــوني دو

لـــــــژ پــــــه ښنــــــګ رو ســــــره کشــــــــېنه
ده نـــــــن شــــــــــپه مـــــــې آخیـــــــري دو

دې مـــــــــو زړه دې پـــــــــــې رو شــــین کـــــه
ده دې ښــــــــــــه رنګــــــــــه یـــــــــوري دو

خــــــــدایه ج تـــــــه مـــــې شـــــې پـــــه لـــــوري
ستــــــــــــړيي ستـــــــــــړيي زنـــــــدګي دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــه یـــــوه لیـــــار دوه وریـــــنه نـــــهٔ ځـــي
نـــــــن ســـــــابو داســـــــې وروري دو

میـــــنه وکـــــې میـــــنه شـــــه دو
میـــــنه تـــــوله وررولـــي دو

مـــــوته ګـــــرونه مالیـــــمـــــیژي
میـــــژ مـــجبور یـــي! تـــــوس خـــاني دو

تـــــوس ووړهٔ زوړهٔ مشـــــرون یـــــې
ژنیـــــه ده ووم بیبـــــخـــــتـــي دو

خـــــان عالـــــم بـــــدروول وســـــوؤي
پـــــه سکـــــروتې وخـــــتیری دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلیل مهجور صيب

# تش کچکول

ویئــلے نـهٔ شـم چې پـاګل او کــه هوښــیار یمــه زهٔ
خــو ژړېــدلے د پښــتون پــهٔ انتــشار یمــه زهٔ

وس مـې نــور نشــته د قلـم پـهٔ ژبــه خـېر غــواړمه
قــامي بــازار کښــې د یـــووالي خریــــدار یمــه زهٔ

دا چې خـړپړ او زېـړ زبېښلے نیـم ژونـدے ښـکارمه
راغلـے اوس د دهمــاکې لــــه وران بــازار یمــه زهٔ

زهٔ د ارمــان پـهٔ شــنو کونتـرو پــسې منــډې وهــم
ارمان دے یوه پـهٔ لاس رانغـله نــهٔ د ښـکار یمــه زهٔ

بېګا مـې خـوب کښـې ډرون حملې او بمـبارۍ لیـدلې
ډېــر ژړېـدلے پـــهٔ کابـــل او کنــــدهار یمــه زهٔ

اوس پـهٔ څـهٔ هیلـه د دیدن تـر هغـه کلـي نــهٔ ځــم
تـش کچـکول ګرځمه ملنـګ د خپـل اختـــیار یمــه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ښاپیریو بې اختیاره پټ مخونه نهٔ کړل
قسم به ستا پهٔ ښکلا نهٔ خورم زمه وار یمه زهٔ

پهٔ هنداره کښې د حالاتو چې خپل ځان ته ګورم
د زړهٔ چاودون پهٔ ننداره د خپل کردار یمه زهٔ

لافې کوؤم چې زهٔ به داسې وکړم داسې وکړم
کولے نهٔ شمه غازي د تش ګُفتار یمه زهٔ

د ننګ پګړۍ مې صندوقي کښې لا د پلار پراته ده
زهٔ لا شکي یم چې سړے د یو دستار یمه زهٔ

چې مې ټول عمر پکښې ونړه د ژړا واخیسته
ډرامه د ژوند کښې مهجور هغه اداکار یمه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلیل الله خلیل

## جانانه

څه ده زما د زړه رضا جانانه؟
زما رضا ده ستا رضا جانانه

خدای خبر چرته به وي څنګه به وي
ده مې ملګرې دا سودا جانانه

ځه چې "پیغام د امن" او رَسوو
تر لرې برې پښتونخوا جانانه

نن ماښامے به مې په نوم کړې که نا؟
که به کوې "نن او سبا" جانانه

لږ یې د مینې امتحان اخَله
ړوند اعتماد مه کړه په چا جانانه

ګرَمه منمه چې په وچو شونډو
غواړم آ "د ناز مُسکا" جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینــــې کښــــې ډېــــرې کشــــالې راتلــــی شــــي
ګــــوره چــــې نــــه شــــې وارخطــــا جانانــــه

دا "غمجــن نــن" مــو چــې بــې غمــه شــي لــبږ
هلــــه بــــه کــــړو غــــم د ســــبا جانانــــه

خلیــــل د داســــې محبــــت قــــاءل یــــم
چــــې وي خلــــوص ، وفــــا وفــــا جانانــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاورین خاورے

# د چا کردار

څوک خوښ د چا صفات کــړي پهٔ هغو باندې مئین شــي
څوک ځیر ځیر ورتــه ګــوري پهٔ لیدو بانــدې مئـین شــي

څــوک زیــات لـري ښایست د چا کـردار مُــتاثر کُن وي
څــوک تــش د چــا د غــږ پهٔ اورېـدو بــاندې مئـین شــي

څوک وتـړي د زړهٔ لارې یـو خاص چاله مخصـوص شــي
څوک پراخه کړي سینه ځي پـهٔ دوه دروبانـدې مئـین شــي

څــوک سانده ، کـړي سنــدره د وطن پـهٔ اندېښــنو کښې
څــوک غــږ د یاقـربان شـي پــهٔ ټپــو بانـدې مئـین شــي

څــوک غـم د خپلې خپټې کــړي د بــل فکـر یې نــهٔ وي
څــوک غم کړي د مِلت څــوک پهٔ پردو باندې مئـین شــي

څــوک غـږ د کُل جهان شــي پـهٔ ښـکاره احـد احد کړي
څوک پټ پـهٔ نیمه شــپه کښې پـهٔ سجدو باندې مئین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک دومــره قیمتي شي چې حساب یې د ثانیو شي
څـوک تـش د ژونـد د شـپو پـهٔ تېـرېدو باندې مئین شي

څوک خاورې کړي حالات،خاورې د خاوروسره سم شي
څـوک مـومي زر زمـین پـهٔ سپینوسـرو باندې مئین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاورې پښتون یار

## سندرې غوږې

زړګـاې مـې نـه منـي پـهٔ یـــوهٔ سورت سـندرې غــــوږې
پـه دا پـرادې وطـن دې خپـل وطـن ګوارګـورې غــــوږې

دسـې پــــهٔ یـــوهٔ پـــه دوه کسـون انقـیلاب نـه رو دریمـې
انقـیلاب شـــور غـــوږې اولـس غـوږې لاشـکرې غـــوږې

آس دې تعجب کیسه دو کور مې ړنګ بازور مې ړنـګ دای
خو میژ لیـا وېس هـن دې مسلې حل پـهٔ خبرې غـــوږې

دا تورلنګـاې دې میـــژ دې پـــوره امـــن نـــهٔ جـــوړه وې
دا تورلنګـاې دې مـیژ دې تـورې غـــرې نشـترې غـــوږې

مــیـــژ ده پـــــه خپـل وطـن دې امـــن زنـدګې تـه پرېـژدې
میـژ نـــهٔ بنګلـې غـــوږې او نـــه څنـې موټـرې غـــوږې

پـارین مـــې بیـا دې زړه دې دړده شـپه کـــړه ویشـه تېـــره
لیوانـاې زړه مـــــې یـــو دیـدان دې څنیـاورې غـــــوږې

خاااورې جان څه غوږې چې هـــره ریځ پـه دغـه لیار څې
لکه چې وېس مې هـــن مړې سترګې بانـــه ورې غـــوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوست علي لېونی

## پري ذاد

دې حسن پري زاد که عشق پيري لېونې بولي
بېلتون خلق يادوي که نه مرګی لېونې بولي

ای تاسو ورته څه وايئ او کوم نوم ورته اخلئ
زمونږ خلق اکثرره پسرلي لېونې بولي

بانه دې چې په دې سترګو کېږه واړه ولاړ وي
اګرم نه دې چې ګل پورې ازغي لېونې بولي

هغې وويل چې دا سړی خو نه لېونې نه دی
نو ولې په دې چم کې دا سړي لېونې بولي

زه نه يم لېونې او نه په نور لېونې کېږم
ملګري لېوني مې لېوني لېونې بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دین الله پاشیتن

## مئنتوب

ژړـی دې داموم چې دې غـرئـیزې په سیـولي نهٔ څـي
بـیا وو دې لاوانګـې دې ګـــړدي خـتهٔ نـه بي نهٔ څـي

ځون پسې قاطـور دې فـریشتې قیصه بـې غـامه شـه
چا وېل چې سـړای وي او پـه دهٔ پسې سـړي نهٔ څـي

تاګ یـې وېـس دې مینې دې قدام نه خاتو شـوای دای
ځکه مې وهٔ مـخ تـه لکـه تېر پـه چکچاکـي نهٔ څـي

وېس یـې مئینتوب لکه چـې زور دې زړهٔ کم کړای وي
وېس یې دې جـومې نـه دې رامبېلې خـواشبیي نهٔ څـي

اس دې پـه سندرې خپل یقـین بـاروبـار شـوای دای
داسـې پـه سنــدرې دې وطـن نـه پنــجاپي نهٔ څـي

څـرنګ وو جنـت ته بـې حیـسوبه بـې کېـتوبه څـي
حـکم چـې دې خدای وي او پـه مانـړه دې نبي نهٔ څـي

مـړ د دې نیشـــتی نه پـه مـرګي شي دیــن الله دیـاته
خـوژ د مــزدیري تـه دې پــرادي وطــن ببخي نهٔ څـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روغ بادشاه خیال

## راکه

څـــهٔ لـــږ ډېـــره مـــینه د پـــښتو د پـــښتنو راکـــه
تـاؤ راتـاؤ بـندېز کـښې شـــور ماشور د لېـونو راکـــه

ستـړي ستمـېدلي پښـــتانهٔ چـې پکـښې ســاه واخلــي
ځـای پـــه مـېکده کـښې د سـرو میـــو د کاســـو راکـــه

زه پښـــتون پـــه لـــومـــه د زاړهٔ منطــق کشــېوتی یـــم
نـــوې فـــلسفه نـــوې منطـــق د خلاصېـــدو راکـــه

لـــمه پښـــتونخوا چـې پرې دمـــه دمـــه خـــړوبه شي
واســـې واسـې فـکر لـــه اتـــکه تـــر آمـــو راکـــه

خـونه د سامـراج چـې پکښې وســـوزي لمبــه وکــړي
څــهٔ داســـې لـــه اوره ډک زړګـــې د اســـويلو راکـــه

چـا یـې څــه دارو درمـــل عـــلاج د بیمـــارۍ وکـــړو
لـــږ غـــونـدې خـــبر د خـــړو پـــړو پښـــتنو راکـــه

خیـــاله هسې نـه چـې وعـدې وشي تېـرې هېـرې شي
ماتـه د ځـــوانـــۍ پـه سـر قسـم د یـــو کېـدو راکـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روئدار برکي

### سلګۍ

ستــــرګې دې شيــــرين يـــــار شـــــرابونه دي
مستــــــې دي نشـــــې دي ډک جـــــامونه دي

بــرند بــرند راتـــه اوګـــوري زخمـــي مـــې کـــړي
ستـــــرګې د بڼـــــو يـــــې خنـــجرونه دي

لاس مـــــې د ژونـــــد وختـــــل غـــورزېــــږمه
هـــــر خـــــواته تيـــــارې دي ګنـــــړګونه دي

ســـر مـــې پـــه زنګـــون ايښـــې سلـــګۍ کـــوم
زړهٔ کښـــې مـــې بـــل شـــوي ســـرهٔ اورونـه دي

تـــش دې د يـــــادونو چـــــوکيـــدار شـــــومه
زه يـــــم تنـــــهايي ده ستـــــا غـــــمونه دي

خـــــدايه زه روئـــــدار درنه ډېـــر ژونـــد غـــواړم
پـــاتې مـــې پـــه زړهٔ ډېـــر ارمـــانونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## راحيدالله وزير

# د شمله ورو پښتنو

د زخـــم زخـــم آنديښـــنو لـــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې
د زهـــرجنـــو شـــوکيـــرو لـــــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې

دلتـــه ســـوچه مُحبـــتونه پـــهٔ چـــــــړو حـــلال شـــي
د شمـــله ورو پښـــــــتانو لـــــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې

لکـــه کافـــر د دوزخـــي لمبـــو پـــهٔ ســـــــر ولاړ وم
د انتـــظار د ســـرو غـــرمو لـــــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې

موســـم ســـپرلے، د هجـــر باد خـــزان خـــزان ذهنـــونه
د ګل پـــــهٔ پـــاڼو د لمبـــو لـــــه زوره څـــــهٔ خـــبر يـــې

لکـــه مـــرغۍ پـــهٔ دېـــوالونو بـــاندے شـــــپې تېـــراوم
د وحشـــتونو د تيـــــارو لـــــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې

رنځـــور تصـــوير د ژونـــدانهٔ، جنګ او جـــانان فـــرياده
بـــس د نـــاترسه حـــادثو لـــــه زوره څـــــهٔ خبـــر يـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رفعت الله مخلص یار

## توره شپه

دا څــه وشــول چــې سپــین تــور روتــه لیــدهٔ شــي
تــوره شــپه شــوهٔ دیشــمان ورور روتــه لیــدهٔ شــی

زه دې حــق بــاطل تمــــیز کـاولایٔ نــــه شــه
روغ ســـړای وي خــــو بیـــمور روتــه لیــدهٔ شــی

پــه اسمــون کشــې دا چــې تــورې وریــځې ګــرځي
خــدایٔ د خــیر کــو ژالــی وور روتــه لیــدهٔ شــی

بیــا دې ســـرې غـــوشې مــرغی ویـــنهٔ چغـــیژي
پــه مانځــوله کشـــې مانګـــــور روتــه لیــدهٔ شــي

پــه ظاهـــره وو اپـــرې وي ایـــرې نـــهٔ دي
دې ایـــرې لونـــدې آنـدړخـــور روتــه لیــدهٔ شــي

بـــې ګنــاه وینــه توئیــــژي پـــه وطــن کشــي
ځکــه خپـــل وطــان خیـــنخور روتــه لیــدهٔ شــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې خپل وطن ته غور فکر وکه
پۀ یور سوائ دائ تک تور روته لیدۀ شي

چې قومینه پسې تلل آ مشرون څه شول
مشار ژنهای کور پۀ کور روته لیدۀ شي

مشري چې دې اجهل و لوس ته وپرشي
عزتمان ؤو پۀ خرۀ سوور روته لیدۀ شي

پۀ قرآن او پۀ حدیث هن نه پئېژه
پۀ پشتنه ځون کمزور روته لیدۀ شي

خپل رواج رسم دستور ځوانونې پرېشوي
دې دیشمن فیشن دستور روته لیدۀ شي

مخلصیاره دا روتلینکای وخت مې زړۀ خوري
دې پاړدې دیوول نسکور روته لیدۀ شي

# رضاءالله پخواني

## ګلاب نه کړم

زه پالنه د خواب نهٔ کړم
انقلاب انقلاب نهٔ کړم

د ازاره دې یرېږم
تاته ځکه ځواب نهٔ کړم

تر هغې پورې یې ښبنمه
څو چې ځان پې خراب نهٔ کړم

په هر څهٔ باندې پوهېږم
غلې یمه حساب نهٔ کړم

د رښو سترګو مجنون یم
بوسه راکه ګلاب نهٔ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رېحان مجنون

## تېر شوای وخت

واپـــاس نـــه روخـــي ډېـــر وو ارمونینـــه پســـې وکـــې
زړګیـــه بـــې مانـــې وو پریوودینـــه پســـې وکـــې

تېر شوای وخت "رحمان" یایي چې مړای دې لحد وي
مـــړ نـــه رو ژوانـــدای کیـــژي کـــه ویـــرینه پســـې وکـــې

شـپونکیه خیـال مـې نـه شـي چـې رامـې دې وي راوونـې
چـې بیـا وو دې "هـای" ژاغ پـه ګاړنګینـه پسـې وکـې

ترخـــه خابـــره څـــه چـــې پـــه ترخـــه رانـــګ دا پېـــژي
وېـــس نـــه روګـرځـــي آســـې وو ژاغینـــه پســـې وکـــې

مجنون ماسید وو مړ دي جنوزې پـه کـاټ شـي یـش وي
خابـــار وو شـــې چـــې کلـــه تکبیـرینـــه پســـې وکـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رضاء الله هلال

## ګناهګار

ګناهګـــــار دې وي چـــې زړه د چــــا ســـــخي وي
پــــه ســـړیو کـــښې بـــس دا ســـړي ســـړي وي

یـــو مـــې ســـخته التجـــا مالـــیار تـــه اوکـــړه
مالیـــار پرېښـــودم خـــو پـــه ګـــل پـــورې ازغـــي وي

د ژونـــدون مـــزه د یـــار ســـترګي لـــیدل وي
أف! د هجـــر شـــه بـــې خونـــده زنـــدګي وي

چـــې یـــې زړه وي ګناهګـــار دی ګناهګـــار دی
ګنـــې ډېـــره خـــو درې لوپشـــتې د هـــندي وي

کـــوم ســـړي کښـــې چـــې خلـــوص وي او حیـــا وي
د هغـــه ســـړي ژونـــدون ډېـــر قیمتـــي وي

کـــه د مـــرګ پـــه خـــوب ویـــده رضـــا هـــلال شـــوم
تـــر قیامتـــه بـــه مـــې وینـــه شاعـــري وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رضا راغزیوال

## لشکرې غوړي

زړګـای مـې نـه مـاني دي چګـې غـرې سـاندرې غـوړي
پـه خـړ دامـوم شـې لپوانـای تـورې ګوارګـورې غـوړي

انقــلاب چــا دای رو واســتلای دي جــذباتې پــه زور
انقـلاب ســوچ غــوړي تنظـیم غــوړي لشــکرې غــوړي

کیســې پـه مـړي نـه حـال کېـژي پـه نوسـتي حـال کېـژي
میژ نور جانګ نـه غـوړي نوسـتای غـوړي خبـرې غـوړي

څوک چې په دغ واخت شې دې چا نه دې وفـا طامـه کـو
لکــه دې "ســري" پــه ټیپــي شــې ملغلــرې غــوړي

راغزیوول څه غوړي دې سولې سوول مینـات یـې کـړای
بیغامــه خــوب تــه ســاړه ســیوره دې ناشــترې غــوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رحیم اظهار

### جادوګرۍ

دې تــو دا خــواږې ســترګې جــادوګرې دي جانانــه
کیســـې دې پـــه مثـــال دې ملغلـــرې دي جانانـــه

دې خیـال مرغـه مـې ولویـده منـزل یـې نصـیب نـه شـه
ارمـــون دای مـــوتي شـــویې یـــې وازرې دي جانانـــه

روڅـه چـې نـن خـو خـولې زۀ تـه پـې تـوري کـې پـه مینـه
رو وړیـــي مـــې دې چګـــې غـــري ګوارګـــورې دي جانانـــه

دا وشـــایه چـــې بیـــا دې نـــن دې څـــه شـــي ارادې دي
کیســـې دې ګـــاډې واډې مختصـــري دي جانانـــه

وېرڅـه خواشـه دي خپلـه دې اظهـار غامینـه مـه کـه
بـــادالې مـــې پـــه زړه دې صـــابر زغـــرې دي جانانـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زېب منتظر

## پاڼې پاڼې ګل

ارمـــان د بیـــا لیـــدو یـــې پـــه زړګـــي کـــې ګـــرځوم
خوږ یاد یـې د منګي، پـه مات کودي کـې ګـرځوم

چـې تـا راتـه راکـړی، لکـه نښـه وه د میـنې
وچ شـوی، پاڼـې پاڼـې ګل پیـکي کـې ګـرځوم

لـه دې نه بـه نـو بلـه بـدمرغي، تـه وایـه څـه وي؟
لمـن تـشه لـه ګلـو، پـه سپـرلي کـې ګـرځوم

جـانان مـې لـو تـه تللی د لونـګو، سـره غـرمه ده
اوبـه وریپسـې څـکه پـه منـګي کـې ګـرځوم

یاد کـړی دې وو چیـرته، پـه غـزل کـې (منتـظره)
اوس څـکه شینکی خـال پاس، په تنـدي کـې ګـرځوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زابیت حقمل صېب

## وير ماتم

پښــتون چــې يو بيـا تــر اټک تـر قنـــــــدهاره نـهٔ شـي
دا ويــر ماتــم کيــسه به کـــله هـــم قـــــراره نـهٔ شـي

چـــې زهٔ و تـا ته او تــهٔ ما ته احـــــــــترام و نهٔ کړې
دا دې وطـن فضـاء بــه کله خــوشګـــــواره نـهٔ شـي

نــوې فتوې نـــوې فـــــــــتنې به ډېــر دوام و مومــــي
دا دې مـــلا لاســـونه پــرې چـــې لـه دربـــــاره نـهٔ شـي

د ځـــان پـهٔ وينو ډېـوې بلې کړئ او مــــړې چې نـهٔ شـي
يارانــو پـام کــوئ چې شـــپه اجـــــــاره داره نـهٔ شـي

حـــــــــقمله لاره د نجـات نـهٔ ده فـــرسوده نظــريات
تــر څـــــو يو نــوې انقـــلاب ته لار هــــــواره نـهٔ شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زیدي محسود

# د جار نامه

ژونــــده د خپـــل یـــار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه
اوس لـــــکه د جـــــار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه

ستـــــا د جـــــــــــدایي هـــوا وهلـــے یـــم
ځـــــکه د سیـــــنګار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه

سیـــوري مـــې پـــه سـر بـانديې اوس نـــه ښـــکاري
آخ لکـــــه د پـــــــلار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه

قـــرض د خنـــــدا چـــې راکــــــــــولو یـــې
هغــــــه دوکانــــــدار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه

ویلـــې یـــې غـــــزلې د زیـــــدي محــــــــسود
خـــلکو د غمخــــوار نـــامه مـــې ورکـــه شـــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلیم قرار

# مکرجنه جادوګره

په اسانه ژړا راشي ، په اسانه ایمنېږم
ډېر په ګرانه له عشق اوړم ، ډېر په ګرانه مینېږم

زما ژوند افسانوي دی ، لکه اور کښې سمندر یم
نه وتلی شم له اوره ، نه پړه اوربانديې سوزېږم

په پنجره د غلامۍ کښې ، تل به"میټهومیټهو" وایم
که توتي به شم د غرونو ، سردرو کښې به ګرځېږم

ستا د فکر هر کتاب مې ، پاڼه پاڼه دی لوستلی
ستا د کرکې الفبا یم ، ستاکتاب کښې نه ځایېږم

مکرجنه جادوګره ! ستا خبرو ته غوږغوږ یم
له تا ستر یمه پوهېږم ، ولې بیا هم نه پوهېږم

پسرلی دی ورمې را غلې ، هلته بیا سنځلې ګل شوې
یوه څانګه راته راوړئ ، "قرار"ډېر پسې ځورېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سېلاب محسود

### ځله کډې بارولې

ځلا کډې بارولې
کواري کاتُّې يې ترانګلې
له شوال يې بائولې
و بېرمل ته يې بيولې
د پرېغله له لوړې خوکې
ورته ما کول ژاغونه
مخ يې نه را اړولو
په خولي يې پټولو
کتار ئيشکې بائېدې يې
پستې شوندې رپېدې يې
په سلګو وه سلېدله
غرېو نيولې ژړېدله

ورته وېل مې

په ما ګرانې له ځان ګرانې
راته و ياېه جانانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامره ولې ته خپه يې
زورولې دامره چا يې
چې نه ژاغ راته کوې ته
او نه مخ را اړوې ته
دا په په څه يې ته ناتلې
دا يې ولې غم زپلې
په ما ګرانې له ځان ګرانې
راته وايه جانانې

## راته وېل يې

دا دې ځمه درنه ځمه
دا وطن نور در پرېږدمه
دلته وسول چنارونه
د شوال شنکي بڼونه
دلته ړنګ شول ګودرونه
هم حجرې هم جماتونه
نه زرکون کوي ژاغونه
نه بلبلو اوازونه
د شپونکي شوه شپېلۍ ماته
ځنې جوړه شوه ميراته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلـــــته ګـــــــرځي اوس زاغـــــــون
ورســـــــره پړانګـــــون لېـــــــوون
دلـــــته وشـــوې بـــورې کـــــونډې
هـــــم بــــې شمـــــــيره يتــــيمون
کـــور مـــې ړنګ شـــو مـــور مـــې مـــړه شـــوه
ورور مـــې مــــړ شـــو خـــور مـــې مـــړه شـــوه
لــــوپټه مـــې هــــــم لمــــــبه شـــوه
راتـــــــــــه مـــــــــاته دروازه شـــوه
مـــــړي ايشــــي دي پـــــه غــــرو کشـــــــې
د شــــــوال پـــــه ســـــرداروکشـــــــې
نـــــه ګــــورکن شـــــته نــــه قــــبرون
خــــــوري لاشــــونه مـــــو لېـــــوون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلطان مرصود

### غږ کولې نهٔ شو

زمـــــا د شــــعر مضمونه او عُــــــنوانه پسرلِیه
جـــــانانه پسرلِیه
رنګــــونه راچــــاپېر کړه لــه هـــــــر خوانه پسرلِیه
جـــــانانه پسرلِیه

مــــــودې وشوې زمــونږ چې په اوړونو کې راګېر یو
هیڅ غــــږ کولې نشو
د جبــــر او وِحشت پــــــــه زنــځیرونو کې راګېر یو
هیڅ غــــږ کولې نشو
دا ګـــــرانه کړه پــــــر مــونږ باندې آســانه پسرلِیه
جـــــانانه پسرلِیه

مــــونږ خپل آرمــان په تا پــورې تــړلی درته ناست یو
راځه راپیــــــښه وکړه
خپـل سر او خپـل سامان مـو دې بایللی درته ناست یو
راځه راپیــــــښه وکړه
د ســــــولې زیــــــــری راوړه لــه آســمانه پسرلِیه
جـــــانانه پسرلِیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــــا د وطن کـونډې یتیمــان لــه ژاړه خلاص کړه
خندیړه او غـــــوړیړه
د وخت غـــــرمو ځپلي مــزدوران له ژاړه خلاص کړه
خندیړه او غـــــوړیړه
هیـڅ یــــــره چې ونـــــــکړي له هیـچانه پسرلیه
جــــــانانه پسرلیه

رســــــا که له کابل نه پیـښور تـــــه راروان شوې
ژوندۍ بـه کړې سندرې
مـــــرصود به تېـه وکـــړي ورته ته که یاقُربان شوې
ژوندۍ بـه کړې سندرې
په جــــاره به دې ونــــــمانځو افــغانه پسرلیه
جــــــانانه پسرلیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید محمد صادق شاه صادق

## د زړهٔ مرهم

تعبیر یې راته وایه ملا حل به شي که نه
خفه جانان زما د لارې مل به شي که نه

منت زارې یې نه کړمه خود دار یمه ملګرو
مغرور زما د مینې په درشل به شي که نه

مات یې تکبر شه لوی الله ته به زارې کړم
د یار مغرور انداز چرته بدل به شي که نه

د عشق لار د خندونو او ازغو ډکه ملګرو
رالنډ چرته زما دغه مزل به شي که نه

یاران د زړهٔ مرهم وي، ولې زه یم بدقسمته
صادق زما د خوږ زړګي درمل به شي که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلطان احمد نادان وزیر

## کرکه وشه

د آمـــن فصـــل پـــــه دې زمـــــکه ؤشـــــه
لار یـــــې زمـــــونږه تـــــر خنـــــدکه ؤشـــــه

چـــې مـــې خـــزان خـــزان ژونـــدون لـــه راشـــې
د پســـــرلو ســـــره دې سپـــــکه ؤشـــــه

مـــونږه څـــهٔ نـــهٔ وړو د کوکنـــارو لـــه بـــاغه
خـــو د لالـــي جـــولۍ مـــې ډکـــه ؤ شـــه

چـــې بیـــا زمـــونږ کلـــي تـــه راشـــې پســـې
بیـــا دې د پـــلار نـــه داســـې ورکـــه ؤ شـــه

"نـــادانه" بیـــا مـــې زنګـــوي شـــعرونه
د غـــزلـــونو نـــه دې کـرکـــه ؤ شـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سبیل زانګاولای

## دې تو وعدې

یـوري چـې یـووري کـه بیـا یـې تـر ورهٔ پیـره کـاوه
لاوژینـــه قـاسـامینـــه وبـــس پـوخـــهٔ پیـــره کـــاوه

دې تـو واعـدي نیمګړیـي پـوتې کـېـژي داسـې مـه کـه
څـــه تـــه پیـــره کـــاوه او څـــه وو زه پیـــره کـــاوه

وؤخستای مې په سار قران دای کا خدای ګونانګور نه کړه
بـاس هـار چـا تـه دې ځـون ســوؤره وژده پیـره کـاوه

تـو هـن پـه چتـرالۍ ټوپـۍ ګؤلـون ټیمبلـي نـه دي
پـــه زیـــېړه زنیـــې زه خـولینـــه نـــه پیـــره کـــاوه

که خدای چېرې واست روکه دا واعده مې پاخه کړیـې
پـه هـار ځـوی شـې وو لار بـار پاشتونـه پیـره کـاوه

کـه زانګـي لېوانـای پـه خپـل واطـن دبرتـه ژوانـداي وه
لایلـــو دې تـــو وو هـــاره ګیلـــه زه پیـــره کـــاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سهېل شکیوال

## مرغۍ

مرغۍ ووم ویشتې ، رټ شیطونون وي
په ټول کلیوول زه اوجنان ګرون وي

مرغۍ ووم ویشتې ،تللي وو غره ته
پیره ریځ ووم کړا ، تیره وه غورمه ته
په ینډې ریژدي ، نه په تاوون وي

سبق ته نه تلي ،هر وخت خولې وي
پیر ریځ ګرځیدلي ،بس وولې وي
چې کورته روتلي ، لومده بارون وي

جومې ووم بژه وې ، جوړې لندې وې
په غوړام ګرځاولې ، تاموشې وې
هرچا لیدلي، یوه ځوی راوون وي

مرغۍ ووم ویشتې ، په سره غورمه کنبې
هیڅ رحم نه روته ،والله په زړه کنبې
سهیلا کنه څومره ظالمون وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیرباز اخلاص صیب

## ځلمیه سور ګلابه

د ګل غـوندې ځواني دې پـهٔ نشـو کـړله خـرابه
ځلمـیه سـور ګلابــــه !

دا ځکه پـاتې شــوی یــې ډېــر لــرې لـه کتـابه
ځلمـیه سـور ګلابــــه !

دا څـهٔ کـوې پهٔ خپـله خـپل عـزت پهٔ ځان کې وژنــې
همت پهٔ ځـان کې وژنې

دا زهـر شیـطاني دي ، انســانیت پـهٔ ځان کې وژنــې
همت پهٔ ځـان کې وژتې

تـهٔ ! نـهٔ ګـورې پښـتو خلــک وبــاسي لـه نصـابه
ځلمـیه سـور ګلابــه !

دنیا څهٔ کوي چـرته ځــي کـوم فکـر دی کوم خـیال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما او ستا څهٔ حال دی ؟
زما او ستا پهٔ زور هر یؤ دښمن کړی کمال دی
زما او ستا څهٔ حال دی؟

مونږ دلته د دنیا یو هر یؤ سوال ته بې ځوابه
ځلمیه سور ګلا به!

راځه د سبا زیریه !! نور رڼا وطن ته راوړه
ځلا وطن ته راوړه

تیارې له ګلشن وشړه ښکلا وطن ته راوړه
ځلا وطن ته راوړه

غفلت وړي ذهنونه ویښول غواړي له خوابه
ځلمیه سور ګلابه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شوکت عزیز شوکت

## ګڼ خت

چې همېشه ترېنه زما د درد شعرونه چاپېر
له هغه حسن دي د خاورو دېوالونه چاپېر

زما ساړه ساړه زګیروي ماته په شا رالېږي
خاونده ولې دي زموږ نه دغه غرونه چاپېر

په ما مینې زما نوم پټ په مړوند لیکلی
او هم یې دي ترېنه واړه واړه خالونه چاپېر

داستا د ګڼ خته دا یوه خواري مې ډېره خوښه
له هر ځونډي د ګلمخیو کتارونه چاپېر

ستا غاړکۍ د بالښتونو لاندې رنګ اړوي
زما له غاړې نه جانانه تاویزونه چاپېر

راځه راځه درته د مینې سپیناوي کومه
له غزلتورو مې داوښکو مشالونه چاپېر

شوکت عزیز به هله ځان د سیالو سیال وبولم
چې شي له مانه ستا د مینې ډک لاسونه چاپېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاوالدین ماسید

## تانکي غیتۍ

ځون وو باربود کې دې سپرلي تانکي غیتۍ غوړې
زړه په تېره بونړه ویشتل سترګې میرچې غوړې

شکورجنه ته دې محابات دې لیبې نه ئې خبار
دې سیلانې کمتارې شکور ډېر په پښشې غوړې

زه مینه نکه زه خیولی سترګې په ناز توره وه
ته مې دې سپین جبین دې تور پیکي ریپې غوړې

خواژیکیه پام که غرشانې مینې دې ویر ډاکې دي
ته دې ګودر دې غوړې هغه ملګرې غوړې

دې شاوالدین ماسید مالانګ زړګیه ده څه کوې
دې کلي میانخ دائی دې سرې شنډې شکرونې غو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاهد مرکي خېل

## بې مقصده

پـه دا دنیـو بـې حـده څۀ په میږ خـوري تیـره شـوه
څـه بــې معنې او بـې مقصــده زنـدګي تیـره شـوه

دې ډول پـه ډانګ بـوندې مې ځکه زړه هـاوو نه کوي
چې دې زړګي زور مې کمیږي ستي ځووني تیـره شـوه

پـــه ړانګ وطن آغـه ځـانډن واختـینه نه رودریـمي
پـــه ړانګ وطن هـاوو سپیره دې پسرلي تیـره شـوه

زړه مـــې لیـا وولـــې موتـیې وکـړله روغـیـږۀ کلـه
دې تـــو ډولې چـې کله تلـه پـه نـاراکي تیـره شـوه

پـه پشتــونخواه کشې پــه تـرخه رواج دې یـور ولاګـي
دې هـر میـن هـره شـپاکې په شبګـیري تیـره شـوه

بیا یـــې ووړه ووړکـي دي وړي مَـرکي خـیل شـاهِده
بالو دې میـږ په وربـویۀ بـوندې واختـي تیــره شـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاه خالد خاکسار

## غوټه او چاړهٔ

یاره ستا بانهٔ سره ګډ شوي دي
زړه ته مې سکارهٔ سره ګډ شوي دي

اوس به ستا د ظلم پته اولګی
لر بر پښتنهٔ سره ګډ شوي دي

بیا به کومه خور زمونږ سرتوره شی
بیا دا تورکارغهٔ سره ګډ شوي دي

خدایه پښتونخواه ته امن راولي
غوټه او چاړهٔ سره ګډ شوي دي

لویه حادثه به ترینه جوړه شی
ګرم او ساړهٔ سره ګډ شوي دي

اوس د اتفاق نښه ښکاره شوله
اوګوره ړاندهٔ سره ګډ شوي دي

باسی شاه خالد خاکسار د خپل کلی
دلته څو سپیرهٔ سره ګډ شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیر یار خان

## دې مو خوږ دای

په پـــــرادي وطن کشـــې ژونــــــد دای تیـــراوۀ یـــې
دې بیلـــــــتون تـــــــــرخه قصــــــه دو وژداوۀ یـــې

کـــوندې بیـــــــا داســـې دائـــیس کـــورینه نه کـــو
دې تــــــربرې پـــه مـــخ شـــې هـــسې شـــارماوۀ یـــې

لـــــژ مـــالانډې نـــن پـــې وایـــهٔ! چـــې څـــــــهٔ ویـــایي
دې مـــو خـــوږ دای پـــه مـــو ګـــرون دای ستـــړیاوۀ یـــې

پـــه حاضر وخـــت هـــر ساړای ځـــون تـــه صـــوبه دو
د پـــه ســــــار مـــې چـــې پـــوس ګـــرځي کیـــزاوۀ یـــې

چـــې دې ځـــون ســـورهٔ وژدهٔ وېــــرته مالـــیـم شـــې
دې ســـړې پــــــه مـــــــخ شـــې هســـې زیېـــړاوۀ یـــې

د سپـــېرهٔ راقـــیب دې مــــو پـــه لـــوس کـــه روغـــای
شــــــهٔ یـــې پـــوی کـــه نـــن ریبــــــــاره ژړاوۀ یـــې

زه شیریــــــــــار مســـید وو ډېـــر زر لیـــواناۍ شـــه
دې یـــــور غـــــم روبنـدې پاـــنډه شــــــوراوۀ یـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاهدين مسيد

# سپينه غاړه

تـــورې ستركي تـــور مـــژكان ســـبحان الله
دومـــــره حـــسن د جـــانـان سبـــحان الله

پـه ګلاب نـــه راتـــه ښـــكلې ښـــكلې ښـــكاري
ستـــا مســـكا پـــه ســـرهٔ لـــبان سبـــحان الله

هـيـــرؤل دي نامـــمكن دي ګـــرانـــه يـــاره
دومـــرهٔ خـوږ يـــې پـه ايـــمان سبـــحان الله

سپـــينه غـــاړه كښـــې دې هـــار داى دا ســـرو زرو
بـل پـــه پـــوزه دې پـــېزوان ســـبحان الله

تـــورې زلفـــې دې د مـــچ جـــيل هتـــكړى دي
شـــاهدين يـــم بنـــديوان سبـــحان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شانور بوبرای

# لوانیه

روښه په رامه ژاغ وکه دې خیه لېوانیه
لامنې ړانګاوي لماشوم شپونکیه لېوانیه

دې پالې بالوخورې خینخوره ژموري وخیژي
په وخت کور ته رودریمه لېوانیه لېوانیه

په دروي کوټې کښېژده شه خواژه غوړه شېرې که
چې وچ زړینه لومده شي غرښانیه لېوانیه

وو وړې دې اېبه په مورګې ښه ظلم دې وکه
لامده دې کړله پوس په سار مانګیه لېوانیه

چې توند که شه وچ زړه دې یور په ړانګه پانګه غېژ کشې
نن مه ښه شه ماتال موزدیګاریه لېوانیه

په رانګ دې واله تور وسوه په غوشې دې ډانګار کړه
په ژوند کشې بیا مایان مه شي زرګیه لېوانیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغـاس مـې په صـيرات ځنـې سـاړې پېشـې تېريـژي
سـتي مـه رو يـوداوه نېشـتي سـاړيه لېوانيـه

دي زړې نـه چـې شـي چګـې دي نـافرات تـورې خاپسـې
غزلـه مينـه وروه دې بوبريـه لېوانيـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیر ماسید

# مو لېوانۍ کې

دا خلک تــه څــهٔ پتــه وه تــودی ویــرته کړیـې جـامې
دې مو دې شنې خولې دې سرې شینډې دې څنېې جامې

دې مــو پــه خپــل ځون نه پتــو بــندې وه ډیــر اعتیبار
تــو پـه مــو جـوړې دې دې غــونډ کلـی دې ژنېې جامې

دې مــو دې یوه خبــره هــن پــه زړه کشـې پتـه نه کــړه
مو دې یــوه یــوه زړه تــه پېــله لکــه مشکنېې جامې

ځون مې پـه خپـله دې ټـول کلې وخــاندو تـه سیخ کهٔ
مــو لېـوانۍ کــې دې مــو پــوتې کــې خــوشمړیې جامې

ګیلې دې ډیرې دې د ځوی دې ګیـلې نـه دای خــــواژې
دې لیارې میانځ دای داتــه نــهٔ کیــژی زیـمړیې جامې

نه پیـره کیژې ستــی رودریمــه خپــل وطن تــه یــوره
چا پیــره نــه دې دې فـــانې دنـــیو نیـــمګړیې جامې

پـه ژواندونهٔ شـې خـواشول نــه دای چـاته حـال نه یایې
شیرماسید نکـوې دې خـپل ژوانـدین دې سـتـړیې جامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شامان مسید

### سندرې

لیکلیې مې دې غـام پهٔ سـرې سـکاروانې وې سـندرې
دې ځکـه مې پـهٔ هـر ځوی کشـې جـواتې وې سـندرې

شـاعر وهٔ کـه ادیـب وهٔ کـه شـپونکای وهٔ دغـي خـوورې
دې ویـرنه یـې بیخي قـاسم دای ډاکـې وې سـندرې

نـوزکې وې پاسـتې وې خـو پـهٔ زړهٔ ننـواتلې
دې تـو پـهٔ میـنه ماسـتې وې ځـیراکې وې سـندرې

دې تـو تـېرې بوـنړې تـه وې بیـخي عاجـزې شویې
ویلـوړې مـې پهٔ شیـنډې شـې کـواکې وې سـندرې

شـامان مسید دې ځـکه دیـرته دا کلاځ دیـر پرېـیاش
نغـمې شـؤلې دې سـاز سـره چـلاکې وې سـندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفیق محسود

## امام نه لرو

اوس در په در پـــــراتهٔ یـــــو، قـــام نـــه لـــرو
اوس مـــــتاثـــــر یادېـــــږو، نـــام نـــه لـــرو

اوس پـــه کېمـــپونو کښـــې پـــه ډاګ پـــــراتهٔ یـــــو
اوس پـــه ســــر ســــورې په ســـر بـــام نـــه لـــرو

اوس پـــه خپل ښـــار کښـــې هـــم نـــهره ګـــــرځو
سهـــار چـــې اوخـــــورو، د ماښـــام نـــه لـــرو

اوس مـــو ګـــودر نشـــته منګـــي مـــو مـــات دي
اوبـــهٔ په لپـــه کـــې څـــــښو، جـــام نـــه لـــرو

ټـــول شمـــلور مـــو یـــې لـــــه منـــځه یـــوړل
اوس بـــې رهبــــــره یـــــو، امـــام نـــه لـــرو

ګـــــډ د ازغــــیو پـــــه کـــــاروان شفـــــیقه
ځـــــو بـــه تـــر کـــومه؟ کـــه انجـــام نـــه لـــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعیب شیدا

### د زړۀ قراره

ډېر غېـــراتي او ښـــکلی ځـوان دای
په فتح مـوړ کې مـــې جـانان دای
داسې ملنګ غـــوندې انـــسان دای
زه یـــې غېـــرت تـــه دوه لاســـي ســـلام کـــــومه

زمـــا ریـــباره مـــخ دې ورکـه شـــه
ورځـه غـــداره مـــخ دې ورک شـــه
لستـــوڼی ماره مـــخ دې ورک شـــه
زمـــا جانـــان تـــر مـــنځ دې تیـــر کـــړل دېوالونـــه

شونډې مې وچې رنګ مې تـور دای
دا تنګیـــوال دا غـــــمو زور دای
بـل مـې د زړه پـــه دشـــتو اور دای
د هیجـــر تـــاؤ دې زه پـــه اورکـــې ژونـــد کوامـــه

زمـــا پـــه لـــرې وطـــن یـــاره
زمـــا د ژونـد د بـــاغ بـــهـــار ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته خــــو راشــه خــدای د پـــاره
د زړهٔ قـــــــراره بـــې قـــــرار درپســــې یمـــه

زه یـــم د ســـتا او تـــه زمـــا شـــه
چـــېرته زمـــونګ کلي تـــه راشـــه
اې مـــــروره را پــــه خـــلا شـــه
بغېــــر لتـــانه ژونـــدون خـــوند نـــه راکوینـــه

چـــرته چـــې ځـــي د ستـــرګو تـوره
په مخکـي ځـي په ورســـتو ګوره
یـــاره ســــوزیـــګمه بـــې اوره
لمـــن دې نســـم چـــې زړګـــي در و چـــــومه

چـې کله مړشم تـه مـې هیـــر که
اوس مـې دا مینـــي نـــه کافـــر که
دا زړه رازونـــه مــــې ظاهـــر که
ستــا د یـــاري نـــه مـــې تـــوبې اســـتلې دینـــه

آ در یادیـــږي سخـــت ســـاعت وه
غمـــاز مـــې پـلار تـه پـه شـامت وه
پـــه مـــا شعیـــب خـــو قیـــامت وه
دا جنـان اوښـکي تـــوېدي زه ورنه تـلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیر تنها ماسید

# څوک مې نشته

تــوره شــپه ده وار خــطا یــم څــوک مــې نشــته
ګــوښې نــاست یمــه جــدا یــم څــوک مــې نشــته

جــدا عمــر بــه تــر څــو داســې تــیریــږي
خفــه ژونــدون تــه یکتهــا یــم څــوک مــې نشــته

پیــن پــه لاس کاپــې مې غیــږ کــې کــړم ســوچونه
دچــا غــم لیــکم لګیــا یــم څــوک مــې نشــته

مســافر یــم داخپــل کــوره در پــه در یــم
کــړم ویــرونه پــه ژړا یــم څــوک مــې نشــته

د یــو چــا ســترګې مــې ســترګو کښــې غــړیږي
نــور لــه هر چــا بې پــروا یــم څــوک مــې نشــته

خــوشالی مــې نشــته تــل غمجــن غمجــن یــم
چــې راغلــې پــه دنیــا یــم څــوک مــې نشــته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وفا نه یمه خلکه خو غریب یم
کنې تول وفا یم څوک مې نشته

توري زلفې یې د کیوبه هتکړې دي
پې ترلې یې رښتیا یم څوک مې نشته

خدایه داس وختونه راولې په ژوند کښې
چې خپل اوایي چې ستا یم څوک مې نشته

ځان به مړکړم بې نګې مې عدت نه دی
زه زلمی دا پښتونخوا یم څوک مې نشته

ناشکري نه کړم د ژوند کیسه مې وکړه
هر چې څه دي پې راضا یم څوک مې نشته

بدل نه یم خو وختونه لبر بدل دي
زه هغه شیرو تنها یم څوک مې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعیب فنا

# قاطور ایشکې

چې لیدلېِ مې دي کله دي پور ایشکي
هاره شپه مې وي راوونې قاطور ایشکي

مارګ کو لاؤ په تیره لور بیا دي ځوانوني
ډېرې مانديې وو کو توی کور په کور ایشکي

په موبایل پورې مړ که ظالموني
په یو ساري وروړ شې توی کړلي خور ایشکي

پاشتونه وو اخر کله په یوه خوله شي
چې ضایه نه کو دا قوم دي منظور ایشکي

وو باده ربځ و نه ویني شعیبه
چې کو توی په میساله چا ته مور ایشکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاهد ماسید

### سره یورینه

پــه زړه بونــدې مــې بــال دي ســره یورینــه لپــوانیږۀ
اوف مــه غــوړه دې ســترې زړه وولینــه لپــوانیږۀ

ویېریــژې مــې تــه نــه پــه ملېګــون بنــدي ګرځېــژه
پــه غــوړه مــې دي پانــډې تړويزينــه لپــوانیږۀ

دې تــو ژونــد وو وي څنګــرې نــه پېــژۀ کبرجنــې
دې مــو خــو پــه ناصــیب دي تــش ویرینــه لپــوانیږۀ

چــې څــوک دې نــوم رو ووخلــي بــې اختیــاره ژاړو روشــې
زړګــای مــې وکــو راپ کــلاک کــلاک داړدینــه لپــوانیږۀ

دې ژوند په خوانـد و پـوی نـه شـې دېـر بـالي و لامبـي شـي
کــه کلــه مــې شــه پــام پــه ازورینــه لپــوانیږۀ

دې زړه عــلاج مــې نــه شــي مینــه داســې بیمــوري دو
شــاهده ډېــر مــې وکــړل زیوراتینــه لپــوانیږۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاکر زېب

## مجبوري دو

ســـــاخت ډاریـــــژه تنهـــــایي دو مجبـــــوري دو
اندیشنـــــې دي پـــــه هـــــار لـــــوري مایـــــوسي دو

ټـــول لیکـــل مـــې پـــه غمینـــه کشـــې دي کـــړي
څـــه دې غـــام نـــه ډاک داســـتان دای شـــاعري دو

غـــام ځاپـــلای داردیـــدلای یـــه پـــه ژونـــد کشـــې
چـــې څـــوک مینـــه کـــو رشـــتینيې قربـــاني دو

چـــې ګیلـــې مونـــه کـــاوۀ پـــه دا وو ګـــرام وۀ
خپلـــه بـــاخره دې مـــو خـــوره ازلـــي دو

خپلـــې مینـــې راســـاؤلای یـــه تـــاړل تـــه
پـــه رشـــتیا چـــې مـــې باربـــوده زینـــداګي دو

شـــاکرزیبه محابـــات څـــه تټـــوقې نـــه دي
شاکرزیبـــه کـــه پییـــژې تابـــویي دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمس الرحمن قرېشي

## شپه دو

خاموشـــــي دو ډېــــوه مــــړه دو نیمــــه شـــــپه دو
تـــو پـــه یـــود مـــې ګـــوزاره دو نیمـــه شـــپه دو

ترانــــې ویایـــه دې مېنـــې پـــه لمونځـــه کشـــې
عجیبـــــه پکشـــــې مـــــزه دو نیمـــــه شـــــپه دو

دې یـــو چـــا دې یـــود چـــاپې دي وري رو وري مـــې
دې غــــامینې جزیـــــره دو نیمــــــه شــــــپه دو

چـــې دې وروو پـــه اوال شـــپه غـــازو تـــه دریمـــي
پـــه زړګـــي کشـــې یـــې جذبـــه دو نیمـــه شـــپه دو

زهٔ دې ســـتوري پـــه قـــاطور کشـــې جانـــان کســـه
میاشـــت دې مـــو پـــه تاموشـــه دو نیمـــه شـــپه دو

قربشـــي یـــه چـــې حـــال نـــه ویایـــه و چـــا تـــه
کـــاني ســـتړېې مـــې کیســـه دو نیمـــه شـــپه دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صمد هېواد

### تاغیره شوې که نه شوې

په مو پسې دې مو غوندې دلګیره شوې که نه شوې
دې ژوند په هار ګرځنې کښې تاغېره شوې که نه شوې

دې هار اتاڼ و سار ته وو په غبارګې لیچې تللې
دې خالکې سترګې وخوارې رانخېره شوې که نه شوې

دې جانګ ګاټه دې ولیده وو پورې ټیپکزنه
دې کلې داروژې دې بې زنځېره شوې که نه شوې

دوه مخای وې تو دوې ژبې په خوله کښې ګرځاولې
دې تو دې خولې خابرې بې تاثېره شوې که نه شوې

چې شؤلې دار په دار دې زیوراتې لامنې نسې
آزور دې صمد و والې پاقېره شوې که نه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طفیل ګوړي خېل

## ړانګې مونې

ړانګــې مــونې ســوای جامــات خــو ســاړای څــه ویــایي
دې مېژ شېشنای هار واخت خولکات خوساړای څه ویايي

داغــه ســافار، لکــه ســاقار خــو دې بویــده نــه دریمــي
تــانکې ځــوونۍ تنکــای صــیرات خــو ســاړای څــه ویــایي

هاغــه ماتــال چــې تــه کــه مــرې خــو مــو وو خامخــا ورې
خــور مــې نصــیب ســپېره قبسـمات خــو ســاړای څــه ایــایي

تــور تارېژمــای دي ســپي غــاپو، دې لګــاډ ایبــې کــووه شــور
دې مېــژ نیمګــړای ملاقــات خــو ســاړای څــه ویــایي

ســاړه ســیلۍ دې وووري ګــاړد طفیلــه یــود کــه دې شــي
دې چا دي مړې مړې سترګې سات خو ساړای څه ویايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظفر خان ظفر صیب

## لویه مېله

خپلــــه خانــي کــوي پــه نــورو ملنګي خــرڅوي
ساده ســـړے دای خـو قسم دای چې سړي خـــرڅوي

کــه تاســو نــه مانــئ نـو مــه یــې مانــئ ما لیــدلي
د ښار په منځ کښې پښــتانه ولاړ دي سپي خـــرڅوي

دنیا د کـوم ځـای نـه تـر کـوم ځـای پـورې وه راسپـده
زمـــا شـیرین لالا نعــــرې وهـــي بنـګړي خـــرڅوي

لویـه مېلــه جــوړه ده شــور دے هــر ســړے راغلے
څوک په پښتــو لګیـا دي څـوک مسلمــاني خـرڅوي

تـا نـه ظفــر جــوړه وي تـاته مستــقبل پـرې اخـلي
پـلار دې خپـل ځان راوړے تـوله زنده ګي خـرڅوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضدي جانان

## زمري يې مات کړل

د مرګ پــــه خــوب به مې لاهـــو کړي د ارمان ملګرو
کلـــه بـــــه وينـــــمه د لـــــر او بـــــر کاروان ملګرو

راپاسي اوکـــړئ ننګ غېــــرت پـــه خپله خـاوره بانـدې
مرګ خو یوځل وي خو ډېر خوند کړي په میدان ملګرو

ټـــوله دنیا کښې لـــوړ تـاریخ او شجـاعت لـــرو مـونږ
زر شـئ تـــازه کړئ لـــوړ تـــاریخ د باچـــاخان ملګرو

لـــر دي کـــه بـــر دواړه یوبل ته غـــاړه کلکـــه ورکړئ
مونږ یـو دا یـــو نیکه لماسی پــــه قـــوم افـغان ملګرو

امېـد مـی شـــته د لوی الله نـه نـااومېـــده نــــه یـــم
شي بـــه پېـــدا په لـــر او بـــر داسې درمـــان ملګرو

زمـــونږه غـــرونو تـه بلا راغلـــه زمـــري یې مات کړل
ضـدی جـانان وایـم چې دي ســـــړی خـــواران ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظاهرخان ماسید

## سلګۍ وي

یادونه د یو چا وي یوه شپېلۍ وي او سلګۍ وي
په سر باندې ولاړه مې سپوږمۍ وي او سلګۍ وي

زمونږه په اختر کښې هم سیالۍ نه وي قسمته
راټولې په قبرونو کښې مورکۍ وي او سلګۍ وي

چې ناست وي د پلار قبر ته زړګۍ رانه وباسي
چې لاس کښې د یتیم وچه ډوډۍ وي اوسلګۍ وي

دې تا به چې د جبر بدل څه وي په محشر کښې
زما به هم حساب د زندګۍ وي او سلګۍ وي

هغه هم شوګیرې کوي د ځان سره ګویانه
په لاس کښې یې زما د لاس والۍ وي او سلګۍ وي

چې خلک مې د مینې مثال یو اوبل ته وایي
چې ځان مې ظاهرخان پسې زندۍ وي او سلګۍ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظاهر غمخور

## نبیوک ژوند

تــــهٔ کـــوه کـــړای شـــې دې تـــو وور دای اشـــنا
دې مــــو ســتـــي ولـــــې دې زړهٔ زور دای اشـــنا

څــهٔ پــــهٔ خـــــوروځ زوروځ تـــېریژي ګلــــه
دې نــــیبوک ژونــــد نـــه مــې زړهٔ تـــور دای اشـــنا

مـــینه کشــې نــور غــیرت چــا کــــړای نــــهٔ دای
مــرګ دای مــو مــرګ تــه ځــون تایـــور دای اشـــنا

اخ کــور یــې ړانګ کــې څــهٔ تنکی ځـــوونی خـــوري
عـشـــق حـــرام خـــور عـشـــق ادم خـــور دای اشـــنا

ظـاهــر یــــهٔ مـــــینه مــــې ظـاهــره نـــهٔ شــــوه
خــو مـــوته بیـــا هـــن جـــوړ پېغـــور دای اشـــنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظاهر خان ماسید

## تور ټیپک

ترخــو پــورې تېرېــژي وو دې واخــت تيــارې تــه ژونــد
نــور نــه غــوړي مېــژ تــور ټيپــک، غــزل ټــاپې تــه ژونــد

واړې ابلــې مــې ځــوونی کــه خیولینــه مــې رېشــتیا کــه
اې خدايــه دېرخــه غــوړه دې اميــد ډېــوې تــه ژونــد

پـه مینـه دې نـافرات ورک کـه دې مـارګ مـخ دې کـه تـور
لالیــه ســالومې کــاوي دې تــو قبصــې تــه ژونــد

دا ژونـد چـې مـې رانګـین دای دا دې مـور پلـور پـه داعـوو
اللـه وبرکـه دې ډېـر واخـت پـورې دا آسـرې تـه ژونـد

مایــان یــه ظاهرخــان ماســید پــه کلــي پــه واطــن
دې ځکـه وبـر بخشـلای مـې دای تـوري غـري تـه ژونـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظهور اقرار ودان

## ستا د لاسه

جنـــون مـــې لېـــونی شـــولو ســـریه ســـتا د لاســـه
اوتـــر اوتـــر ګرځېـــږم لېونیـــه ســـتا د لاســـه

قاتـل نـه وو مغـرور نـه وو پـه شـپن کسـه یـې مـړ کـړو
پـرې تـا غلبـل غلبـل کـړو تـور پټکیـه سـتا د لاسـه

ژونـدون مـو څـه بـې غمـه وو د کـرس پـه خنـدا سـر وو
مـونږ ټـول پـه غـم اختـه شـولو بنګړیـه سـتا د لاسـه

سـتا غـم زمـا رمـه شـو اوس د غـم پـه شـپېلۍ سـر شـوم
چـې مـړۀ مـړۀ دي کتـل راتـه شـپونکیه سـتا د لاسـه

د لـر افغـان او بـر افغـان تـه داسـې پېغـور ورکـړو
قیـدي شـوم مهـاجر شـوم افغانیـه سـتا د لاسـه

اقـرار د مینـې اوکـړه د زړګـي کـور مـې ودان کـړه
ژړېږمـه پـه تـا پسـې لالیـه ســـتا د لاســـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضدي جانان

## ملګرو

دا مرګ په خوب به می لاهو کړی د ارمان ملګرو
کله به وینمه د لر او بر کاروان ملګرو

راپاسئ وکړې ننګ غیرت په خپله خاوره باندې
مرګ خو یوځل وی خو ډیر خوند کړی په میدان ملګرو

ټوله دنیا کښې لوړ تاریخ او شجاعت لرو مونږ
زر شئ تازه کړئ لوړ تاریخ د باچاخان ملګرو

لر دی که بر دواړه یو بل ته غاړه کلکه ورکئ
مونږ یو د یو نیکه نماسی په قوم افغان ملګرو

امید می شته د لوی الله نه نا اومیده نه یم
شی به پیدا په لر و بر کښې داس درمان ملګرو

زمونږه غرونو ته بلا راغله زمری یې مات کړل
ضدی جانان وایم چی دی سړي خواران ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمر شاه کوټی صیب

### لاس دې مات شه

لــه زړه نــه  زړه تــه لارې وی  خـــو لارې مزیـد ارې
د ښــه ژونــدون لمحې بـه پـه کــې ځــارې مزیـدارې

ځـوانی یـې خـزان وروورو ربـژوی پـه ځـان پـوهیږی
خـو سـترګې یـې دی هغــسې خـونخـوارې مزېدارې

اې  شېـخه ځـان ته لار همـــواروه پـه مـا مئـېن شـه
غــمی غـمی  تســپې  بــه راتــه  شــمارې مزېدارې

نفــرت او ځان ځانی لـه انســان نـه دې پېـده شـوې
د میــــنې محبـــت لارې همـــــوارې مزېد ارې

ظالمه لاس دِ مات شه خپل ټوپک دِ ځان ته سیخ شـه
بـابـا بــه مـــې را وړې راتـــه وکـــارې مزېد ارې

ډاډه راځــه هیڅوک مــې د تپـــوس درځــخه نشــته
زمـــا پـــه وینــــو وګــــټه کلـدارې مزېد ارې

زمـا شاه کوټـي نن خومې بـې کچـه زړګـې شیـن دي
څـو اوښـکې مـې لیمـو کــې دی ایسـارې مزېدارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالقادر برکي" برق "

### زه به نه یم

ستا د حسن به چرچې وي زه به نه یم
هر طرفته به نغمې وي زه به نه یم

پروت په خاورې کښې به وم زه خدای بخښلی
له غم ډکې به کیسې وي زه به نه یم

روغ عالم به څه خبر وي ما له حاله
نور نومونه به په خولې وي زه به نه یم

هر یو ګل چې شګفته شي زوال مومي
نرۍ پرخې به پرتې وي زه به نه یم

کرم یاري که نن په غلا پته له خلکو
بې له ما به یارانې وي زه به نه یم

ډلې ډلې به رادرومي ستا محفل ته
دا د ژوند به قافلې وي زه به نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــوړ نــومونه بــــه دې اخــلي هــرې خــــــوا نه
تــــل د ســتا بــــه تـــــزکرې وي زه بـــه نـــه يـــم

اوبـــهٔ کيــږي مـــې نـظر د ستـــا پـــه لــور هـــای
بيـــا بــــه ښـــــنګه مـــرحلې وي زه بـــه نـــه يـــم

ســور ځيـګر مــې د هجــرن پـــه تيغ نــن غــوڅ دی
خـــير کـــه لنــــډې فــــاصلې وی زه بـــه نـــه يـــم

ټــول خـــــوران د زمــــانې بـــــه پـــــه مــــــا ژاړي
کـــه زمـــا ســـــوې مصــــرې وي زه بـــه نـــه يـــم

بــرق مــرګي دی قبــول کـــړی خــــــلاصې نشــته
وايــــي دا د مـــــرګ خـــــاکې وي زه بـــه نـــه يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمر پیر غر مسید

## مرغۍ نه کېني

چـې وه ژونـد پکښـې د خـوند پـه ننـدارو کښـې
حـد د جبـر دی پـه هغـو ګلـدرو کښـې

څـوک پـه ذات کښـې لـوی جهـان د احسـاساتو
څـوک لـه ذاتـه بهـر هـم پـه دایـرو کښـې

اوس د ګل وطـن سپـرلي هغسـې نـه دي
مـرغۍ نـه کېني پـه دنـګو چینـارو کښـې

فطـرتونه مـو مبین پـه رڼـا ګانو
مـونږ دي نـه ساتي د جهـل پـه تیـارو کښـې

یـو نظـر کښـې پیـرغر: ټـول خـوندونه ټـول کـړم
او بیا ګـرځم ټـوله شـپه پـه نـظارو کښـې

## عزیز نادان

### هغه څوک دای

څه کیږي څه نهٔ کیږي
لیبې مې په زړهٔ کیږي

هغه څوک دای څه کوي
دا سړای دې څه کیږي

تو چې دې مو نه منل
ژوړه په تو شهٔ کیږي

وشهٔ په پریغلهٔ بارون
وخ رټ مې سوړهٔ کیږي

څه ظلم زیوتای په میږ
سمه او په غرهٔ کیږي

نیمه شپه دو ژوړي څوک
سوای نانونګهٔ کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیــــا ســـــــیرې نــــــــورې وروه
ژغ دې بیلــــــــــتونـــــــهٔ کـــــیژي

خـــــــوؤرې و خـــــــــوشي وکــــــــي
هــــــــره ریـــــځ چــــــــې مـــــــړه کـــــیژي

نــــــه مــــــې زړه پــــــه ځــــــون کـــــیژي
نــــــه مــــــې زړهٔ پــــــــه دهٔ کـــــیژي

ســــــــــترګې مــــــــــې در وخــــــــاتې
تــــــوته مــــــې کــــــــوتهٔ کـــــیژي

ګــــــــرون یـــــــې پـــــــه نـــــادان مسیـــد
اســــــــــې دې کــــــــــوژهٔ کـــــیژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالله وزیر

# ژاړې سترګې

بیــا ایشکې دې اشـــنا پـــهٔ تــور بونـهٔ ویلـــوړې دي
دې چــانـه دې ګیـــلې چې بیـــا پـــهٔ زړهٔ ویلـــوړې دی

یــوه تــهٔ نـهٔ یــې چې وســوې پـــهٔ ربــواج دې قبـــائیلې
داس ډېــرې پېغلې نـــورې پـــهٔ یـــورهٔ ویلـــوړې دي

قسام دای کــه ویــریژي مې دغـاس مــې پهٔ غــوژ کیــژي
دې تـــو ســوېې سلـــګې مــې پـــهٔ مُغـــزهٔ ویلـــوړې دي

اې تــوس ده څــو ســړي خو مکمـاـل نـــور پنـجابي دي
پـــهٔ سر یـــې صرف پګـــړې دې پشـــتونهٔ ویلـــوړې دي

بیــا نــادره تـــه روغلـــیې دي دوانیـــم زره ریپـــې تـــه
ســـرې سپینې پشـــتانې پـــهٔ کاتـــورهٔ ویلـــوړې دي

ګــرمی پــهٔ وونـــهٔ روغلـــه دې غرمې پهٔ خـوب وؤدا دو
نــارې خــولې دي یــور پـــهٔ سپـــینه خلــهٔ ویلـــوړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايی ځـکه کلیـوُولې پېغـلې منځ تـه ویــرتلای نـه شـي
چــې خـــواندیې دې آتــڼ پــهٔ مېــدونهٔ ویلـــوړې دي

ستَــر عیـد شهٔ رونـژدې میسوفرخپل واطـن تــه دریمـي
جیـــنکۍ پـــهٔ انتـــظار دې ســـاروُورهٔ ویلــوړې دي

زاړې ستـــرګې یــې ولـدې عبــدالله نـوای زخمـي شـهٔ
تـــاودې ویـــنې دې زړهٔ پـــهٔ پـــــراوُرهٔ ویلــوړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عابد مسید

# د چا په انتظار

د مینـــې د کـــورګـــي مـــــې دروازې تـــړلې دي
مـــا ځـــکه لــــه ناکامــــــه ارادې تـــړلې دي

د چـــا پـــه انتظار یـــم تـــر سحـــره خـــو بـــه راشـــي
مـــا زړهٔ کښـــې د هجـــران واړه ګیـــلې تـــړلې دي

دا یـــو نـــیم خـــو ورانکار وي د عـادت څـخه مجبـــور وي
د ځیــــنو ځیــــنو ولې خپــــلې خـــولې تـــړلې دي

د لـــوي عقـــل څښـــتن یـې ولې دومـــره یـــې غافـــله
ملنـــګ پـــه سپینه غـــاړه کښـــی تســــپې تـــړلې دي

مـا اوس لـــه محـــبته ورتـــه دواړه لاس زنځـــیر کـــړل
ماشـــوم دی نه پوهیـــږي نـــن یـــې پښـــې تـــړلې دي

عابـد څـه بنګي مار نه دی د چا پـه یاد کښـــی ځـانګي
تـــا ولـــې دومــــره کلـــکې میـــخانې تـــړلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عابد محسود  مزاحیه سندره

## غرقې شوې

پــــورته دې واطــن پېــغلې، غرقې شـوې مـالنګې شـوې
خـړې  یـې بیـکرې پـه سار، سرهٔ ختـهٔ نـه تـانګې شـوې

هغــه مخشـــینې پېـــغلې، ســـرې سپیـــنې کـوتارې وې
ګانړ خت پـهٔ لادینــه کشـــې، زرقــــې وې ډابـــارې وې
دا نــن دې پنجاب ګـرمۍ، تـورې کــړې بدرانګې شـوې

هغــه مخشینۍ پېــغلې، مړې شـــوې کـــه زاړې شولې
ووؤرې کشي یـي اېـبهٔ روړې، ګـوتې وؤئ ساړې شولې
مړې سترګې وې چګې کړې مړې ډېوې ؤ بلانګې شـوې

هغـــه دې وطـــن پېـــغلې، تیــرې تـــوریـــولۍ څهٔ شـوې
هغــه دې مېـــوند ملالې، خـــونزئ مــــلالي څهٔ شـوې
نــن دې ګلالۍ قیــــصې، ټول وطن کشـې ړانګې شـوې

مشــر دې پګـړئ پــهٔ څوی، سپینه ټیپــیکئ پـــه سـار
ژاړای وؤ تـور سار ګرځي ، لیـا وې وي سینډئ پـه سـار
لـــړې وشـوې لـړې دي، جـــوړې څــهٔ بدرنګې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عزیز برمل وال

## کارغهٔ

پــــه شیـــــشو بـــاندی کپـــــړه واهـــــي لګیــــا دی
یــو ســړی پــــه مــــزل شــــپه واهــــي لګیــــا دی

دا چــــي مخــــکې یــــــی غــــــوږونه بنــــــدول
نــن چــک چــکې هــــم هغــــه واهــــي لګیــــا دی

پــــه جـــامونو کـــــې خمـــار د ستـــــرګو ګــــــوري
پیـــــر مالنــــدې پــــــه نشــــــه واهــــي لګیــــا دی

دا د خــــــپل نـــــغري د ویــــــــره نـــا خــــــبره
پــــه پــــردي انګـــــڼ چمــــبه واهــــي لګیــــا دی

یـــــوه مــــې نــــوې واوریــــــدله چـــې کارغــــهٔ دی
او د بــــــاز ســـــره پنــــــجه واهــــي لګیــــا دی

بـــــرمل وال پــــه تنـــــهایي کـــې پــــکې اوســــي
د ســــــــندرو نـــــــه کــــوټه واهــــي لګیــــا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عثمان خالد عثمان

## دې تیت سیوره

چې څهٔ کیسه وو وه دې میږ پهٔ سیبوتهٔ کشې یوره
مو دې مائناکې غوندې توته وړه پهٔ خولهٔ کشې یوره

تو وو جانانه موته شې پهٔ پانډې پانډې رووړې
چې کله تورې شووې ګوارګورې پوس په غرهٔ کشې یوره

تو وو پهٔ قاست دې میږ دې کور پهٔ مخ رامه رو واسته
زه وو هر واخت دېرته ویلوړه وهٔ پهٔ ورهٔ کشې یوره

زه تهٔ وو شهٔ پهٔ جامې سترې شوی دې تیت سیوره ته
مومئی وې پنډې پهٔ شاوتالې پهٔ ووشهٔ کشې یوره

وېل وې چې ډینډا مې ده وای، چې وای مې ته پهٔ میله
داغه ارمون مې د وای خدای ته وچ پهٔ زړهٔ کشې یوره

موته وو هغې لیوانۍ وېل تل پهٔ تلل کشې داسې
چې بریولای د وې پهٔ هر یوهٔ میدونهٔ کشې یوره

مو آرویدلای دای دې شعر پهٔ ژبهٔ ډېر ډېر آشنا
دې تو خوږ نوم اې ډبکوټوول پهٔ کیتوبهٔ کشې یوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمران برسات محسود

# غېرات پشتو

ژونـــــد بـــاربـــوداوي زائيـــــراوي ئيـــــله
نـــهٔ د کـــو ســــړاي دې بـــل ســـړي ئيـــــله

زور د کـــو پـــه خپـــل غـــړي چـــې ځـــومره وي
نـــهٔ د کـــو دې بـــل دې لـــوس نيــــوي ئيـــــله

ځـــــو دې چـــې دې بـــل لمـــن نيـــوليـــې وي
ننـــګ غيـــرت پشــــتو وو دې هـــن خوري ئيـــــله

نـــوست ويلـــوړ کـــوه خـــو مقصـــد مـــــه لـــــره
ځـــون تـــه دې پـــهٔ خپـــل ځـــون شـــرماوي ئيــــله

وليـــــکي بـــې پامـــه ځـــــو دې زړهٔ کيســـــې
مـــا کـــې دې، بـــرسات ، دې شـــاعـــري ئيـــــله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالرحمن مفتون

## بارود

دې پاشـــتاني پــه خـــووره هـــار ظــالم بــارود ويشـــتلي
دې ابـــراهيم ع دې نظـــري خالـــک نمـــرود ويشـــتلي

زۀ خپــل ايمــون دې دجــالي فتنـــې نــه داســـې ژغــورۀ
مـو ټـول شـکوک شـبهات پـه ذکـر او پـه درود ويشـتلي

دې واطــن خــوورې نــه خوشــبو دې شــهيدونې روخـــي
دغ فرعــوني لښــکر يــاقوت، مرجــان، زمــرود ويشـتلي

ړانــګ چينارينـــه او ناشـــتري دې کارانـــګ ګوارګـــورې
دا خـــو تـــه څـــه کـــې، بازورينـــه يـــې ابـــود ويشـــتلي

دولـــې پـــه کيـــز کلـــي کشـــې داى امـــن، ســـکون مفتونـــه
هـــار يـــوه جـــابر دې پاشـــتنې خـــوورې حـــدود ويشـــتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمر ماسید

# ارمون ارمون

ارمـــون ارمـــون جـانانه ځـنګرې بې پښـتنې لــوړې
دې زړه بېځلې مـې پــه تــو پســـې ځنګــزنې لــوړې

وطن تــه لــوړلۀ خړ ګـــړد ایـشون بـور شـوی ویلــوړ
چیـشتن يې نه وۀ سـتی مې ایشکې ارمون جنې لــوړې

پرېـغله تـــه لاک شـــوه آخـــواندینه آرنګیـــنه نـــه وی
زونـــړیې رو ګوډې وې واپـاس سترېې ستيـمنې لــوړې

بار مـې چـې وکـتل دې میـږ پـه کلـی شــــنه لیــګی وې
دامره وور نه وه ګـــږ شــه تېرې شـــوې بنګنـې لــوړې

پـه واپسی کشـې چـې پـې روغــلۀ دې جـانان پــه کلـی
دې پـــوسه ژاغ شــه چې عمـــره بـــې پښتنې لــوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عاشق حسن ماسید

## تانکې څووني

سپېـــــره هـــــاوو روشــــــي ګولــــــون ورک کـــــو
تـــــانکې څـــــووني وخـــــوري ارمـــــون ورک کـــــو

نـــــن وي دې يـــــوه سابـــــو دې بـــــل جنـــــوزه
قاتـــل پـــه سپـــين لبـــاس شـــې خـــون ورک کـــو

دې مېـــــژ شعـــــور کـــــمال تـــــه وارسېـــــده
پـــــه تاوونـــــه بونـــــدي تـــــاوون ورک کـــــوو

تـــــوره بالـــــو پـــــه ميـــــژه شـــــې لېبـــــې کـــــو
پېغـــــلې سارتـــــورې کـــــو څوانـــــون ورک کـــــو

عاشقـــــــه دا دې حقيقـــــــات ژاغېـــــــدو
يـــــوه وربـــــخ وو تـــــو هـــــن پـــــه پېريـــــون ورک کـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عرفان مسید

# ارمون جنه

پــــه پښــــتې مــــې ګــــروني زړهٔ دېــــرپسې ووت
لکــــــه یــــــور دِ تنــــــــورهٔ دېــــرپسې ووت

دِ وطـــــن دِ روغـــــې رېځـــــې ارمـــــون جنـــــه
هـــر ســـړای پـــه لـــوس چـــوړهٔ، دېـــرپسې ووت

یـــو ســـړای تـــر نیـــمې شـــپې درپســـې ورک شـــه
یـــو ســـړای پـــه لمـــرخـــوتهٔ دېـــرپسې ووت

زه کـــه څـــه دېـــرپسې هســـې لـــوئ لـــوفـــر یـــهٔ
خـــــو مـــــــلو دِ جمـــــــوتهٔ دېـــرپـــسې ووت

یـــور خـــــبار کـــې چـــې نـــه تـــوته پتـــه نشـــته؟
ستـــې عــــــرفان دِ ژونـــدونهٔ دیـــرپسې ووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غنم رنګ شمن خېل

## دې خيال وزرې

لکــه خبـریت چــې دې پــــرادي کلـــي ملنګ غوړي
پهٔ لیار کشــې وهٔ داري دې خـدای پــهٔ نـوم لونـګ غوړي

مځــین وهٔ یـوهٔ نظیــر لیدل تـــه هــن پالمـــې غـــوړي
جانان پــهٔ تــور لمـاشوم دې سپینې خولې کلنـګ غوړي

دې نانــدونی خــوب یې چې تل پــهٔ سپــین مــړمند کـووهٔ
وېــس دا ټــکړې ټکړې بنګړي پـــهٔ ســـرهٔ پلنـګ غوړي

چـا چـې دې ننــګ پــهٔ هـــر ډاګــر موتیــې خــواړلیې دو
هغـــه ســـاړای نـــن دې مـــالالې ستـــرګې جنـګ غوړي

دې خیـــال وازرې ستـــړیاوې پـــهٔ ځـون ډوډمن ووړکـې
دې سمـــندر تـــال تـــه لـــــوېدلای غنـــــم رنـګ غوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزنوي ماسید

### ته وو نه وې

زه چـــې نــــه وه تصــــــویرینه تــــه وو ژوړې
بـــل سپـــېره یـــــودینه تــــه وو ژوړې

کـه دیـــدان مـــی کـــې خــــواژه بیـــړا رو وکـــه
بیـــا وو تـــل کـــې ارمـــــونینه تــــه وو ژوړې

کـــه مـــې براګـے سـترګـے پتـې پـــه مـــارګي شـــوې
بیـا وو نــــوست وې تبـــر وختـــینه تــــه وو ژوړې

چـــې جنـدې مـــې دې مـــزار پـــه خـــلي ویـــنې
کـازو شـــــــوي دیـــــــدانینه تــــه وو ژوړې

چـــې مـــې زرائ دې مـــارګي دیـــربونـــــدې وشـې
ړانـــګ وطـــن ړانګ دیـــــوالینه تــــه وو ژوړې

پـــه مـارګي وو مـــې پــــراداې خلــک کـــو ویــــرینه
تـــه وو ژوړې خـــپل ســــوچینه تــــه وو ژوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنـــــوزه وو مـــــې ووخلـــي تـــه وو نـــه وې
پـــه هـــر لـــــوري عـــلانينه تـــــه وو ژوړې

یـــود وې وي خـــو غـــزنوی وو پـــه دنـــیو نـــه وي
دې تمونـــې وه تـــور تـــور غـــرینه تـــــه وو ژوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزني افغان

### دې منې تنده

دې ځــــــووني زور مــــــې دې لیـــــدلې نـــه دای
ژونـــد دای رانګـــین خــــــو دې کاتــــلې نـــه دای

دې امـــن دشـــتې تــــه څـــوک نـــه داریـــــژي
دې جنـــګ میـــدون تــــــه! دې روتلــــلې نـــه دای

داغــــه ســـاړای دې رانګــــه تـــور غـــــوندې دای
خـــو پــه خـــوله تـــور لکــه! دې خپــلې نـــه دای

دې میــــنې تنــده مـــــوتاوه؟ خــــو خیـــــال کـــه
جـــانان پـــه مینـــه کښـــې دې بـــلې نـــه دای

پــه چـا ځـــاورېژي پــه چـا نـــه ځـــاورېژي
'غــــزني افغـــان' پــــه تـــول دې تــــلې نـــه دای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غفور تنها

## ګرځاوه

په ناخشه یې روکړي تووېزینه ګرځاوۀ
دې ځکه خو موت زړه په زیوراتینه ګرځاوۀ

تامومه شپه دې خور یتیم دې غام څلي ته نوست وه
سپېږمي ته یې دې سپین مخ تصویرینه ګرځاوۀ

رانځیر دې یه په تورې ګوړګوتي غري ییزې څڼیې
دي ځکه خو په جیب کشې سوراتینه ګرځاوۀ

دې غام رامه دې واخت په چک چک غرینه ګرځاوۀ
زه خپل ستړای سیرات په نور ملکینه ګرځاوۀ

غفوره باس چې څه شي ستي دا وشي نوره نه شي
دې تو لیکلای نوم په مړواندینه ګرځاوۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فیدا ماسید سنګر

## خاباره نهٔ یې

جــانانه تــوته پتــه نشــته پــه مــو څــهٔ تېــريږي
ډېــرې خــورې ډېــر تکليــفينه مــې پــه زړهٔ تېــريږي

خــواشووله ګــرځې تــهٔ  دې مو په حــال خاباره نــهٔ يــې
قسام داى نــه دې مــو ماړی نــه مــې ايبهٔ تېــريږي

زه دې چــې تېر خالــي دې کور په خــو شــهٔ باد اېــديږهٔ
ګنـــې پــه دغــه ليــار خو ټــول ووړهٔ زوړهٔ تېــريږي

ته خو په براګې سترګې رتې ډېــر چنګې پنګې تــوی کــې
په مـــو خوژهٔ واختــينه رتې تــرخهٔ تــرخهٔ تېــريږي

کيــز پــه پنجــاب شې خو په ميــنه پابــندي نشــته داى
خـــو دغــه ظلم داى چې پــوس پــه پشــتونهٔ تېــريږي

فِــدا مسيده دې ځونه جوړ ستي ويرته چګ افغان داى
هـــر څهٔ زغمــي چې يې هر څهٔ په ګريوونهٔ تيــريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فولادي محسود صېب

## خرڅ يې کړم

ټول عمر مې تېر کړو انتظار باندې
ولې نه رادرومې په دې لار باندې

ما خو دا خپل زړه ورته بخښلی دی
وریت یې کړو مخلوقه په انکار باندې

داسې خو آقاء نه کړي غلام سره
خرڅ یې کړم بې نرخه په بازار باندې

لاړه مې ځواني، بږیره مې سپینه شوه
نه کوي سلام تش په بیمار باندې

ښه که کړې تلوار را او کړه مړشومه
بیا به مې ژړا کړې په مزار باندې

زه یې فولادي د هر څه و ایستم
ډېر یې کړم بې قدره په اغیار باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فاروق جان

## د اور بخري

میـــــــنه محـــــــبت د اور بخــــــري د ي
دلـــــــته حقیـــــــقت د اور بخــــــري د ي

دلـــــــته د انصـــــا ف تـــــله کمـــــزوری د ه
دلـــــــته کـــــــزاوت د اور بخــــــري دي

یـــــو خـــــواته نفـــــرت پـــــه وطـــــن زور وکـــــه
بـــــل خـــــوا د غـــــربت د اور بخــــــري دي

شیـــــخه خپـــــل میـــــزاج تـــــه دي لـــــږ پـــــام کـــــوه
ستـــــا خـــــو نصـــــیحت د اور بخــــــري دي

نـــــه مـــــې شـــــي لـــــه وســـــه چـــــي ســـــرتیـــــټ کمـــــه
مـــــا کښـــــې د غیـــــرت د اور بخــــــري دي

چـــانه مـــــې د هیـــخ یـــــو شـــــي ګیـــــله نشـــــته
خپـــــل مـــــې پـــــه قســـــمت د اور بخــــــري دي

ستـــــا فـــــاروق جان زړهٔ پـــــورې نیـــــولي بـــــس
ستـــــا دمحبـــــت د اور بخــــــري دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرمان راعزیوال

## حېران یمه

درد مـــې کـــوي زړه رانـــه قـــرار غـــواړي
ستـــا د لېـــونو ستـــرګو دیـــدار غـــواړي

زه دې خپـــل ســـاده زړه تـــه حیـــران یمـــه
ژاړي پـــه پـــردي وطـــن کـــې یـــار غـــواړي

زه بـــه د اوږده بـــریتونه لنـــډ کـــړمه
ګـــرانې ستـــا اوږدې زلفـــې سینګـــار غـــواړي

ښـــکلي د کـــړي بند پـــه خلکـــو دا ظلـــم
ولـــې پـــه پـــردو زړونـــو اختیـــار غـــواړي

ښـــکاري راغـــزیوال فـــرمان ګمـــره نـــه کـــړي
یـــار مـــازدیګر بنګ غـــواړي خمـــار غـــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فتح الله تابي وال

## داړدينه

په سامه کشې داړدينه دي په غرينه کشې داړدينه
په مېږ رو واربدلي په کورينه کشې داړدينه

په خوب شې مې ليدلای دای خپل کلای په لمبې کشې
رو پورته دي دې زړه په دېوالينه کشې داړدينه

خاندو يې لکه و راپيږي څروغ دي چا په کابر
رو نغشتي يې دې خولې په خولکاتينه کشې داړدينه

يو واخت وه چې دا لياري وي غارغوړې په ساندې
وېس وير دای، چا کارلي په ووړخينه کشې داړدينه

دې مو فتح الله دي ژوند کيسه چې دېر ته وکه
دې وينې په ځوی تشتي مې راګينه کشې داړدينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کمال کمال

# ضمیر فروشي

پـه هـار شـه بـاد بنـدي خاموشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي
شـه پـه مـازې ضـمیر فروشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

مـوټر بـانګلي نـوم او پـاګړۍ نـور داسـي ډېـر شـه
دا تـه دي مېـژ پـه سـويې غوشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

دا چي هار واخت په وير تانډير سيرې نورې غارغور داى
پـه دا وطـن کشـي هـن پـه شوشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

دي خپـل واطـن دي خپلـواکۍ وو مـي نـور شـه ژاغـاوې
بس خو په رانګ دي يوې مېړوشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

دي پلـور نيکـه نيکـات وو شـته خـو دي اغـي بـا وجـود
مېـژ دي کـاډووول خانـه بدوشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

پـه خـوب وووده هـن چېـرې لشـکي سـاره وغـازيژي
کمالـه دا تـه خـو مدهوشـېِ خـالکي ژونـد وکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرامت چارګل

## کڼه مینه

مو لېوانای یور کۀ میندۀ ژاغیژي
سار یې دای ټیټ پۀ سریندۀ ژاغیژي

دې موزدیګار بود یې آووز رووري خو
چیرې دای نوست پۀ چګ تندۀ ژاغیژي

غیږ وو مې توته دېر چوپړ وای ګله
بیا وو ټول خالک پۀ پېر سوندۀ ژاغیژي

خؤش مړیې تنده مې پې موته نۀ شوه
لایلو پۀ غوړه دې سیندۀ ژاغیژي

مو چارګل ګونګه کڼه مینه وکړه
ټول ارمونینه مې ړوندۀ ژاغیژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالرحمن کوکي ماما

## ړیند قوم

دې پاشتـانــې دې ســـار سـړي تــه بداعــوو شــويې دو
په پردي جنګ شې يې نن بيا دې مارګ ساو دو شـويې دو

میژ کـه لمانځینه دې جماعـت پـه آوال صف شــې وکـي
دو دا مـالـيمــه چـې دې مـــيژ نــه نـــراوو شـــويې دو

کـه وي خېريات کـه وي تحفه کـه وي اسکات او خالـوت
آه دې شــامــر باخــره پــه هــر ځـوی دې ملــو شــويې دو

مـيژ چـېرتـه ژونـد شــې خواشولــی او خانـدو و نـه ليده
دې میـژ پـه ټـول عمـر بـس بخـره دې ژاوو شـــويې دو

کـوکي قسام دای که دا ړینـد قـوم دې په ژوند بيـدور کـه
کــوکي دې تـوس پــه شـاعــرون پـرې خانـدو شـويې دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قسمت الله مسافر

# رنګین ماښام

زور د قلـــم، شـــور د شعـــور، میـــنه د مـــور مـــزه کا
درد د احســاس، روح د عمـل، فکــر سمســـور مـــزه کا

پاخـــون ملـــي، ګام تاریخـــــي، اوبـــــهٔ رڼـــې مـــزه کا
جزبې تـؤدې، مازغـــهٔ ساړهٔ، پـــوهه پـــر زور مـــزه کا

ژوُنـد د ځـــوانۍ، انجام د صـــبر، صـحت روغ مـــزه کا
مـوج د ایمـان، جام د کـــوثر، د جنـت حـــور مـــزه کا

غـــږ د تکبیر، ژوُنـد د غېـرت، مرګ شهـــادت مـــزه کا
فـــکر ازاد، نفـــس بنـدي، یـــاران غمــخور مـــزه کا

شیـــبې د وصـــل همـــه وقـــت د مســـافر مـــزه کا
رنګیـن ماښـام ،تیارې د زلـفو، تـڼـګ تکـــور مـــزه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قاسم مئين

# خو په دې شرط

څـهٔ به درته ووايـم،اشنـا، کــه غــوږ نيــولی شې
بيـا به درته غــوږ شمه، کـه تـهٔ هـم څـهٔ ويئلــی شې

زهٔ يــم ور روان، چـــې دروازې د دوزخ مــــاتې کړم
تــهٔ وايــه، دا کـــار د ليــونتــوب، تـهٔ هم کولی شې؟

زهٔ د جنګ ميـدان تـه هـم رقيبـه، پــهٔ اتــڼ ځمــه
تهٔ دې د خپـل کـور مخکې کې هم، وايه ګډيـدلی شې؟

ايبلــې پښې به درشـم کـوه قاف ته سـتا ديدن ته خو
تهٔ کــه د ديـوانــو د تــور بنـد نــه را وتلــی شې!

ور بــه شـم پهٔ پټو ستـــرګو هـــم د درخـــو کلي تــه
لاس تــه مــې ربــاب د ادم خـــان کــه را کولی شې!

و به خــوري خـپل سـر او پهٔ راتلـــو به پښيمـانه شي
غــرهٔ غـوندې و مـخ ته د طــوفان کــه دريــدلی شې!

روئ دې د( مئين)راوړو، بس تير به له خپل ضد نه شم
در به کړمه زړهٔ خو پهٔ دې شرط ، کـه بې ساتلی شې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاسم فګار

## ړانګ پانګ

پــه ســره یورینــه ســوای دای بادارانــګ دای واطــن
لیتــې لیتــې لوېــدلای دای ړانــګ پانــګ دای واطــن

پــه ځنــې ځنــې خالــک بنــدې آبــاد دای واطــن
دې ځنــې ځنــې خــالکې نــه ستي تانـګ دای واطــن

نـــافرات کینــــه او بغـــض داغـــه دري بېمـــوري
دې مېــژ دې لوســه وچ پکشــې شــولانګ دای واطــن

روخــۍ چــې سـاره جـوړ یــې کــې جانـات دای واطــن
بــاربود شــه ډېــر دې ځــاؤر دای مالانــګ دای واطــن

دې مینــې پــه رېکمــال یــې ســاپویي کــاوه فګــار
دې: زې؛ مســئله دو زیوتــه لکــه زانــګ دای واطــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لالـک خون خېل

## ګنـــاهګوره وو شۀ

دغـې خبـرې وو مـې زړۀ خـــوړ چـــې بـــې یـوره وو شـۀ
دېـر واتـۀ ځـکه نـه مـو وېـــل چـــې ګنـــاهګوره وو شـۀ

مـو پـــۀ شېـرین وطـن کشـې ړانګـه وختـــېري کـــوله
ده مـې پۀ خوب خاطرکشې نۀ وه چې بـــې کـوره وو شـۀ

مـه مـــې پـرېژده دې بيلـــتونـه ســـرېخواره سيـلۍ تـــه
لالیـــه پـام روبـونـدې کـــــه دېـرخه سـرتـــوره وو شـۀ

لـــوړې ژاورې پېچـــامینـه دي پـــۀ لـــوس مـــې ونخـه
دامانـــې پېغلـه يـــۀ ختـــائ نـــۀ شـــۀ نســـکوره وو شـۀ

څـــوک وو دې مـړ کـو لیـــوانیه مـــړ ده نـــۀ شـې روخـه
دې هـــرې چيـغې سر تـه څـــې لالـــکه خـــوره وو شـۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد خلیل ' مهجور صیب

## د کالج زمـانه ــ کال 1969ء

چـــې شعـــور رښـا وانــخلي ســتا لــه نامـــه
نبـــکلے شعـــر نــهٔ شــي لیــکلے بـــې الهامـــه

لا تـــر اوسه هـــم زیـــاتے کـــړي پــهٔ کمـــزورو
سـامراج هېڅ سبـق وا نــهٔ خـیست لــه وېنامـــه

پــهٔ لمــانځهٔ کښـــې دې چـــې ســوچ د کچهــرۍ وي
داســـې لـــمونځ خـــو راتــه مــه کـوه امامـــه

د ډېـــوې تـــر لمبه ځـــرخي پـــروا نـــهٔ کـــړي
کــه هــر څـــو پتـــنګ خـــبر دے لــه انــجامـــه

شـــو پـــهٔ میـــنه تـــر قیـــامته ژونـــدے پـاتې
خـو قیصـــه د مینــې قیــس نــهٔ کـــړه تمامـــه

کـــه فـــرهاد شـــاودهٔ را نــهٔ ویســـتل لــه غـرهٔ نه
شـــیرینۍ یـــې میـــنه نـــــهٔ کړـــي ناکامـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه سبـــا دې لــوظ نـه وې نـــن د خــولې نـــو
میئـــن زړهٔ انتــظار نـــهٔ کـړي تـــر ماښامـــه

ښکلـــي ښکلــي چـــې آزاد بـــې ویـــرې ګـــرځي
مطمـــئن شـــم ؟ د کالـــج لـــــه انتـــظامـــه

چـــې د ســـــرو ویـــنو د زړهٔ پـــهٔ بیـــعه راغـــے
مهجـــــور نـــهٔ ځي د سرو شـــونډو بـــې انعامـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مظلومیار محسودي

## نهٔ پوهېدم

د مینې پهٔ بازار کښې ګرځېدم نهٔ پوهېدم
ماشوم لکه هر څهٔ ته اودرېدم نهٔ پوهېدم

غرور د بلها حسن و خپل ځان ته بندي کړای
ناڅاپه یې پهٔ کور ورګډېدم نهٔ پوهېدم

د مینې پهٔ بهیر کښې مې هېڅوک ملګري نهٔ وو
ډېر ډېر د خپل سفر نه وېرېدم نهٔ پوهېدم

اخر دا لوی کاروان تر خپل منزل ورسېدلو
خو زهٔ پهٔ هر قدم به تمبېدم نهٔ پوهېدم

یو لور ته مایوسي وه او بل لور ته لوی ارمان
یؤ خیال پسې روان ؤم ژړېدم نهٔ پوهېدم

یؤ راز د خپل مزل او د منزل نه راته جوړ ؤ
د ځان سره لګیا ؤم غربېدم نهٔ پوهېدم

تورتم د رواجونو راته لارې وې نیولې
ژړا کړي مظلومیار و پوهېدم ، نهٔ پوهېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## معصوم وزیري

# ژړا ده او سلګۍ دي

سبب د کـړکیـچن ماحـــول دا لاره خو به نهٔ وي؟
زمـونږ خپـلې خـامۍ چیـرته بې شماره خو به نهٔ وي؟

بیګاه راتـه خوشحال بابا په خـوب کې داسـې اووې
لښــــکر د پښــتنو مـې بـې ســالاره خو به نهٔ وی؟

نعـــــرې د تکبـیرونو مــې راځـي چې تـر غــوږونو
دا خاوره مې پردي جنګ کښې ایساره خو به نهٔ وی؟

لـه هـــرې خـوا یې خلق چې پـه کاڼو بانــدې ولي
مالیـــاره دغـــــه ونـــه میـــوه داره خو به نهٔ وی؟

مکتب تـه چې ماشـــوم لیــږم دا یـره راســره وي
بـلا ولاړه لارې کښــې خـونخـــواره خو به نهٔ وی؟

پښـتو وایـي شمـله پـه سـر ښـکلا یـې بـلې بـلې
راغلـي دا زلمـــــي لـــــه ننګــر هاره خو به نهٔ وی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښـکلي قیمـتي غمـي د بـل چـا کـیـدی نـهٔ شـي
پـــریــوتي د لیــلا د غــــــاړې هـاره خو به نهٔ وي؟

پښـــتون د وچــو پاڼــو غونــدې الـوځـي دنیـا کښــې
راغلــی پـرې قیـامت چیــرته بـــې واره خو به نهٔ وي؟

نــری نـــری ژړا ده او سلګـــی دي تـــوره شپـــه ده
معـصومه جـدا شـــوی څـوک لـه یاره خو به نهٔ وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویس چې دې کوره رو وو وزې ستـرګې وغـړوه
ووړکـي ګاډیـژي چـګـوي په درمنـدهٔ لـوسـینه

محزونه لوظ مې دې تو سره دې خلـې کړای دای
مو دې یورۍ تـو تـه دیر کـړي دي پوخـهٔ لـوسـینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منور شامیر محسود

### ورکه مینه

وینــه مې دې زړهٔ، میــنه ډېــــبه کــو خــواټیژي نه
ونــه دې نارګــوسې ســــرهٔ ګلــــینه کــو وچــیژي نه

ژمای چې پې رو شي پخې تیې کــو ونې خـــړې کــو
اصــل بادال نــه کـــو کســـه شــــنې ونې رټــیژي نه

زړهٔ کشــې مــې یــودینه پریودیــــنه کــو سلــګی وایــي
ورکـــه میــــنه غـــوړي پــه ســـازینه غـلاطیژي نه

وګـــرځه طبــیبه لــــژ دې میــــنې کتــــوب ویـــایه
موت کــــه ترمامیـــټر دې مـــو تبـــه مالیـمیژي نه

زړهٔ ته مې لوس رو وره په سیــنه کشې مې تم کیـژي نه
وکســـه بلډ پرېشـــر مې پــه څـــه دای چې چــګیژي نه

مو غامـینه غلـي کـړل خاطـــر مې دې تـــو وســـوتل
پوی شـوهٔ په انجام یې چې زړګـای دې خـواشولیژي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايشکې مــې دي راډې تـور سـپين دواړه لمـداول غــوړي
ګانې بــونهٔ نه ليار غـوړي په ســـترګې کشــې تـم کيـژي نـه

اې شـامــيره چـپ شـه قـلـم ووچـاوه شپــه تيــره شــوه
څــاته غله عـــمر هـن په يـــوه شـپه کشـې ختميـژي نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد اقبال شکتوی وال

# د یادولو نه یم

زړګیــــه مــــه یــــې یــــاد وه، د یــــادؤلو نــــهٔ یــــم
وېښــتهٔ مــې سپین سترګې مې تتې د کتــلو نــهٔ یــم

و نشــانونو تــه یــې ځیرځیــر ورکتــلی نــهٔ شــم
شکتــوئ تــه نــهٔ ځم پهٔ شــکتوئ د اوســېدلو نــهٔ یــم

جــوړ لــوټې لــوټې یــې کــړو ما ورتــه پــه ځــیره کتــل
دومــره بې وســه یــم د خپــل کــور د ژغــورلو نــهٔ یــم

د ستا ژونــدون پــه محــلونو کښــې بــې غمــه اوســه
زهٔ پټــواري یــم ښــپې تنهــاکې د لیــدلو نــهٔ یــم

زمــا آهــونه پــهٔ زړګــې بانــدې اودهٔ پــراتهٔ دي
دومـره تـربت یـم ستــا تــر مــخ د ژړېــدلو نــهٔ یــم

نــوره مــې پــرېږده چــې مــرګي تــه پــهٔ قلاره ورشــم
تــل لوبېــدلای یمــه نــور د لوبېــدلو نــهٔ یــم

اقبــاله بیــا موســم بدلیــږي د ږلــی خــطره ده
ښــې دې وباســه و دامــان تــه د ښــارلو نــهٔ یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولانا بنيامين مجروح

## جنازې

مـــا د ژونـــدون د خوشـــحاليو جنـــازې وكـــړې
پـــه خپلـــو هيلـــو ارمـــانونو مـــې نخـــرې وكـــړې

مـــا څـــومره ســـتړي ناتمـــام غونـــدې مـــزل وكـــړ
پښـې مـې تنهاكې شـولې شـونډو مـې هـم خـولې وكـړې

خپـــل ارمانونـــه بـــه مـــې شـــا تـــه غورځـــول او تلـــم
راپســـې غرونـــو څـــه ويرژنـــې انګـــازې وكـــړې

يـــو ځـــل مـــې بيـــا د قســـمتونو تـــوازن وكـــړ
ځـــان تـــه مـــې ښـــې ډېـــرې دعـــاوې او ښـــېرې وكـــړې

زمـــونږ صـــفونو يـــو ځـــل بيـــا مـــذهبي رنـــګ راوړ
زلمـــو د هنـــد غـــذا تـــه كلكـــې ارادې وكـــړې

مجروحـــه وايـــه نـــور د مينـــې انتهـــا څـــه وي
زمـــا جنـــون ته د نـــــړۍ جنـــون سجـــدې وكړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولانا حزب الله احساس

## روان یم

زه غبرګ د انقلاب یمه یو کړنګ یمه روان یم
زه سوی یم بارودو تور لونګ یمه روان یم

روان یم په لټون د خپل منزل یم په صحره کې
کچکول مې دی په غاړه یو ملنګ یمه روان یم

ده نه چې زه ده ستاسو نه خفه یمه ملګرو
ده خپل بدبخت قسمت سره په جنګ یمه روان یم

نه غم نه پریشاني لري مسکا یې وي په شونډو
زه داسې یوه سړي سره په ځنګ یمه روان یم

چې ځومره دي مزل وي زه منزل درسره کرای شم
زه مسته غوندې چیغه ده، کړنګ یمه روان یم

احساس محسود یارانو باندې مړ یم خو دي ښار کې
بس زه ده ځو سړیو ځخه تنګ یمه روان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولانا ثناء الله د قاسمي

## موده کېږي

پــوره شــوې د دردمنــد زړګــي مــراده دا دے راغلــم
اوس اوخانــده زخمــي زخمــي هېــواده دا دے راغلــم

مـوده کېږي د چـپ شـه لاس دې خـولې بانـدې نيـولي
د زړه کيســـه کـــوه راتـــه آزاده دا دے راغلـــم

منصــور يمــه د پــاکې مينــې تــور بانــدې ککــړ يــم
کــه وژنــې مــې حاضــر يمــه جــلاده دا دے راغلــم

پـه خپلـو وينـو اولمبېـدم ځـان مـې سـپين ثابـت کـړو
څــه فکــر دې دے اوس وايــه نــقاده دا دے راغلــم

سـلګۍ مـې اوربـدلې خـو فنـا مـې لـه نظـر وې
ذرې ذرې زړګيـــــه و بربــــاده دا دے راغلـــم

اميـد دے قاســمي بــه دې خــندا بانــدې بــدل کــړم
لــږ صــبر د يتيم د خــولې فــرياده دا دے راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میراسلم پشتون

## په اور کې سوزم

دَ قصابانو دَ چاړو د لاندې ژوند کومه
دَ صیادانو دَ ګیرو د لاندې ژوند کومه

پهٔ زړهٔ مې اوور بل دی له تنه مې لوګي وخیژي
دَ وران مزل دَ تناؤو د لاندې ژوند کومه

درته پهٔ سوال یم نور پهٔ ما خوار باندې وترسیږئ
پهٔ ما رنها کړئ دَ تیارو دَ لاندې ژوند کومه

دَ ترس خوک نهٔ لرم خپلو کښې چې ما اووینې
زهٔ دَ پرادیو دَ قبضو دَ لاندې ژوند کومه

خلق پهٔ مخه دې روان بَره اسمان ته خیژي
زهٔ دَ ظلمونو سِتمو دَ لاندې ژوند کومه

پهٔ هر اړخ مې دَ بارودو سرې لمبې بلې دي
پهٔ اوور کښې سوزم دَ لوګو دَ لاندې ژوند کومه

منم چې چا به بعیه کړې وي پښتو ژبه خو
زهٔ له " پشتون" یم دَ پښتو دَ لاندې ژوند کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محب مصرف پشتین

## سرې وینې

په چا پسې دې چیرې شـــهٔ ژاړلـــي دي کــــه نــــه
بــوښـــهٔ دې سیلَـول بنـــدې ووکـــشلـــي دي کــــه نــــه

دې چــا دې ډېـره غامه دې چې ویشه شــپه سابــو وي
خـــــوبینه دې دې ستــــرګې تشتېـــدلي دي کـــه نـــه

چې کسي دې تک سـرهٔ دې وینې ډاک وي لکه زخـــم
ګایېځ دې څـوک په سـرې سترګې پېدلي دي کــه نــه

په ډاک زړهٔ په لمـاشوم دې چې مــاړۍ خـــواړلیې نوي
دې ایشکې رنهٔ سوســکي دې لـــؤېدلـي دي کـــه نـــه

چې تــهٔ وو خواشــېدې وېـرته خــرچه دې پې کَـــؤلـه
لـوسـینه دې دې یغ څـــوئ نـــه وینځلـي دي کــــه نــــه

چې تک تــور بارود سـوي وي لوسینه پشې ېي نـــوي
بهشتیون دې پــه ســـرې وینــې لامبېدلـــي دي کـــه نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیمه شپه تیارهٔ کښې بې پښتنې ګاوېژنې
پهٔ کور بندې لېوون دېر نناتلي دي که نه

ویلوړ دې چې بچي وي تورسرې سیرې نورې کو
بوتې سره څوک سام دېرکښې خاتلي دي که نه

چې پته بي دې شي دې بادې نهٔ لګیژي ورک وي
مشرون دې بې ګُنا چا تشتولي دي که نه

دې دغې ځهېنډې خوته تهٔ خو کې چې مېژه یو بي
نا تو په ژؤند کښې لووړغامینه لدلي دي که نه

چې بیا دې مُحِب یور شي فیصله دېرسره وکو
دې خدای پهٔ نوم دې یوره څهٔ منلي دي که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد ایاز مسعود

# ژوند

ژوند دای بس تېریږي څه به او وایم
عمر دای لنډیږي څه به او وایم

کاش په شنهٔ ګلشن دَ بورګانو کښې
تور زغان ګرځیږي څه به او وایم

بیا دَ پورې غرهٔ بوبرې نښتر وسول
شنهٔ لوګي ترې خېږي څه به او وایم

دَ ښنکه جنت جنت وطن کښې یو
هر ځای یې سوزیږي څه به او وایم

راشه که دَ زړهٔ دَ درد لیدل غواړې
شوندې ترې وچېږي څه به او وایم

ښومره چې جانان کوي نفرت هومره
مینه یې زیاتیږي څه به او وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسـې مـراور جـانان تـه سـور سـلام
پـټ راتـه خنـدیږي څـهٔ بـه او وایـم

آخ دَ یـوه شـوخي دې راتـه معـاف وي نـو
زړهٔ مـې نـهٔ صبـریږي څـهٔ بـه او وایـم

زهٔ دَ خپـل فطـرت او دَ عـادت غـلام
سـر مـې نـهٔ ټیټـیږي څـهٔ بـه او وایـم

یـار او ایـاز ډېـر ډېـر سـره لـرې دي
یـو چـم کښـې اوسـیږي څـهٔ بـه او وایـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منهاج نادان

## بې واسې

څــو اَرمونيـــنه ؤُو دې مــو پـــه نـــادان زړه پــوتې شـــې
دَنيـــو فــانی دو دې انســـان نه څه نـــه څه پــوتې شـــې

لـژ بـــې واسی دو څـــه کړای نهٔ شهٔ کــــنی داســـې نـــه دو
دې تــو دې ایشکې سمنـدر پـه تـــور بورنړه پــوتې شـــې

تـه کـه مانـــې کـــه نـــه مانـــې خـــالی پشـــتنه وکـــه
رانګ مې شهٔ تـور لکـه سکـرواټه پـه یوره پــوتې شـــې

دې تـو یودینـه مـــې دې زړه پـــه دېـــؤُول داس پـروته دي
لکـــه پـــه ژمـــی سپـــينې ؤُورې پـــه پرېـغله پــوتې شـــې

دې لېـوانۍ میـــنې پېـریون دې پـــه مـــو داســـې وکـــو
منـهاج نـادان نـــه دې تـــو نـــوم پـــه کیتوبه پــوتې شـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد امین جان ارماني ( مرحوم)

## د ژوند ارمان

یوځــل خــوشحال چــې د غمــجن وزیرســـتان او وینم
چې په خپل ژوند کښې ارماني د ژونــد ارمــان او وینم

انصــاف انصــاف وي خــوشحالي وي ظلــم زور نــه وي
امــن سکــون وي رور والــي وي چــرته شــور نــه وي
داسې نــظام وي چــې ظالم او رشـــوت خــور نــه وي
چې مســاوت وي چــرته خــوار غریب مــزدور نــه وي
چــې نیست نابــود د ایجنــسۍ ټــول ملــکان او وینم
چــې په خپل ژونـد کښې ارمـاني د ژوند ارمـان او وینم

د ایف ســي ار د تــور قــانون چې زنځرونـه مـات شـي
دلته چـــې راج د تــول فرســـوده رواجـونه مـات شـي
د انقـلاب په تـوره ټــول د فـریب چـالونه مات شـي
زمـــونږ د سیـمې د غـدارو ښـــپې لاســـونه مـات شـي
یــوځــل خــوشحال خپـــلواک ازاد تیـــمان او وینم
چې په خپل ژونـد کښې ارمـاني د ژوند ارمـان او وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل اختیار مو هر تحصیل کښې کونسلونه جوړ شي
دغـه کـونسل زمـونږ په رائـے پـه ووټــونه جوړ شي
ملـک غدار دی چې خــپل ځان خـرڅوي قام خرڅوي
چې مـو رهبــر وی رهـزن څنګ به قامونـه جوړ شي

کاش چـې پـه ژونــد بیا د انصاف هــغه دوران او ویم
چې په خپـل ژوند کښې ارمـانی د ژونـد ارمـــان او وینم

تعلیم یافـته زلـمو راویـښ شئ د خپـــل قــام په خاطـر
هـر ځای جلسې اوکــړي په هر ځای جلوسونه جوړ شي
وزیــرستان کشي بــه د مـــري اېبټ اباد پـــه شـــانې
چې امــن وي دلـــته بنـــګلې به بلــډینکونه جوړ شي
چــې بـــدي نـــه وي رور ولـــي امـــن امـان او وینم
چې پـه خپل ژونـد کښې ارماني د ژونـد ارمــان او وینم

مـــونږ د انګریز ســره پــه هـــر محاذ جـهاد کړی دای
پـه هـــر محـــاذ مـــو الله پاک غیـــبي امـــداد کړی دای
مـــونږ منـــظم قـــام یـو دوکه څـوک راکــولی نه شي
مـــونږه عمل د خپـــل امـــیر پـــه هـــر ارشاد کړی دی

(مونږ قیادت کې د ملا پیونده آمیر )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملنګ جان مراور

## خواره بر خه

چـــرته بـــه روغ شـــي کـــه دغسې بـــه رانځـــور زړه وی
لاســـونه کېـــبږدم پـــرې نـــيولی مـــــې پـــه زور زړه وی

څوک چې سفر تـه ځي بيخي پسې څوک نه وی خفه
پلار يې دولت تـه خـوشال پـرې پسې د مـور زړه وی

پـــه مېخـــانه کې څـــوک ساتونه يو او بـل تـــه نه کړي
جـامونه ډک دي ښـه يـې وڅـــکه کـــه دې نور زړه وي

زمـــا د خـــواره بـــرخـــه وي تـــاتـــه مســـتي مبـــــارک
زما د ړنـګ کابـــل جـــان وی ســـتا دې لاهـــور زړه وي

ملنګ يـې غـواړم ښه په شوق خو پکـې شـرط مې د دی
چـې ســاده خېـل نـه وي د ميـــنه د شعـــور زړه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقصود مسيد

# د اور بخــــرکي

واخلــــه ګلــــونه، د ګلــــونو لــــه بــــازاره يــــاره
د ژونــــد او ميــــنې تقــــدس ؤ پــــاله يــــاره يــــاره

پــه زرتشــتي مينــه مــې وســـوزوه هـــر يــو انــدام
را غــــورځــوه د اور بخــــرکي پــــه دې لاره يــــاره

مــونږ شکست خوردو پــه تـاودهٔ زړونو منلي شکـست
مونــږ په ســاړهٔ سينه روان يــو له دې شــاره يــاره

راپــاتې زړه مــې راځــوړند دی د ډېــورنډ تارو کښې
مــــاته خـــورده راوړه ورځـــه لـه کنــــدهاره يــــاره

د دې ډرامې پــه اخــري قسط کې مې زړه نـور تنګ شو
جـــولۍ مـــې ډکـــه ده لــه چيـــغو لـــه ازاره يــــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میناور مسید

# غنمرنګه

خوږه مور یې سرګکره پسې ګرځي
لټوي یې ادیرو کښې شوه ملنګه

د ماښومې خور سلګۍ یې په زړه ټک کړې
وایي وروره چرته لاړې غنمرنګه

په بارودو باندې سوې لوغړنه
درنه لاړم اې وطنه ړنګه پنګه

د ظالم د لاس هجرت مې خدای قبول کړه
چرته ورک یې د غازې د توري شړنګه

نن دې بیا په شنه ډالر باندې قابض کړو
چې مې پلار نیکه شړلای وې فرنګه

زه دې وړم چې دا (پیرغر) په سر دې ښخ کړم
اې شهید شهید ټوټه ټوټه لونګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــر یــو شعــر مـــي دا مــلالي خــور تـــپه کــه
خــدایه ګــرځي پښــتانــه ځـوانـــان بـــې ننـــګه

کـــنــډواله دې روغ کـــورنـــه دې ویـــجاړ کـړل
څــهٔ بـــې رخــمه څــهٔ ظالــم ي سپـــېــرهٔ جـــنګه

میـــناور مســـید غــمــونــو تـــه دې پـــریښـــوم
مــرګـــــه وړي دې یـــاران زمـــا د څـــنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مصطفی چاچا (عرف چاچک)

## نه روغیږي

لیـــــواني شـــوي لیوانیــــــون روســـــره ژوړي
نـــــه روغیـــــږي تابیبــــــون روســـــره ژوړي

خیـــر دې میــــنې تـــولاوي کلــــي پـــه کلـــــي
دار پــــه دار یــــــي ملانګـــــون روســـــره ژوړي

میــــږ پـــه میـنه پســې مــــړه یـــي مینانـــوک یـــې
ونــــې بیـــــتې ســـــره ګلـــــون روســـــره ژوړي

دردېـدلای خلـــک پـــه درد بونـــدې خـــــبر دي
ځـــــاورنـــــوک دي مۀینــــــون روســـــره ژوړي

بـس یــو تــه یــې پـه ( چاچک ) دې رحــم نـــه شي
کني خـــدای شـــته چــې هینـــدوون روســـــره ژوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منصور قبائلیستاني

## نوی نوی زړهٔ لوګی شو

نــوی نــوی یاد یې راغـلو، نــوي نــوي شـــول غمــونه
نــوې نــوې آرزوګـــــانې، نــوي نــوي ارمـــــانــونه

نوی نوی زړهٔ غمجن شــو، نــوی نــوی یــې ګفــتن شــو
نــویې نــویې تمــنا کــړي، نــوی نــوی بیــا مئــین شــو
نوی نوی بیــا زخــمي شو، نــوي نــوي کـــړي دردونــه
نــوې نــوې آرزوګـــــانې، نــوي نــوي ارمـــــانونه

نــوې نــوې چــې یاري وي، نــوې نــوې زنــــدګي وي
نوې نوې پهٔ ژوندون کښې، نوې نوې خوشـــــحالي وي
نوي نوي بلها خــوند کـړي، نــوي نــوي دیــــــــدنونه
نــوې نــوې آرزوګـــــانې، نــوي نــوي ارمـــــانونه

نوي نوي پهٔ هجـران کښــې، نــوي نــوي دې دوران کښــې
نوې نوې قحط سالي کښې، نوي نوي خړ خــزان کښــې
نــوي نــوي مــې زړهٔ غــواړي، نــوي نــوي بهــــــــارنه
نــوې نــوې آرزوګـــــانې، نــوي نــوي ارمـــــانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی نوی مې زړهٔتنګ شو، نـوی نـوی يـې آهنـګ شـو
نـوی نـوی پهٔ غـصه شو، نـوی نـوی بیـا ملنـګ شو
نـوې نـوي کـړي خبـرې، نـوي نـوي کړي سـوالونه
نـوې نـوې آرزوګـانې، نـوي نـوي ارمـانونه

نوی نوی زړهٔ لـوګی شـو، نـوی نـوی سپـېلـنی شو
نوی نوی شورغوغـا کړي، نـوی نـوی لېـونی شو
نوي نـوي اې منصـوره!، نـوي نـوي کړي آهـونه
نـوې نـوې آرزوګـانې، نـوي نـوي ارمـانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مفتون مسید

### بد حال دی

شـــپې دي، او کـــه ورځـــــې مختصـــرې دي
ژونـــد ، یعـــــني مېـــــږي کـــړې وزرې دي

دلتـــه د څلـــوور لسیـــــزې بـــــد حـــــال دی
ویـــر دی،کـــه نغمــې دي،کـــه سنــــــدرې دي

هغـــه پښـــتون، تـــش پـــه نـــام پښـــتون پاتـــی
زنـــګې دي، کـــه تـــورې دي، کـــه زغـــرې دي

ښـــار کښـې د ارې خـــولې تـــه پـــراته لـــرګي
دا مـــې د واوریـــــن پیـــــرغر ننښتـــــرې دي

تـــه داســـی اوبلـــن اوبلـــن غړېـــږی جـــــار
ستـــــا خبـــرې ډېـــرې خونــــــدورې دي

شـــونډو یـــې مفـــتونه صلـــحه کـــړې ده
ستـــرګې یــــې کـــږې دي مــــرورې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نثار احمد نثار وزير صيب

## رژېدل ګلونه

زمــا لـــه ګـــوتو ښـوئــېدل او تــا ټــومبـــل ګلونه
تــه وې سپـــرلی ؤ ول پــه ول مو چې اوبـــدل ګلونه

د چـــا پـــه در خـــاورې کېـــدل د چـــا پـــه در ګلونه
د ګل کېـــدۀ پــه خــاطر بیــا خــاورې کېـــدل ګلونه

زه د نمـــرمخیـــو پـه پـــلو پـــرېـوتم مــا ښــۀ اولیـــدل
د چــا پـــه پلـــونو پـــرېـوتـل لـــه چـــا زوول ګلونه

مـــا د غـــوټۍ لـــه دنیــاګۍ د زړه دنیـــا سهي کـــړه
چــې غــوڅـــېدل بــه ســـم د لاســـه رغـــېدل ګلونه

زه بــه هر څـو که ګـل پــه لاس د ګـل پـه کـــور ورغلـــم
پـــه ګل تنـــدي بـــه د ګل مخـــــي رژېـــدل ګلونه

نــن مــې هــغه مئـــین لیـــدۀ د زړه ګـنـــډل یــې ښـــه وو
د ګل غـــوټۍ پـــه خــولۀ یې تېـــر پـــرون تبـــل ګلونه

نثـــار وزیر بـــه یې په در کښـې خاورې نه وي څه وي
کـــه د تنـــکي دیـــدن یـــې بیـــا راټـــوکېـــدل ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نورعلي شــاه کاروان صیب

## کله کله

چې په سینه کښې ټوک راټوک شي پرهــر کلــه کلــه
چې په بــې نــازه حــسن ښــخ شــي نظــر کلــه کلــه

چې یــې ښــکاره شي پــهٔ لِمــو کښــې اثــر کلــه کلــه
چې یــې راڅـرو ب وهــي د شــونډو ساغــر کلــه کلــه

خدایګو پــهٔ ډیر څهٔ نهٔ غـوځیږي نـهٔ پـهٔ ډیـرو کیســـو
خـــو زړهٔ غوځیـــږي د بـــانو پـــهٔ خنجـــر کلــه کلــه

زهٔ د حـــــلاتو مقیّـــــد یـــــم درواج پـــــهٔ ګـــــناه
زهٔ تـــــوره کلـــه کلـــه واخلـــم سنګـــر کلــه کلــه

څـوک د قـدرت پـهٔ براق سپـور د کهکشـان پـهٔ سفـر
د چـا د بخـت پـهٔ تلـــه مـــات شـــي وزر کلــه کلــه

پـل صــراط دی مــونږ پـهٔ نیـمه کښـې ایســـار پاتې یــو
څـو بـه د لـــر نـــارې وهـــو څـــو د بـــر کلــه کلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــو خـوا شــراب د شــین کـوثر بـل خــوا لمبــې د دوزخ
بـل خـوا شي خپـل ورکښې ګـډ وړ پـهٔ ممبـر کلــه کلــه

اوس ځــونډوري هــم لـهٔ کبـره تــرې حیــاء نــهٔ کــوي
اوس چــې کاروان شــي راخــرګند پـهٔ ګــودر کلــه کلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نورخمن سپین امل خېل

## کبرجنه

څکـــه لــــوس پـــه زړه نیـــــوالای ګـــــرځوهٔ
پـــه ســـــینه کشـــې زړهٔ ګنـــــډلای ګـــــرځوهٔ

بـــې وفــا کـــه دې یقــــین روبنـــدې کیــــــژی
درپســــــــې زړګـــای ټیـــــــکلای ګرځــــوهٔ

تـــهٔ مـــې نـــه کـــوې پشــــتنه کبــــــرجنه
زه دې نـــــوم پـــــه زړه لیـــــکلای ګرځــــوهٔ

هـــر ارمـــون مې دای پـــه خـــوورې بنـــدې لـــوندې
زه سپــــــېرهٔ نصـــــیب ځیـــــتهلای ګـــــرځوهٔ

خلــک څـــه د بېـــغامې پـــهٔ خـــوب وودهٔ شــــی
زه دې غـــــــم پیـــــتاېٔ تـــــاړلای ګــــــرځوهٔ

نـــورخمـــن دې زینـــدګۍ نـــه لـــوس وینځـــلی
زه چـــې داســــــې زړه دوهــــــلای ګرځـــــوهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نورخمان جوشي محسود

## د مینې لاس

مـزل کـه اُوکـړ وؤ خـو آخېـر منـزل تـه ورسېـدو
د بـاد پـه شـوندو مـې سـلام ؤ ګـل تـه ورسیـدو

ستـا په فـراق کښې مـې لالیـه چې شلېدلی پـروت وؤ
دا زړه پـرهر مـې اُوس هیـله ګنـډل تـه ورسیـدو

شبـګیرې شپې د انتـظار وې اخېـر تېـرې شـولې
د میـنې لاس مې د جـانان اُوربـل تـه ورسیـدو

ځکـه مـې وینـې د زړګـي د اسـوېلو سـره ځـي
د یـار د غـم لښـکر د زړه مورچـل تـه ورسیـدو

هغـه تېر ژونـد د هجـرانه پـه کلي تېـر شـو رانـه
جـوشي هیـله دا خپـل جـانان څـنګل تـه ورسیـدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيکدل وزير

## صادقه مينه

نور هيڅ نه دي د سترګې ژوند شيبې راټولوم
را ځم د يار په کلي انديښنې راټولوم

د هجر په صحرا ورپسې ګرځم در په در
زه ستا د قدم خاورې نښانې راټولوم

د هر چا زړه چې روغ ساتم ممکنه نه ده يار
يو څو زړونه پرهر پرهر ټوټې راټولوم

زما صادقه مينه او ستا حسن ستمګر
په خيال کې دې له شونډو نه مزې راټولوم

زړګې د وسوسو سره بلد ساتم نيکدل
خوبونه غزوم د هجر شپې راټولوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظام شوبي خېل

## غـــزلیزه سندره

پــه زړه ظالېـــمه یـــــوره ، غـم دې زغـــملې نـدای
سترګې مې سرې وې هرواخت ، مخ مـــې کاتــلې نـدای

اوال وي شـــــهٔ واخـــــتینه ، ریـــبور حالیـــنه رؤړل
دې مو دې خـوژ جـانـان نـــه، وې ســـره ګلیـــنه رؤړل
دې ریـبور پـشه مـوتـه شــوه، دې ګــــــرزاولې نـدای

قاسام که عـید خـؤاند روکو ، دې مینې یـور مـې نشـته
دې غـــامې زور روبـــوندې ، دې زړګـي زور مـې نشـته
دای مـې قسمت په غـم سـیر ، دې خـــــنداولې نـدای

دې عشـق توپـان ســیلي مې ، پــه ژؤانـدونـه تــېریژي
دې بېلـــتونـــهٔ ژالۍ مــــې ، وچـــه پـــه زړه واریـژي
دې ایشـکې ګاڼ بـارون مـې ، دې تــام کـــــؤلې نـدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــه پــه کیـــم مـــلو دې ، پـــه مــو دامیــنه کــړي
دې تــو غـامې مــې پـــه زړه ، ډېر پــراواریــنه کـــړي
نــه پــه دوري شــه کـــیژي ، زړه دې ګانـــډلې نـدای

دې شـــــوبی خېل نــظام ده ، خـدای دا ارمون پیـره کـو
په خپــــل واطن بـونـدې یې ، امــن سکــون پیـره کــو
هــر یو ارمون یـــې دې زړه ، دې نـــه مـــــانلې نـدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نورعالم مسید

# پربغال

راځــه چــې نــن دې بوځــم د پربغله د غـــره لمن ته

راځـه چې نـن دې بـوځم د پربــغلهٔ اوکـــړو ســیلونه
پـریغلهٔ پـه سـر بــه ګــورو ښــکلي ښــکلي منظــرونه
د تـــورو غـــرو لـــمنـــې د نـــښتـــرو ځـــــنګلونه
دي ګـېر چاپېر هــر لـورته رنګیـنئ او شــنهٔ فصـلونه
نـن ښـهٔ اوکړه سـېلونه تـرې سـبا بــه ځـو وطــن ته
راځـه چې نن دې بـوځم د پــربـغلهٔ د غــرهٔ لمــن ته

پـــربــغال یـــې د بــولي د د ټــولو غــرونو پــــیر دای
د پـیر د بـاللزیو تـر څــه حـده خپل جــاګــیر دای
قــدرت عجیبه جــوړ د نــورو غـرو منځ کې اســیر دای
سیالي یې کـوای نشي کـوهـیستان او کـه بونـــیر دای
راځــي ډېـر عــالمونه یـــې پـــه اوړي کښــې دیــدن ته
راځــه چــې نــن دې بوځــم د پریــغلهٔ د غــرهٔ لــمن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يــولــس زره شــپږ ســـوه پـــه فـــټ يـــاديږي دنـــګ
شـوئـدر غـر يې شـمال تـه او قـتمه يــې د پـــه څـنګ
قدرت يې منځ کښې ايستې يوه چينهٔ په عجب رنګ
د هسـې رنـګه يـخه لـکـه وي پـه کښـې کـرنـګ
نـور مخکښې درتـه وايـم غـوږ مې اونيـسه ګفتـن تـه
راځـه چې نـن دې بـوځـم د پـريـغلهٔ د غـرهٔ لمـن تـه

د سـر نـه يـې ښـکاريـږي لـرې لــرې وطــنونه
کـوهـاټ بـنو خـو پـرېـږده تـر کابل پـورې ملـکونه
په څوکه يې چې ناست يې،کـږه سـيلونه او سيــلونه
د هـر لـوري رادرومـې پـې سـاړهٔ ساړهٔ بـادونه
ســکون ســکون د ذهــن او دمــه د تــن بــدن تـه
راځـه چې نـن دې بـوځـم د پريغـلهٔ د غـره لمـن تـه

پريغله ته لار په کوټ او لنګرخيـل بـاندې تـيريـږي
دا دې نـه لـږ ورمخکښـې بدينزئ تـنګئ يـاديـږي
تـر منځ يې اباسين غوندې يــوه لويـه لـګډ بـهيـږي
هـم داسـې لـر و بـر نـور قـبائل دلـته اوسـيـږي
ليدلـى چې هـر چـا دى حاجت نـه لـري لنـدن تـه
راځـه چې نـن دې بـوځـم د پـريـغلهٔ د غـرهٔ لمـن تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لالـیه دلـته نـورې داسـې ډېـرې عـلاقـې دي
د نـورې عـلاقـې د غـرو لمنـې کښـې پـراتـې دي
پـه هـره عـلاقـه کښې بېلـې بېلـې قـابيلـې دي
د هـرې قـابيلـې د نـنګ غېرت چـرچې خـوارې دي
اواز د بـهادرۍ يـې رسـيدلی دې جـرمـن تـه
راځـه چـې نن دې بـوځـم د پرېـغلهٔ د غـرهٔ لمـن تـه

دي غـرهٔ کښې قسم قسم قيمتي بـوټـي مونديـږي
د ځنـې ځنـې بـوټي د شپـې زيـب کـوي بليـږي
بې شـمېره کستوري پکښې نـور ډېـر ګلان ياديـږي
خوشبو يې دومره مسته چې سـړای پـې نـه مړيـږي
شفاء يې هـر يـو بـوټی د مـرض دی هـر يـو تـن تـه
راځـه چـې نن دې بـوځم د پـرېـغلهٔ د غـرهٔ لمـن تـه

پـه دې ښـکلي وطـن زه نورعـالم چـه فـخر نـه کـړم
لالـيه راتـه وايـه نـور بـه څـه کـړم نـور بـه څـهٔ کـړم
سـتايـنه د قـلم پـه ژبـه تـل بـه د پـرېـغلهٔ کـړم
يـم څـومره بختور چـې نـن سـيلونه پکښـې زه کـړم
اباد دې هميشه وي دا مـې سوال دای لـوی څيښتن تـه
راځـه چـې نـن دې بـوځـم د پـرېغلهٔ د غـرهٔ لمـن تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نجیب ارماني

### مارګای رو والې

چې بې جانانه ژوند تیریږی ته مارګای رو والې
که خپل مې نوي پهٔ نصیب خدایه پرادای رو والې

چې پهٔ دا پوتې عُمر ایشکې وچاوهٔ دې سترګې
پهٔ داسې ژوند بوندې مې مارګ موزدیګارای رو والې

پهٔ ویشه باند شول دیدانینه ظالبمون پارې کو
خدایه پهٔ خوب شې مې باندې باندې لالای رو والې

لوس وو دې مینې نه زهٔ ووخلهٔ څنځارینه روری
بس لوستاړلای مې پهٔ کلي لیوانای رو والې

دې ډېرې شینډې نه سپېری پشتو کشکري جوړ دې
خدایه پهٔ هار مئین دې نهٔ تامې سپرلای رو والې

زهٔ نجیب ګل آرماني داغه سول کوهٔ الله ته
پهٔ راقیبونې بوندې رانځ خدایه نارای رو والې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نورسلام مسید

### پټ مخ

کــه چېــــرې روغللـــــې دې میــــــږ پــه کلـــې
دې مــــو پشـــــتنه وو راغــــــزې شـــې وکــــې
کــه مـې خـــاباره شــوې پـــه حـــال دې ژوانـــدین
ارمـــون وؤ ډېـــر پـــه اســــویلې شـــې وکـــې

کــه چېــــرې روغللـــــې دی میـــــږ پـه کلـــې
اوال ســـــالوم وؤ دې پـــــــه چـــــا وي آشــــــنا
ســالوم نـــــه بـاد وو دې وي څـــه پـــه زړه شـــې
څـــــه وؤ دې زړه شـــــې سـلسلـه وي آشــــــنا
دې مـــــو پـــه خیـال تــــه وؤ ژاړیـــږې آشــــــنا
چــې دې مــو حـــال بـــوندې خـــبرېږي آشـــــنا
پـټ مـخ سلګـی وو پـــه ټکـــــرې شــې وکـــې
ارمـــون وو ډېــر پــــه اســــویلې شـــې وکـــې

زه خـــو دې ســـام پـــه ژونـدون ســـتړایی پـــریشوۀ
لایـــلو پـه لیــــار شـــې دې نیمګـــرایی پـــریشوۀ
مـــو وېـل چـې ژونـــد وو کــــه دي تـــو پـــه تـــامه
تــو پـــه ژونــــدینیـــې لکــــــه مـــړای پـــریشوۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبــــوبې تـــــه وو هــــن ویـــــرینه کـــــوې
چـــې پــه تېـر واخت بــوندې سوچیـــنه کـــوې
رب تـــــه ژاړو وو عــــاجــــزی شــــې وکــــې
ارمــــون وو ډېـــر پـــه اســـــویلې شــــې وکـــې

محبــــوبې نـــــویې زنـــــدګې تــــه روشــــه
بـــیا دې واطـــن مـــوزدیـــګارې تـــه روشــــه
روشـــه دې مــــیژ پـــه خـــــړاکې کـــــورینه
دی میـــژ دې کلــــې و ســـپرلې تــــه روشــــه
مــــو وه پــــه کـــــور لاکا جـــــنډا وې دېـــــرته
دې مـــو دې کـــور نخشـــــه وو دا وې دېـــــرته
نـــور مـــالومات وو پــــه کوټکــــې شـــې وکـــې
ارمــــون وو ډېـــر پـــه اســـویلې شــــې وکـــې

د زغـــــبیرول اشـــــنا ســــلام دای خــــــلکه
بس د یـــو چـــاته یـــې پیــــغام دای خـــــلکه
دیــــرته پـــــه ژبــــه دې نجیـــــب وې یــــایې
دی (نـــــورســــلام ماســـید) کلام دای خـــــلکه
زغـــــبیرول چـــــې کلــــه شــاعـــــری کاومـــــه
ســــام ســــټړې اســــویلې کومــــه
کـــه لـژ نـــــظر پــــه شــــاعـــرې شـــې وکـــې
ارمــــون وو ډېـــر پـــه اســـویلې شـــې وکـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګیال وزیر

## ګډې وډې

چې د عقل په زور پوه شي
افلاطون شي سکندر شي

چې په علم لږ سینګار شي
نو حاکم په مقدر شي

چې د مینې شراب نوش کړي
بس غلام د یار د در شي

چې ناکام سره بلد شي
ستر بابا د فن هنر شي

چې دنیا نه ځان راغوند کړي
نو ملنګ شي قلندر شي

چې مادې زړه ته داخل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــــږه خـــــــاوره هـــــــم ســــــره زر شــــــي
چــــــې د وخــــت پــــــه ژبــــــه پــــــوه شــــــي
پیــــــسه دار شــــــــي مــــــوثــــــــــر شــــــي

چــــــې غــــــرور جــــــامه پــــــه ځــــــان کـــــړي
نــــــو فرغــــــون شــــــي لا بــــدتــــــر شــــــي

چــــــې لــــــږ ځــــــان ګــــــوشه نشــــــین کـــــړي
پــــــــه زهنــــــــي سکــــــــون خبــــــر شــــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیاز خان پروانه

## دا طبیب

دارد مې په راګینه کشې بايير کاوي
زړه مې په پاړه ده دې ننه ځير کاوي

نه مې کې پشتنه دې سروي ځيګر
تونډ مې شه ګرېوون سترګې مې وير کاوي

دا طبيب دې مو په دارد پېژي شه
دا طبيب علاج دې روغ رانځير کاوي

داغه دې تقدير دې قبسمات جامه وه
څوک په چا پشتنه دې تقدير کاوي

نه مې شي ياقين چې يې ويېر کړای وه
شپه رېځ مې ويرينه په تصوير کاوي

ويس دې پروانه رانګ دې کاتي نه داي
هاره شپه په تو پسې شاوګير کاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نورالله نورین

## ارمون دای

نـه مـې رادیـف نـه مـې کافیـه نـه مـې غـزل کـړه مینـه
زهٔ پـه خپـل شـعر کشـې روتهولـه پـل پـه پـل کـړه مینـه

بېخـي پـه تـو کشـې دې غـري ییـزي یـوري مـخ نـه وه
شـرینه تـو وو پـه ازغـي مـو وو پـه ګـول کـړه مینـه

وخـای چـې یـو ور والاکـاډ وم وای دې هـوی تکـای
ارمـون دای مـو وو پـه مړونـد تـو پـه مـانګول کـړه مینـه

بـې شـک شـوبې دې رو نیمګـړي کـړه څـه داس نـه وه
کـاني پـه تـول پیـره وي مېـژه یـو پـه سـل کـړه مینـه

اخـر لایلـو دې وهٔ چـې جـوړ مـې کـهٔ مئېرګـل پـه ټکـري
ویلـي چـې تـو وو هـن نورینـه پـه مئېرګـل کـړه مینـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وصال وزیري

## ګودر ټپه ټپه

سهــــــار ټپــه ټپـــــه او مـــــــازیــــګر ټپــه ټپــه
شپونکي شپلۍ په خــوله د غــره پـــــه ســـر ټپــه ټپــه

الهــــام ټپــه ټپــه شــي څـــه پـــه تـــورو شــــپو
ستـا نــوم پـه کې راټـول شــي بــس اکــــــثر ټپــه ټپــه

خمــارې ســترګې ګـــوره او شـین خــال دې شي منګې
چیــــــنار اتـــڼ شــــــي او ګــــــودر ټپــه ټپــه

ناصـــحه زه یــې نــه کــوم پــه زړه کـــې یـــې ســـاتم
والله چــې خــولې تــه خپـل راشــي دلبـــــر ټپـه ټپــه

وصـــاله لېــونۍ دې کړم چــې کـــوم طـرف تــه ځـــم
شــــــــکاځ ټپــه ټپــه دی او انځـــــــــر ټپــه ټپــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وحید ساګر محسودي

## پښتون یم

یادونه مې په زړه کښې له مودو ګرځي را ګرځي
یو څوک مې د زړګي په منارو ګرځي را ګرځي

پښتون یمه په مخ مې بې اختیاره راتلی نه شي
مړې اوښکې مې په څوکو د بانو ګرځي را ګرځي

رېښې رېښې ګرېوان پکښې ښېونه د چا غواړي
مجنون په خړو دشتو او مېرو ګرځي را ګرځي

چې رسي تر منزله د څپو په حواله شي
بېړی مې د قسمت په کنارو ګرځي را ګرځي

څه وخت او څه د یار د لېونی مینې اثر دی
ژوندون مې د وختونو په لمبو ګرځي را ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښــتنه بــه اشــنا درنــه د هــــرې يــوې خــطاء کـــړم
وختـــــونه دي د بـــــدو او د ښـــــو ګرځـي را ګرځـي

مجبور دې وم پښــتون يـم حوصـلې مـــې ماتې نــه دي
غـرور مـې لــه د غــرونو پـه ســرو ګرځـي را ګرځـي

ســــاګـــره زه د دې خلــکو مطــلب تــه نــه رســـېږم
ړونـد نـه وي خـو د بـل پــه اشـــارو ګرځـي را ګرځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وسیم شوبي خېل

## سوېې زمزمې

پـــارین مـــې بیـــا دې غمـــه ســـوېې زمزمـــې وکـــړې
پـــه چکـــه غـــوږه مـــې وژدې وژدې تـــاپې وکـــړې

خـــدای مهربـــان دای کؤنـــدې وشـــي نـــا امیـــده نـــه یـــه
وېګـــا چـــې مـــو پـــه زړه شـــې کیمـــې پایصـــالې وکـــړې

زه په تول ژوند شـې دامره زیوت چا خاپه کړای نه یـه
لکـه چـې ځرانګـې نـن تـو مـو تـه قیصـې وکـړې

هـیخ اثـار نـه کـاوي پـه کـؤنې زړینـه ومـې لیـدل
موکـه پـه پـرې زړه دیـرته ځـو ووره ګیلـې وکـړې

کـه ژونـد وه نـوم وو زه پـه خولـه دې مینـې نـه وو خلـه
تـو چـې خـابرې لنـډاکې ترخـې ترخـې وکـړې

تـه داسـی لـوړې چـې خـالي مـخ دي رو وو نـه ړووهٔ
پـه شـوبي خپـل وسـیم دې هسـې شـوګیرې وکـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یونس رخسار

## حېران شوم

روان وومــه یــو دښــته کښــې ســنګر مــې اولیــدو
پــه لار کښــې چــا وژلــی مســافر مــې اولیــدو

د خپلـې سینې زخـم رانـه هېـر شـو حـق حیـران شـوم
د جبــر پــه لمبــو ســوی پرهــر مــې اولیــدو

د چــا پــه رنــګ ســره وو هغــه دور یــې یــاد کــړو
ډېــر پــام مــې ورتــه نــه وو یــو نظــر مــې اولیــدو

یــادې زمــانې شــوې د پیرنــګ ګوتــه پــه خولــه شــوم
ناڅاپــه مــې ورخیــال شــو لــوئے لښــکر مــې اولیــدو

مــا ویــل کلــي تــه لاړ شــه چرتــه شــپه نیمــه بــه وکــړې
پښــېمان شــوم چــې د کلــي وران ګــودر مــې اولیــدو

ګــلاب ګــلاب ځــواني وي عجیــب وختونــه تېــر شــول
رخســار د زمانــــې خــــاورې پــه ســر مې اولیدو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**